# داغ په نسترن

**شعري ټولګه**

**شمائله سليمي**

## د شعر شاعره

زموږ اوســنۍ کره کتنې د یوې نوې شــاعرۍ پر شــعر او هنر خبرې په لوی لاس پېچلې کړې دي. په دې ځای کې له نوې مراد هغه شــاعرانې دي، چې پخوا یې په شعر و هنر خبرې نه وي شوې او لومړی ځل د کره کتنې له عینکو لوستونکو ته ور پېژندل کېږي. دا نیمګړتیا تر ډېره د کره کتونکو ملامتیا هم نه ده، بلکې له کومه وخته چې د شـعر پر دنیا د غزل واکمني پیل شـوې، له هماغه مهاله د شـعر کره کتنه هم پېچلې شوې ده. پخوانو تر ډېره پورې، هغه څه چې شاعري بلله، په مثنوي او قصـیده کې ځای کړې وه او ښـو شـاعرانو به د غزل تنده د قصـیدې په تشبیب کې ماتوله. پر مثنوي او قصیدې خبرې په دې ا سانه وې، چې د مو ضوع له پلوه به یې مسـلسـل خبرې لرلې او ان د مثنوي/قصـیدې عنوان هم د دې لپاره بسـندویه وو، چې یو کتاب خبرې پرې وشي. شـعر ته به نازکخیالي یا موشـګافي ورو سته راغلې وي یا به پخوا هم وه، خو چې شاعرانو د خپل شعر لپاره غزل غوره کړ، یوه لویه مسئله دا پېښه شوه، چې د غزل لباس د مسلسلو مضامینو لپاره ډېر تنګ او د خپلې ارتقا په سفر کې غزل د نامسلسلو مضامینو په یوه طبیعي مسکن بدل شو.

غزل اصــلاً د یوه شــعري روایت پر خلاف بغاوت وو، چې لومړی یې خپل ځان ته نوم یا عنوان ټاکل مردود کړل او ورپســې یې هغه خبرې چې پخوانو په یوه مثنوي او قصـیده کې کولې، یوه بیت او ان یوې مسرـې ته را لنډې کړې. پخوانو به چې پر یوه، یوه موضــوع ببله، ببله مثنوي لیکله، غزل د متنوع موضــوعاتو مثنویانې په بیتونو کې را ټولې کړې. د غزل په یوه بیت کې به که د تصـوف او عرفان رموزو ته اشاره وه، په ورپسې بیت کې به د مجازي او حقیقي عشق امتزاجي راز و نیاز بیان شـوي وو، بل به اخلاقي مواعظ وو، بل به د شـاعر د زمان و مکان پر یوې پېښــې

مرثیه وه او په پای کې به شـاعر خپل ځان بیان کړی وو. د غزل بل بغاوت دا وو، چې د یوه بل غزل امتداد یا تسـلسـل یې هم ونه پاله، په دې اسـاس د یوه او بل غزل ترمنځ د معنا، مضمون او خیال له مخې د ارض و سما واټن لازم وګرځېده.

خو د شعري روایت له بدلېدو سره زموږ کره کتونکو خپل کره کتنیز روایت ته بیاکتنه ونه کړه او د خپلې زړې او سولېدلې کره کتنې معیارونه یې ونه غورځول او خپله کره کتنه یې په دوو شـکلونو کې جاري وسـاتله. زموږ د کره کتنې لومړی تمایل دا وو، چې د یوې شـاعرې ټول تخلیق په څو بنیادي ټکو کې را ټول کړي، مثلاً رحمان بابا صوفي شاعر دی؛ حمید مومند د هندي سبک موشګاف شاعر دی؛ کاظم شیدا د هندي سـبک شـاعر دی خو عربي او فارسي کلمات ډېر کاروي، شـعر یې پېچلی دی؛ او خوشـحال خان خټک د رزم و بزم شـاعر دی. زموږ پرتلیزه کره کتنه هم په دې ډول وشوه، چې په یوه تله کې به کره کتونکي خپل شاعر کېښود او په بله تله کې به یې یو لوی او نومیالی شـاعر ورسره کېښـوده. زموږ د کره کتنې بل تمایل دا وو، چې د یوې شاعرې په انفرادیت پسې یې سترګې ونه غړولې، بلکې لویه هڅه به یې دا وه، چې یو شـاعر د یوه بل لوی شـاعر/مکتب د سـبک پیرو یا یو شـاعر د کوم بل شاعر تر تاثیر او اغېز لاندې ثابت کړي.

دغه دوه تمایلونه به په خپل ځای فني او عملي ګټې هم لري، خو عیبونه یې تر ګټو زیات دي. پکار دا وه، چې شـعري روایت ته په پام سره د یوې شـاعرې په هکله زموږ کره کتونکو له عمومي قضـاوتونو ډډه کړې وای. بله دا چې، د دوو شـاعرانو د پرتلې په ځای پکار وه، چې د دوو شـاعرانو شـعرونه او نظمونه د تلې په دوو خواوو کې ایښودل شوي او هنر، شعریت او موضوعیت یې څېړل شوی وای. مثلاً د یوه شاعر صوفیانه شاعري د بل شاعر له تصوفي او عرفاني لیدلوري سره کوم مشـابهتونه او فرقونه لري؛ د کوم شـاعر په فلسـفي شـعر کې د شـعر روح ډېر

ځپل شوی او یا کوم شاعر اخلاقي پند و نصیحتونه د واعظ د وچ تبلیغ په ژبه بیان کړي دي.

غزل پر غزل او بیت پر بیت څېړنه او سپړنه، بیا په همدې جزوي پیمانه شاعرې ته یو مقام ټاکل سره له دې چې له یوې شـاعرۍ سره د بې انصـافي مخه نیسيـ، په خوا کې یې عام لو ستونکی هم د کره کتنې عملي ګټې درک کوي او د شاعرۍ په اړه یې د عمومي ذهنیت په ځای انفرادي ذهنیت جوړېږي. زموږ عمومي قضـاوتونو حتی لویو شاعرانو ته هم ډېر زیات زیان پېښ کړ او زموږ ګومره شاعران دي، چې یوازې د عمومي قضـاوتونو له امله ګمنامه پاتې دي او څوک یې دیوان یا کلیاتو ته سر هم نه ور ایسته کوي.

د پورتني بحث په تناظر کې، زما په فکر په اوس وختونو کې چې د یوې شاعرۍ په شـعر خبرې کوو، مناسـبه لاره یې دا ده، چې د شـاعرۍ ټول تخلیق د یوې لویې تابلو په څېر په مخ کې ولرو او د هغو برخو په اړه یې قضـــاوت وکړو، چې زموږ د تنقید او کره کتنې د قلم نوک یې احاطه کړې وي. د دې یو دلیل دا دی، چې هنر پنځوونکی د هنري پنځونو پر مهال په یوه حال و شـان کې نه وي او په نتیجه کې یې هنر هم له تنوع او تلون سره مل وي.

په اوسنیو وختونو کې زموږ د شعر په نسبتاً ډاډمنه فضا کې شمایله سلیمي هغه نوم دی، چې شـعري تابلو یې له همداسې تنوع او تلون سره مل ده. په دې لیکنه کې د همدې پردېسې افغانې شاعرې د هنري او شعري تابلو ننداري ته ورځو.

زموږ د شـاعرې په شـعري تابلو کې یوه ونه، د مازدیګر او ماښـام په وربځجنه تیاره کې د بهانده سیند په څنډه هسکه غاړه ولاړه ده. په فضا کې د مازدیګر سرخي هم شته، خو د لمر ځرکونه نشته. دغې فضا په ټوله تابلو خپل سیوری غوړولی دی. تر ونې لاندې یوه ګریبان چاک، سـتم زده ځېرې، یوسـف مخي د ونې ډډ ته تکیه

وهلې ده، خواته یې مات جام پروت دی، سپینه لمنه یې په تورو داغونو لړلې ده. تر ونې څو گامه لرې یوه میناره ده، چې څو رڼېدلي څراغونه پرې ځوړند دي. دغې منارې سره یوه پرسکونه څېره په پټو سترگو د مراقبې په حال کې وینو. دا ونه په یوه دا سې ځای کې ولاړه ده، چې د بېلا بېلو مسافرو دمه ځای هم دی، د ونې په خوا کې د پلی مسافرو د پښو چاپونه زموږ دا گمان په یقین بدلوي. د تابلو په ښي لوري پاسنۍ برخه کې د مرغانو سېل له تابلو څخه د وتلو په حال کې انځور شوی، دا راته ښيي، چې دې ونې ته د لرې، لرې وطنونو او نا ا شنا زمانو سیاحتي مرغان هم راشه درشه لري. د ونې د ښکلا دوه لاملونه ډېر واضح دي، چې د هر لیدونکي سترگې ور اوړي، یو دا چې ونه خوځښت لري او منجمده او وچه نه ده، بلکې مستي او موسیقي لري. د ښکلا دوهم لامل یې د ونې څانگې دي، چې ناوې د لباس غوندې را پروت دی او ژۍ یې د فن و هنر په گوتو ښکلې شوې دي. زموږ د شاعرې د دغې شعري تابلو هر جز د یوه سمبول په توگه کارېدلی دی، هڅه کوو، د هر سمبول جاج واخلو او تر پټې معنا یې ځان ورسوو.

په تابلو کې تر ټولو لومړی زموږ توجه د یوه دردمن مرغه نغمو ته ور اوړي، چې د سوز او گداز په ژبه د خپل وطن کیسه راته کوي او د خپل وطن هغه ناویلې او ناورېدلې را ويني، چې یوازې طایرانه نظر یې د لیدو جرأت او وړتیا لري.

د دردمن مرغه هره چیغه او سانده د خپل وطن د درد او ناوخوالو یوه کیسه ده. وطن انسان ته شناخت او پېژندگلو ورکوي، انسان که هر څومره وزرې هم وکړي، خو ریښې یې په خپل وطن کې دومره ژورې خښې وي، چې بېلتون او پرېکون یې نا شونی دی، خو هغسې چې ځینې وختونه یو عا شق له خدایه د خپل معشوق ټول دردونه او غمونه د ځان لپاره غواړي، هماغسې ځینې وختونه معشوق دومره په درد

او تکلیف کې وي، چې عاشـــق یې نور د لیدو ســـینه نه لري، د وطن مرغه هم په همدې له خپل خوږ وطنه مسافر شوی دی:

ما د وطن اب و هوا په غم کې نه شوه لیدای
که له نښتر او له چناره مې سایه وه جلا

یا:

وطن دفتر شو، د غلیمانو
چنار به ژاړم، چینه به ژاړم

دردمن مرغه د خپل وطن د اوســني صــورتحال تر شــا لاملونو ته مو هم دروي او هڅه کوي، چې زموږ دا پوښتنه ځواب کړي، چې د ده وطن ولې په دې حال دی. دی د خپل وطن د ویجاړي او بربادي اســباب په یوه پراخه مذهبي-تاریخي بســتر کې ویني او د ناســـمو تعبیراتو او کرغېړنو فکرونو د پلان شـــوې طرحې پایله یې ویني:

دا کونډې رنډې جنګ جهاد او سوزېدلې درې
واړه تحفې دي د عرب او د عجم راشه

او بیا:

په زړه داغ لکه عجم یم، د مکې مفتي خبر کړئ
که تپوس مې چېرته وکړي، د حرم له منارو

خو مرغه ته چې د نورو وطنونو احوال هم رسېږي، پوښتنه ورته درېږي، چې هغوی ولې د نړۍ او پردیو د لوبو ښـــکار شـــوي نه دي. د نورو وطنونو مســـافر د ابادۍ، پرمختګ، ســـوکالۍ او هوســـاینې خبرې راوړي او په خولو یې له نورو ګیلې او له پردیو شکایتونه نه وي. مرغه د خپل وطن په حال له سره غور کوي، پام کېږي یې چې:

د شمائلې په خپګان څه کړم؟

د خپلو سترګو، باڼه به ژاړم

د ده له وطن سره نورو دومره جفا نه ده کړې، څومره چې د وطن خپلو نا اهله بچیانو یې کړې. مرغه دا عامیانه خبره په عامیانه ژبه راته کوي، خو د وطن لپاره د (جانانه) تشـــبیه په نوي طرز کې کارونې یې په خبره کې یو خوږ لذت او نوی والی زېږولی:

ودې کړه په سر باندې سودا خپلو زامنو

لاړلې وطنه یرغمال ــ شولې ـــ جانانه

د نورو وطنونو په کیســـو کې د یوه رهبر په نقش او رول بحثونه وي. وطنونه رهبر جوړوي، خو رهبر ببرته وطن ابادوي. خو دردمن مرغه په دې مشـــهوره خبره پوه دی، چې څنګه قوم وي، هماغســـې به یې رهبران وي، چې بچیان خپل وطن لیلامولی شي، نو د نورو تر لاس لاندې روزل شـــوي رهبران او د یوه پردي نســـل واکمن یې ولې ونه کړي:

راته وواېه رهبره، دا په کومه یې روان

او له چا سره دې کړې ده سودا زما د سر

د وطن د بربادي تر ټولو اســانه لاره دا ده، چې د سر ســړي او د کار ســړي یې له منځه یوســه، خو دریغه چې دا کار پردیو په خپله کړی وای، ویر او ماتم به یې کم وو، مګر دلته خو:

یو باتور د سر سړي له تېغه تېر کړل

اوس غلیم ته اودرېدلی لاس په نام دی

د ده وطن ته چې هر څوک د ابادۍ او رغونې له شعار سره ورغلی، وطن یې ټوټې، ټوټې کړی، د نفاق په لمبو یې سوځولی، د زاغانو مسکن یې ترې جوړ کړی او ترې تښتېدلی دی، مرغه له ټولو ناهیلی او زړه توری دی:

ځوک له رام او له بهودا هم، افسرده به هسې نه وي

لکه زه له خپل مسیحه، خپل لقمان ځینې ځورېږم

خو د مرغه تر ټولو لویه ناهیلي دا ده چې هېڅ څوک یې نعرې نه اوري:

دا د بې حسۍ وطن، نه اوري نعرې د چا

غر پرې راروان بویه، وکړمه شور ځومره زه

چا کړو خرخ، چا کړو گاڼه، په څه وجه څه قصور

دا زما جنت هیواد، فریاد چاته وکړم زه

زموږ د هنري تابلو پنځگره د شعر د کلاسیک او معاصر روایت پر پله ولاړه ده. د دې د شعر مضبوطه ونه له هغه سینده سرابه کېږي، چې په تابلو کې یې موږ ننداره وکړه. د دې سیند پر نورو سرچینو به وروسته هم خبرې وکړو، خو دې سیند ته یو لښتی د کلاسیکي غزل، شعري جوړښت، تخنیکونو، بدیعي صنعتونو، قافیه پرانۍ هم را پرې شوی دی، خو دا چې پنځگره د معاصر روایت په غېږه کې را لویه شوې، د شعر څانگو ته یې د پېچلو خیالاتو، باریکو مضامینو او بکرو تصویرونو څاڅکو هم لاره کړې او شعري تابلو یې اوسني نندارچي ته ډېره نامانوسه نه برېښي.

زموږ د تابلو بله ټوټه گریبان چاک افسرده عاشق دی. د عشق او عاشقي راز و نیاز، د عاشق او معشوقې حال و قال، واقعه گویي او عاشقانه رموز و اسرار د غزل یو پایمال شوی مضمون دی. د غزل او عشق ترمنځ تړاو د نوک او ورۍ غوندې کلک او نه بېلېدونکی دی. له غزل سره وار له مخه ذهن ته عشقي موضوعات

تداعي کېږي، د معشـــوقې زلفې او خدوخال، بې رخي، جفا، بې وفايي او بې اعتنايي مو سترګو ته درېږي او په مقابل کې يې جفا ديده او ستم ديده عاشق ولاړ وي. زموږ د پنځګرې غزل هم له عشقي موضوعاتو څخه مالا مال دی، خو په دې برخه کې ډېرې کمې نوې خبرې راته لري، خو همدا کمې خبرې يې هم په نوې پيرايه او ځانګړي اسـلوب او بېل قالب کې ځای کړې او خپل انفراديت يې په کې له لاسه نه دی ورکړی.

له هجر و فراقه فرياد او ماتم د غزل پخوانی مضـمون دی. په غزل کې دغه هجر که له يوې خوا د دوو مييـنانو ترمنځ بېلتون او فراق کېدلی شي، نو له بلې خوا د تصوف په نړۍ کې له حسن مطلق څخه د را جلا کېدو او د انساني اروا د اوسنۍ ناکرارۍ لپاره د صــوفيانه اســتدلال په توګه هم کارېدلی شي. عشــقيه جذبات و واردات، د هجر و فراق غم، د وصـــال تنده او تلوســـه، د معشـــوقې له وړو، وړو لاپرواييو زار، زار شکايتونه او د رقيبانو له وجوده سوځېدل که له يوې خوا د عشق او عاشقي په دنيا کې مشترکې خبرې دي، همداسې په غزل کې هم شاعرانو چې په عشـقيه موضـوعاتو قلم پورته کړی، ترمنځ يې مشـترکات دومره ډېر شـوي، چې له اولني عشـقيه غزله تر اوســه پورې له جزئياتو پرته ډېر فرق نه سره لري او يا به يې يوازې پيرايه، طرز بيان او اسلوب مختلف وي، د غزل په ډګر کې عشق او تصوف هغه دوه زاړه شرابه دي، چې شاعرانو تل هڅه کړې، چې يوازې يې بوتلونه ور نوي کړي.

عشق د انسان دروني کيف و کيفيت دی، چې د حسن او جمال لپاره يې په خپل درون کې احساسوي. دغه حسن و جمال ظاهري نقش و نګار، خدوخال و خط و خال نه دی، بلکې پر خارجي حسن د انسان د هاغه دروني کيفيت اثر و تاثير دی، چې بېرته يې عاشـق په خپل درون کې احسـاسـوي. په همدې اسـاس، عشـق له

ځانه پیلېږي او بېرته په ځان پای ته رسېږي. د عشـق دغه کیفیت په هر انسـان کې موجود وي، خو  شاعر د کیفیاتو او جذباتو په مقابل کې ډېر زیات حساس وي او همدغه حساسیت یې د شعر جامه اغوندي. عشق یوه تجربه نه ده چې زده یا ترسره شي، بلکې یو کیفیت دی چې موجود دی، ازلي دی او هر انسان ترې خپله برخه وړې ده. زموږ عاشق هم دا خبره راته کوي:

تل لکه تقدیر کا په روحونو پسې ځغاښت

عِشَق نه مسکن لري ـــ استاد او نه راهب

عشق له ټولو انساني امتیازاتو، تبعیضونو او سلیقوي چلندونو مبرا و منزه دی، عشق رنګ و نسـل، دین و مذهب، ژبه او کلتور نه پېژني. د عشـق جذبات و واردات انسان په خپل واک کې نیسي او دا ټول توپیرونه له منځه وړي نظیري نیشاپوري مینې ته د کیمیاګري په ارزښـت قایل دی، هغه چې د زړونو ماهیت او کیفیت بدلولی شي:

هیچ اکسیر به تاثیر محبت نرسد

عشق آوردم و در عشق تو ایمان کردم

زموږ  شاعره هم عشق ته د زړونو د ناروغیو او قلبي غلاظتونو د تصفیه کوونکي په سترګه ګوري، دا وایي:

عشق دارو کړل د لقمان

راته زهر ـــ او زقوم

ومو ویل چې هجر او فراق د عشـق په دنیا او د غزل په ټغر کې یو پایمال شـوی مضـمون دی، خو زموږ عاشـق سره له دې چې د فراق په لمبو کې سـوځېږي او د سمندر په  ساحل پروت ماهي غوندې وزرې وهي، ترپېږي، خو له خپلې معشوقې

ګیلې نه کوي، بلکې ټوله پړه په هجر و فراق ور اچوي او د یوه بد چا په ستـــرګه ورته ګوري:

هجره حجر ذاتیه، ړنګه هدیره دې کړم

تېغ دې شه په زړه کې ښخ، اور دې شه په ځان پورې

یو بل ځای بیا:

چې یوسف په سفر تللو، نو یعقوب کله خبر و؟

څه خبره وم **فراقه**، چې جانان مې رانه ځي

عشق د انسانانو ترمنځ یو مشترک احساس دی او د دې کیفیت مولود هم تر ډېره سره ورته وي. خپل ځان د معشــوقې په مخکې هېڅ نه ګڼل، ان تر دې چې د یار د کوڅې سپی کېدل، په عشق کې عادي خبرې ګڼل کېږي. خو زموږ عا شق سره له دې چې د ښکلیو له ښاره سره یې مخه ښه کړې:

شهر خو د ښکلیو څوک له سمې ورځې نه پرېږدي

تاته چې څوک راشي بیابانه څه به وخاندي

او بیابان ته رسېدلی دی او دا کیفیتونه له مجنونه په ارث ورته پاتې بولي:

دا بیاباني او طوفاني ځیګر ناصحه

ماته له مجنونه پاتې شوی په میراث دی

خو خپل انفرادیت، استغنا او بې اعتنایي یې له لاســه نه ده ورکړې. د امیر خسرـو دهلوي عاشق که د خپلې معشوقې تګ نه شو زغملی او د باران د تم کېدو غوښتنه یې وکړه.

می روی و گریه می آید مرا

ساعتی بنشین که باران بگذرد

خو زموږ عاشق د مینې او الفت په چارو کې هم د دنیا تقلید ته غاړه نه ږدي،

زه په الفت کې هم تقلید د دنیا نه خوښوم

دومره ایسار شه چې اشنا مې شي بارانه روان

امیر خسرو خپله معشوقه دروي، چې څو شېبې صبر ورکړه، چې د اوښکو باران تم شي، بیا ولاړه شه. امیر خسرو خپله معشوقه مخاطب کړې، خو زموږ عاشق د خطاب په انداز کې هم خپله بې اعتنایي ښودلې او د معشوقې په ځای یې له باران سره خبرې کړې دي، سره له دې چې د اوښکو دا باران به د اشنا له تلو وروسته بیا هم را ورېږي.

د دغې بې اعتنایي یوې بلې صحنې ته به هم شو. امرو القیس د خپلې معشوقې د کور له مخې تېرېږي، خپلو ملګرو ته په ډېره دردمنه ژبه وایي، «اې ملګرو، تم شئ، تم شئ، د جانان کور دی، څو اوښکې به توی کړو، بیا به لاره لنډوو.» خو اوس به د خپل عا شق نندارہ وکړو، په لاره کې تېرېږي، سره له دې چې قصداً یې د ځان لپاره هغه لاره غوره کړې چې د یار کور یې مخې ته راځي، خو:

په منزلونو دې تېرېږم خو تا نه خبروم

تر شا راګورم فنا کېږم خو تا نه خبروم

د عاشق د نندارې پر مهال مو څو ځله د لارې مسافر مخې ته راغلل. دا هغه مسافر دي، چې د ونې سیورې ته خپله دمه جوړوي او د عا شق او صوفي کیف و حال ته ګوري. دا مسافر د یوه وطن، د یوې ریښې او یوه حال خلک نه دي. دوی له بېلا بېلو فکرونو، نظریو او عقیدو سره راځي او له دردمن مرغه، عاشق او صوفي سره د خپل زړه غوټې هم سپړي او یا د درې واړو په خبرو خپل زړه ته سکون هم ورښښي.

د دې ونې سیوري ته ډېرى مسافر له یوه لرې وطنه راغلي خلک وي، چې د نا اشنا دردمنو کیســو یوه پنډه ورسره وي او د خپل وطن کیســې راته کوي؛ راځئ په دې ځاى کې د همداسې مسافر له خولې ځینو دردونو ته غوږ شو:

چور تالان په وطن ګډ دى، عقیدې پکې خرڅېږي

لاله زار زما د تمې، شو مسیر د ریبدون څنګه

صوفي نور له مراقبې راوتلى دى، د مسافر په خبرو کې دومره ویر او ماتم ګډ دى، چې عرش ورسره لړزېږي. د مسافر سترګې له اوښکو ډکې دي، غږ یې رېږد نیولى، د خپلې بې وسۍ انځور زموږ مخې ته ږدي:

له لوړې نه مو خرڅې کړې ګردې د خپل وجود

دنیا په ــ موږ ونکړې کومې ــ کومې نظارې

د لرې وطن مسافر د عاشق او صوفي سترګو ته ځیر دى، پوهېږي، چې د دې ټولو بدبختیو او ناخوالو علت را نه غواړي. مســـافر له خپل لیدلوري د خپل وطن د بدبختیو علت په دې کېویني چې:

هر خواه کرکه ده کینه ده ـ او تبعیض دى شمائلې

په هر لور په هره لاره، لکه جل عذاب په سر وړم

بیا زیاتوي:

کاروان مې د وطن په نورو نورو دى روان

ساروان یې له دښمن سره نیولي اِجارې

مســـافر ته خپل تېر تاریخ هم ســـترګو ته درېږي، غواړي خپل تېر برم و پرتم د صـــوفي او عاشـــق مخې ته ودروي، خو دا خبره په داســـې اندازه ورته کوي، چې ملتونه په تاریخونو نه ابادېږي، او بیا که خپل تاریخ ته نظر ورکړي، هم څه چاره کېدلى شي، مګر دلته خو:

د پاني پت تاريخ هم نه ګوري څوک نه وايي څوک
د افغانيت هم د ټکي حيثيت پاتې نه شو

شــپه وروســته دوه نور مســافر د ونې ډډ ته را رســېږي. له يوه سره په لاس کې د شرابو بوتل دی، په شــونډو يې نری، نری مســکا ده. خو بل په ســپينو جامو کې نغښــتی دی، پايڅې يې تر اندازې ډېرې ور پورته دي، په سر يې ســپين پړونی را پروت دی، له څېرې يې د غوسـې او خفګان اثار له ورايه برېښــي. سـپين کالي د شرابو په حرمت بحث روان کړی دی، بيا بيا يې له خولې لاحول ولاقوة وځي، خو رند چې د معرفت په شرابو کې خمار، خمار دی، د عاشــق، صــوفي او د وطن د مسافر په مخکې ملا ته مخ ور اړوي او ورته وايي:

هر سړی ضامن د خپل عمل دی ته يې څه کوې
شيخه ناکام مه کوه ـ په تا يې تاوان نه راځي

ســـپين کالی دليل ته خوله جوړوي، خو رند د خبرې وار نه ورکوي، دا ځل يې د ظاهر او باطن ترمنځ منافقت ته اشاره کوي:

هسې دې ځان کړ په رنګونو کې رنګ
د جان تلبيس د شيخ چِله کې ته وې

دا ځل سـپين کالی د خبرو وار ترې نيسي ـ، خپل وعظ پيلوي، د دوزخونو او جنتونو کيسې ورته کوي، د خپل سليقوي بردا شت له مخې د حلال او حرام مسايل ورته بيانوي، رند يې له خبرو بېزاره کېږي، ګوتې غوږونو کې ږدي او په چيغه وايي:

څوک يې چې د وعظ له لاسه خوب کولی نشي
دومره دې ذاهد آزاري نشي نشي نشي

مســافر چې مخکې يوازې خپله مشــاهده بيان کړې وه، د رند خبرې يې ځينو نورو ټکو ته هم ور پام کوي، د خپل وطن د جنګونو او جګړو داســتانونه يې ســترګو ته

درېږي، د دې ټولو ناخوالو تر شا ا صلي څېره يې مخې ته درېږي، سپين کالي ته مخ ور اړوي:

پيراهن دې نبوي او پېشه دې جاسوسي

خدای دې لا درکي برى، خدای دې لا درکي عبور

خو رند ځان په کوم وطن پورې تړلی نه ګڼي، رند ازادي غواړي، ديني ازادي، فکري ازادي، د عقيدې ازادي، د خبرو ازادي، يو ځل بيا ســپين کالی ځان ته متوجه کوي:

عقيده د خلکو څنګه او حوليه د خلکو څنګه

په دې کار د ملا نشته، خوله دې نه پيايي بې ځايه

د رند په دې تونده خبره صــوفي اشــاره ورته کوي، چې له خبرو سره پام پکار دی، خو رند ورته په خپل ځانګړي طرز کې يو ځل بيا وايي چې **په ولا که مې خوښېږې په واعظ په ناصح نقد؛** خو د ناصحانو تنګ نظري دومره ډېره شوې ده، چې:

د دين د وارثانو نظر دومره شو حبسي

د کفر علامت ګڼي موسم د نوبهار

په تابلو کې د نويو، نويو او نا شنا مسافرو تله راتله مو نويو تجربو، نويو خبرو او نويو انځورونو ته دروي. رند او سپين کالی سره له دې چې يو بل سره يې فکر او عقيده ټکر لري، خو هغسې چې ګډ راغلي وو، ګډ روان شي. صوفي او عا شق بيا يوازې پاتې شي، صوفي مراقبې ته، عا شق خپلو غمو ته! شېبه ورو سته په شنه پرده کې پټه يوه ښځه له پوخ عمر سړي سره را ښکاره شوه. ونې ته چې را ورسېدل، سړي عاشـق او صـوفي ته سـلام وکړ، ځان يې د ونې ډډې ته برابر کړ، خو ښـځه يې د لاس په اشاره لرې کېنوله، ان سيورى هم پوره نه ور رسېده. سړی له دمې وروسته په خپل پټو ودرېده، لمونځ يې پيل کړ، صـوفي او عاشـق ځان سره وخندل. عا شق

له فرصته ګټه واخیسته، د ښځې خواته ورغی، ورته یې وویل، څوک یې؟ ښځې د غم او ګداز په دردمن اواز وویل:

کل اثاثې مې ــ لا وارثه شولې

ماته یتیمه ــ د وانۀ وایي څوک

عاشق ترې وپوښتل د کوم وطن یې؟ ویل یې د یوه داسې وطن یم چې هلته:

ابرو ساتل د لوپټې د عظمت بېله بلا

د ښار کم ظرفو لره سوال او منت بل اذیت

ښځې خپله وروستۍ خبره چې:

د شمائلې د وطن - په اور کې

د پښتنو پېغلو ــ سایې ولیکه

پوره کړې نه وه، چې سري یې لمونځ وکړ، عا شق ته یې بد، بد وکتل. ښځه یې له لاسه ونیوله، په زوره یې ځان سره کش کړه او روان شو. عاشق او صوفي حیران، حیران کتل.

په تابلو کې چې د عاشــق او صــوفي څېرو ته له نږدې ځیر شــو، دواړه ډېر زیات شباهتونه لري، تر ډېره پورې د دوو هم شکله غبرګونو وروڼو ګمان پرې کېږي. کله کله خو انسان داسې تصور کوي، چې دواړه به یو تن وي، خو چې لیدونکی د ونې ډډ ته ګوري، عاشق به یې تر سترګو ورځي او چې د سیند غاړې ته سترګې غړوي، هماغه عاشق به د مراقبې په بڼه ویني.

خو له پورتنۍ پېښې وروسته چې د عا شق او صوفي ترمنځ د خبرو لړۍ پیلېږي، د انسان یاد ګمان ناسم خېژي او دوه کسان د خبرو په حال کې ور ترسترګو کېږي. صــوفي، عاشــق ته وایي چې زما او ســتا ترمنځ ډېر توپیر نشــته، ته هم د خپلې

معشـوقې سره د وصـال په انتظار يې، زه هم سـتا په څېر خپل يار ته د رسـېدو په انتظار ناست يم او:

نه مو استانه شوه نه ترې ووتو بېرون

ستا د محبت په سوچ کې ناست يو سرنګون

صوفي زياتوي چې شراب ته هم څښې، موږ يې هم څښو، خو زموږ شراب موږ ته حلال دي، تاته حرام دي. ته هم په خپل رنځ و غم په پای کې د خپل يار ځرکونه وينې، زه هم ستا په څېر:

رنځ و غم د خپل منزل کې عجيبه مسيحا وينم

ستا د زلفو په تيارو کې خدوخال د رڼا وينم

ستا معشوقه په يوه جسم او يوه وجود کې بنده پاتې ده، خو زه خپل يار په هر مخ کې ليدی شم، په هر څه کې يې ليدی شم، زما جانان په هر څه کې پټ دی، خو په هر څه کې ښکاره هم دی.

مخ يې ضم شو زما زړه کې، اوس پرې نه پوهېږم زه

اوس يې وينم په هر څه کې، اوس پرې نه پوهېږم زه

عاشق ترې پوښتنه کوي، چې آيا زما په څېره کې هم د خپل يار ديدار کولی شې. صـوفي په ځواب کې ورته وايي چې هغسـې چې ځينې وختونه سـتا معشـوقه درنه خفه کېږي، خپل ديدن نه درکوي او په شـــته دنيا کې قيامت دربانديې جوړوي، همدغسې په ما هم ځينې وختونه د «قبض» حالت راځي:

اوس له هغه ښاره هيڅ خبر د جانان نه راځي

غږ تربنه د مينې د نغمې او آذان نه راځي

عاشـــق د صــوفي په خبرو نيوکه کوي، چې ته خدای يادوې، خو خدای جانان نه دی، په هر مخ او هر څه کې د خدای حضور نشته. صوفي په خوږه خندا عاشق ته

وایي، چې د همدې خبرو له لاسه له ټولې نړۍ را بېل شوی یم. ملا او شیخ موږ ته د خدای یو داسې تصور راکوي، چې له حقیقي ذات سره یې شباهت نشته. عاشق یې خبره نیسيـ، چې آیا ته خدای تر عالم او ملا ډېر پېژنې؟ صوفي ورته وایي:

چې مدام د زړه په سترګو تماشې د کوم معراج کړم

نه دې غوث، نه دې بهلول، نه دې ملا لیدلی دی

عاشق وروستۍ پوښتنه ترې کوي، چې ستا خدای څنګه دی؟ صوفي لومړی ځواب نه ورکوي، خو د عاشق له ډېر ټینګار وروسته، ورته وایي:

زما په نزد دی خدای اویا رقمه

دنیا فکرونه د اِلحاد کوي

د دې تابلو بله تر ټولو څرګنده او واضحه برخه له مایوسي او ناهیلي را جوړه فضا ده. زموږ د شعري تابلو شاوخوا په ټولو غزلونو دغې مایو سۍ خپل سیوری غوړولی دی، په تېره د هر غزل په دروازه (مطلع) کې ارومرو د مایوسۍ یوه درنه څپه پر موږ لګېږي، چې اغېز یې د غزل تر پایه راسره وي او ډېری وختونه خو چې د غزل له بلې څنډې (مقطع) وځو هم، یوه بله درنه څپه مو هم د نا امیدۍ کندې ته ور ټېل وهي. دغه دوه بیتونه یې زموږ ټوله ادعا په ثبوت رسوي:

الهام مې تش له کربه بل تصویر نه جوړوي

شیندلی مې قاضیانو دی غزل په تاخانو

او په بل کې:

مایوسي راته ولاړه، لکه لاش په هر منظر

یا مې لار ده خطا کړې، یا یې راغلم پر تلین

د ونې په خوا کې په بهانده سیند مو پورته هم څو ځله خبرې وکړې. زموږ د شعري تابلو ونه له همدې سینده سیرابه او خړوبه ده. د دې سیند سرچینې که له یوې خوا تنوع او ګڼوڼ لري، نو له بلې خوا سرچینې یې غني هم دي. دغه ســیند ته د ګنګا او جمنا نرۍ، نرۍ ویالې هم را ماتې دي، له همدې امله زموږ ونه کې که له یوې خوا د هندي فلســفې او فکر ځینې پټې نښــانې لیدل کېږي، نو له بلې خوا یې د الفاظو په څېره کې ظاهري اړخونه هم وینو او د ګورکهـــ دند، جیون، آنګن، ګایل او ملن کلماتو له استعمال سره مخ کېږو.

دې ســیند ته د نیل ســیند د غني تمدن او د یوه لوی دیني متن زورورې څپې هم لیدل کېږي. ګومان کوم، چې د تابلو پنځګره د ګڼو ادیانو په خوا کې د څلورو الهامي مذاهبو مطالعه هم لري. د دې ټولو په خوا کې له شیراز او اصفهانه، بیا د یونان تر فلسفو پورې بېلا بېلو سرچینو زموږ د تابلو سیند ته معنوي ښکلا او ژوروالی ور بښلی دی.

د تابلو یوه بله برخه چې تر ټولو ډېره بارزه او جوته ده، خو لا مو ډېرې کمې خبرې پرې کړې دي، د سیند په غاړه ګوره او مضبوطه ونه ده. ونه په اصل کې د شعر د ظاهري جوړښت یا هندسې لپاره د یو سیمبول په توګه کارولی شو.

دا ونه سره له دې چې په یوه خوږ او نرم آهنګ زنګېږي او کله نا کله یې آهنګ په شور او مستي هم راځي، خو ځینې ښاخونه یې دا سې دي، لکه په یو بل کې سره نښتي وي او د نرم او مست اهنګ هوا ته د دې اجازه نه ورکوي، چې ویې شرنګوي او د ونې د عمومي ښکلا د زیاتوالي سبب وګرځي. په دې معنا چې زموږ شاعرې سره له دې چې د شــعر عمومي ریتم او آهنګ ته خاصــه توجه کړې او د دې کار لپاره یې د ترصیع، سجع او تجنیس په څېر ګڼو صنعتونو ته هم لاس اچولی دی،

خو داخلي موسيقي يې په ډېرو ځايونو کې ترې ټکنۍ شوې او د بيتونو ښاخونه يې يو بل سره پيوند شوي دي.

د ونې تر موسيقي او آهنګ را وروسته، زموږ د شعر ونه سره له دې چې له ګڼو اړخونو مضبوطه ده او د ډېر نقادانو د توپان مقابله به وکولی شي، خو د بشري او نړيوالې عاطفې هغه نازکوالی او لطافت نه لري، چې د نقادانو غوڅوونکي قلمونه يې هم نه شي غوڅولی. زموږ په تابلو کې ژوره مايوسي او د غم او نا امېدۍ سيوری را خور دی، خو دغه مايوسي او نااميدي دومره شخصي او منحصر بفرد ده، چې بل بشر په ځان کې نه ور ځايوي او لوستونکی ترې ځان ځينو ځايونو کې بېل او جلا او ان په ځينو ځايونو کې مستغني ګڼي. خو دا خبره د پنځګرې د ټولې تابلو په هکله هم نه شو کولی، په دې چې د شاعر ونه له عادي ونو سره ګڼ فرقونه هم لري. هغسې چې په يوه ونه څلور موسمونه راځي، و دې شي، چې د پنځګر په ونه تر څلورو ډېر مختلف او متنوع موسمونه راشي او د ونې کيفيت له تنوع او تلون سره مخ کړي. پر دې ونې داسې وخت هم راځي، چې خپل زرغونوالی له لاسه ورکوي، پاڼې يې رژېږي او شنډه پاتې کېږي. زموږ د پنځګرې په شعر کې هم له ځينو وچو خبرو، تکراري عاطفي انځورونو او شنډو احساساتو سره مخ کېږو. خو دا ټکی دا هم راته ښيي، چې شاعر سره له دې چې يو هنرمند دی، يو انسان هم دی.

د دې ونې د شعري او هنري ښکلا يو سبب هغسې چې پورته وويل شوو، بديعي صنعتونه هم دي. بديعي صنعتونه د ونې (شعر) ګلونه دي. خو بديعي صنعتونه په هر حال کې صنعتونه يا لاسي توليدات دي، طبيعي نه دي. دا صنعتونه چې لومړنيو شاعرانو وکارول، طبيعي وو. خو چې شعر پوهانو د پخوانيو شاعرانو له شعرونو څخه دغه صنعتونه استنباط او استقرا کړل، نو نويو شاعرانو لاسي هڅه هم وکړه، چې

دغه صــنعتونه په خپلو شــعرونو کې وکاروي. خو بدیعي صــنعتونه که په شــعر کې طبیعي رانه شي، د شعر په نفس مضمون او خیال کې رول ونه لري، داسې به وي لکه په عیســـوي کلتور کې چې د کریســـمس لپاره یوه طبیعي ونه په مصـــنوعي څراغونو سینګار شي، چې له دې سره د ونې خپله طبیعي ښکلا هم ورکېږي او له مصنوعي څراغونو خو هغسې هم څوک حظ و لذت نه شي وړلی. د همدې صنعتونو په ټس کې یو ډېر زیات کارېدلی صــنعت هغه دی، چې تلمیحاتي مرغان یې له ځان سره راوړي. خو کله نا کله په شـعر کې د تلمیحاتي مرغانو شـور دومره ډېر او ګڼه ګوڼه دومره زیاته شي، چې د تابلو تماشـاچي نه د شـعر لذت حس کولی شي، نه یې د شعر نفس مضمون ته سترګې ور اوړي. دغه مرغان سره له دې چې ځینې وختونه د نندارچي ســـترګې او غوږونه د تابلو له عمومي لذته محرومومي، خو همدا تلمیحاتي مرغان بیا د لرې لرې وطنونو، نا آشنا زمانو، اسطوروي پېرونو کیسې او افسـانې هم راته بیانوي او په خوا کې یې د شـاعرې د مطالعې وسـعت، د فکر ژورتیا، د خیال لوړتیا، د لاشعور بې پایه سمندر ته د ور کوزېدو او مرغلرو را ویستو وړتیا ته هم اشاره کوي. خو دا د تلمیحاتي مرغانو خپلې ذاتي ځانګړنې هم دي، د شاعر کمال دا وي، چې له دې مرغانو څه ډول استفاده کوي. زموږ په تابلو کې تر ډېره پورې د یوې تلمیح لپاره هغومره پراخه او ارت بستر نه وي چمتو شوی، څومره چې د هغې تلمیح لپاره لازم وي او یا یې کارونه د شـعر په هنریت او شـعریت کې زیاتونه کولی شي.

د دې ونې یو بل خا صیت چې پورته هم یوه لنډه ا شاره ورته و شوه، دا دی، چې دا ونه د کلاســیک او معاصر روایت په ترکیبي بڼ کې ولاړه ده، خو د پنځګرې کمال دا دی، چې نه یې د کلاسیک روایت خبرې هغسې تکرار کړې، چې عموما د ځینو

شاعرانو تمایل وي، نه یې معاصر روایت ته دومره غاړه ایښـي، چې خپل انفرادیت په کې له لاسه ورکړي.
ممکن وروســـتۍ ځانګړنه چې یوازې یوه یادونه به یې بې ګټې نه وي، د ونې د څانګو مردف سرونه دي، چې ګڼې نوې ښــکلاوې لري. د تابلو پنځګرې ګڼ نوي او شاعرانه ردیفونه پنځولي دي. نوی ردیف عموما د یوه نوي فعلي ترکیب راوړل نه وي، بلکې نوی ردیف هغه دی، چې په خپله هر ځل د ردیف تکرار یوه نوې معنا، نوی مضمون، نوی خیال وزېږوي. د شمایلې په شعر کې ګڼ ردیفونه دا خاصیت لري:

واخیستم د ژوند خړو سیندونو لکه رېګ

عمر مې تویېږي له لاسونو لکه رېګ

تر دې ځایه پورې مو شـــاوخوا د تابلو په ټولو برخو خبرې وکړې او د تابلو څومره برخه چې زما د فکر و قلم په غېږه کې ځایېدله، ځای مو کړه. خو اوس یو څو وروستۍ خبرې:

- زما په نظر کره کتنه به د دې لپاره هم کېږي، چې پنځګر هم خپلو محاسنو او معایبو ته متوجه کړي، خو اصلاً کره کتنه د عام لوسـتونکي لپاره وي، چې د ذوق په لوړېدو کې ورسره مرســـته وکړي. په دې کره کتنه کې تر ډېره پورې هڅه شـــوې، چې دا دواړه ټکي په پام کې ونیول شي او د انصـــاف تله ونه غورځول شي. خو د کره کتنې اصـــلي هدف چې د یوه اثر کره یا ناکره معلوم کړي، نو زما په اند د هنري او ادبي اثارو د کره کتنې په اړه اوسـنی تصـور دا دی، چې له شـــعر و هنر نه هر څوک د خپل فهم او ذوق په اندازه درک او برداشت کوي. په دې لیکنه کې د آغلې شمایلې د شعر په اړه هره خبره زما د فهم او ذوق نتیجه ده، د نورو کره کتونکو نظر دې وشي، چې زما نظر تائید

کـــړي یـــا یـــې لـــه یـــوې مـــخـــې رد کـــړي.

د بیدل خبره: هر کس اینجا از مقام و حال خود گوید خبر

- د آغلې شمایلې شعري ونه سره له دې چې د یوه غني او شتمن سیند په غاړه کې را لویه شوې او روزل شوې ده، خو دغه بهانده او مست یې سیند له ځینو اړخونو د یوې وچې صحرا حیثیت خپل کړی دی.
- لومړنۍ خبره دا ده، چې د شـمایلې شـعر د فکر له شـدید قحط سره مخ دی. عموماً د یوه شـاعر شـاعري په دوو حالتونو کې د حسـنِ قبول درجه ترلاسـه کوي. یو دا چې شـاعر د یوه منظم او سـیسـتماتیک فکر خاوند وي او خپل ټول هنر د همدې فکر قرباني کړي. که یو ځل یاد فکر د شـاعر په ولس کې عام شو، نو بیا په هغه قوم کې د شاعر مقبولیت کوم منزلِ بعید نه دی. او بیا چې د شاعر شاعري له ګڼو اړخونو شعري معایب هم ولري، څه یا څوک یې د مقبولیت مخه نه شي نیولی. دوهم دا چې د یوه شـاعر شـاعري د بشرـي عواطفو اسـتازولي وکړي، شـاعر که ټول بشرـ نه وي، نو لږ تر لږه خپل ولس باید د خپل هنر په لمنه کې ور ونغاړي. له عاطفې ډکې خبرې هم عموما د متلونو په څېر د خلکو په خولو جاري کېږي او شـــاعر ته یو مناســـب مقام وربښلی شي.
- دوهمه خبره دا ده، چې د آغلې شمایلې شاعري د عوامو له فهم ډېره لوړه او د خواصو لپاره د کړې شاعري کمیت او کیفیت یې کم دي. خواص عموماً په شــعر کې پېچلتیا ته نه ګوري، نه هم دا ګوري چې شــاعر له څو ژبو سره بلد دی او په خپل شــعر کې یې د کومو ژبو کلمات کارولي دي، د یوه شــعر دا اړخونه به ژبپوهانو ته مهم وي، خو ادبپوهان عموماً د شــعر د کیفیت لپاره

نورې تلې او پيمانې لري، چې د اغلې شمايلې شعر له ځينو اړخونو د خوا صو په تول نه دی برابر.

- دريمه خبره دا ده، چې د آغلې شمايلې شاعري ترکيبي شاعري ده، تحليلي يا د خيال بندي شاعري نه ده. زموږ شاعرې تر ډېره بريده پېچلې خبرې له يو بل سره ترکيب کړي دي. د خيال او تخيل برخه يې کمزورې ده. همدا سبب دی، چې د دې زياتره شاعري وچه او د بشرـي او نړيوالو عواطفو لمدوالی لا نه دی ور رسـېدلی. شـاعر که له خپل ذات نه پورته نه شي او خپل هنر د بشري عواطفو په خلاصه صندوقچه بدل نه کړي، نشته ډېر امکان چې لويه شاعري دې وکړي. د آغلې سليمي شاعري تر ډېره پورې د ځان بيان، د خپل منحصرـ بفرد درون اظهار او تعريف دی. د دې په شـعرونو کې شـمايله خو لټولی شـو، مگر بشرـ ډېر کم په کې تر سـترگو کېږي. له دې اړخه لا نه برېښي، چې د شمايلې شاعري دې تلپاتې شاعري شي.

د دې ټولو نکتو په خوا کې د لويې هيله مندي سـبب دا دی، چې د غالب په قول زموږ شاعره له ځان سره د «صحرای سخن» د خضروي امسا له خدايي او طبيعي ډالۍ برخمنه ده، چې د خپلې هنري تابلو سـيند ته پرې د آب حيات يو لښـتی را پرې کولی او خپل شعر ته عمر جاويدان ور ښښلی شي.

رحمت شاه فراز

تبوک، سعودي عربستان

د فبروري، ۲۸مه، ۲۰۲۴ز

## د شاعرۍ په اصطلاح نظمونه

د ګویټه په قول، پوهه د ایرو (خاکستر) په څېر ده. خو د ژوند ونه شنه او تازه ده. په منطقي لحاظ شعر د هنري بیان د ځلا یو عمده هنري بیان دی چې د هغو غوره شاخص د تخیل له پلوه تعابیر او او له بله پلوه د هنري عاطفې را پورته کیدنه او فواره ده. ارسطو شعر ته مخیل کلام وایي او د هغه معیارونه عمده توګه وزن او قافیه نه یادوي. په شعر کې د شاعر ځانګړی لید، چې له عادي لید څخه توپیر لري، چې هماغه د پندار او یا انګیرلو د ځواك پورې اړه لري او اهمیت لري. وایي چې یو کلیوال ښار ته راغی او په هر ځای کې یې د شاعر یادونې، د شاعر مجسمه، او د شاعر نوم ولیده او بالاخره شاعر یې مانښام مهال له ښاره بهر ولیده، نو له هغه یې پوښتنه وکړه : "څه سبب دی چې دومره مشهور شوی یې؟" شاعر سپوږمۍ یا هلال ته اشاره وکړه، ورته ویې ویل: هغه وینې؟

کلیوال وویل: نه.

شاعر وویل: اوس دې سترګې پټې کړه او ووایه: ایا هغه وینې؟

کلیوال وویل: نه.

شاعر وویل: خو کله چې زه سترګې پټوم، نو هلال لکه څنګه چې دی، له هغه یې ډېره ښکلې وینم. "دا یو شاعرانه مثال دی. تخیل تل یو ډېر ښکلی واقعیت نه دی او هغه هم د شاعر خاصه او ځانګړتیا نه ده، بلکې دا مسئله د شاعر ځانګړی لید مطرح کوي او له دې امله بده نه ده، نو که دا ځانګړی او خاص لید له هغه شاعرانه بیان سره یو ځای نه شي، نو ګټه نه کوي. نو د خیال انګیزه او خیال ور بیان د لرلو لپاره او له عاطفې ډك شاعرانه او د شاعر له ځانګړي لید ځانګړې ارواپوهنه لازمه ده، چې له شکه پرته له لیرې حساسیت سره یو ځای ده. هغه څه چې د شاعر د هڅو اوکړاو سرچینه ده.

یو ډول والی او یو رنګ والی د شعر په تعریف کې سمه نه ده. دا خبره چې وايي له دويمې نړيوالې جګړې څخه وروسته شعر د لوړ شعري جوهر لرونکی دي. د تاءمل او د زيات بحث وړ دی. مارکس يادونه کوي چې پانګوالي نظام شعر نه خوښوي. دا سمه ده، خو زموږ په دوران کې د پانګوالې په عامل سربېره د انقلاب او اوښتونونو عامل هم چې د شعر پرستش کوي، اغيز لري. زموږ په دوران کې د دې شك نه شته چې یو خوټيدونکي او له جوشه ډک حرکت په شعر کې موجود دی. زموږ دوران د علمي، فني، هنري او ټولنيزې خبرتيا دوران دی. د نن شاعر په ډيره بيداره او له پوهاوي ډکه فضا کې شعر وايي.

هغه څه چې شعري جوهر نوميږي شاعرانه ليد مخيل بيان قوي عاطفه ده که د تفکر له جوړښتونو سره یو ځای شي، کولی شي شخص ستاينې ته را وبولي.

په اوسني زمان کې د کلاسيك شعر هغه بنسټونه چې د ساتنې وړ دي، دوې برخې دي. یو د شعر وزن او قافيه ده او بل د موضوعاتو ساتنه او دوام. او په اوسني شعر کې د کلاسيك شعربنې يا اشکال دي. البته د وزن او قافيي په باره کې مسئله حل شوې بريښي. په دې مانا چې د نن ورځې په شعر کې حتمي عنصر او ځانګړنه نه ده، خو د موزون کلام له خوند نه هم سترګې نه شي پټيدای.

په دويمه برخه کې د طبعيت توصيف او يا د کلاسيك شعر توصيف دا سمه ده چې بېځايه تکرار او يا د زړو اشکالو تکرار، زړې مفکورې موږ ته څه نه را کوي، خو که دا تصويرونه په نوي ډول او نوې بڼه وي، نو بيا خو خوندوره ده. په دې اساس د نويو شاعرانو هڅې چې غزل، مثنوي او نوي قطعات وړاندې کوي، که په هغه کې د زمان روح غځونې وکړي، نو بېځايه هڅه نه ده.

دلته خبره څه ده؟ خبره په هنري تفکر کې ده. هيګل په هنر کې په هنري هيجان ټينګار کوي چې وکړای شي، د هنري بيان ځانګړنه ولري. هغه څه چې د هنري

موضوعاتو او له هغې جملې له شعر څخه غوښتنه کيږي، نو سنت ته پاملرنه يا نوښتي خلاقيت په تجريدي او مطلق شوې بڼه د کار اساس نه دی او د محتوا اهميت ځاې نه نيسي. سره له دې چې د شکلي ځلا او موضوعاتي جريانونو ترمنځ يو تناسب موجود دی چې کله هم د شاعر د ناخبرۍ شعور نه راپورته کيږي.

نو اوس چې کله د شمايلې نظمونو ته راځو چې زياتره يې په کلاسيك فورم کې هست کړي دي.

البته شاعرې ځينو شعرونو ته د نظمونو نوم ورکړی دی، خو زما په نظر هغه نظمونه نه، بلکې تمام عيار شعرونه او له لوړ تخيل څخه برخمن دي.

دلته اړينه ده لږ څه د شعر او نظم په توپير وپوهيږو.

شعر په عربي ژبه کې پوهېدل او احساس کول دي، په اصطلاحي مانا هغه کلام دی چې مرتب وي، معنوي، موزون وي، خيالور وي چې په هغه کې مفکوره احساس او عواطف د شاعر د کلماتو په قالب کې په ښکلې توګه بيانيږي.

د ارسطو په وينا، هغه اغيزمن او مخيله خبره ده چې په زړه کې شور راپورته کوي او د غم او يا د خوښې حالت د انسان په دننه کې ايجادوي، خو نظم په لغت کې يعنې د کليماتو پيل او په اصطلاح کې هغه موزون او مقفی کلام دی، سره له دې چې کيدای شي د احساس او عواطفو او تخيل بيانوونکي نه وي.

په دې اساس هر شعر نظم نه دی او هر نظم شعر نه دی. ارسطو هغه څوک و چې د موزون کلام او خيالهور کلام او هغه کلام چې يوازې وزن لري، توپير کوي او دويم ډول يې په شعر کې نه شميري.

اوس راځو د شاعر د کلام بېلګو ته:

شاعر غزل هستوي، خو غزل يې نوی او د دې زمانې ځانګړنې لري. غزل يې د شاعر د دروني حالت هېنداره ګرځي، داسې هېنداره چې د هغې ارواييي کړاو، ستونزې

د ژوند ناخوالي، جداوالي د خپل ماشومتوب د دوران ياد ته راوړل، ټول او ټول يې مادي او فيزيکي تجسم پيدا کوي او د کليماتو په څښتو د شعر دنګه ماڼۍ جوړوي. پاتې دې نه وي چې ځای ځای خپل درد د اساطيرو په اوړو هم باروي او هغو ته بياځلي تجسم ورکوي، لکه لاندې غزل:

**په تحقير زما د ذات**

داسې عشق غواړي زما د جانان ورکه

لکه غواړي حزقي ايل د لبنان ورکه

شوه له مانه استانه د ريحان ورکه

پسې ګرځم په زمين او اسمان ورکه

په ځيګر دې اواره شومه جان ورکه

ما راونغاړه زما په ارمان ورکه

په پورته ابياتو کې حزقي ايل نبي د لبنان ورکې ته اشاره ده، دا استعاره په پښتو ادب کې تر اوسه معموله نه ده. په کتاب المقدس کې لولو چې د جلاوطنۍ په يولسم کال د دريمې مياشتې په لومړۍ ورځ د خدای کلام پر هغه نازليږي، ورته وايي: "ای ادمه د مصر بادشاه فرعون او او د هغه ټولو ګڼو خلکو ته داسې ووايه چې په لويې کې ته خپل ځان له چا سره برابر ګڼې؟" ورته وايي چې تاسو د تکړه اسور په شان ياست، کوم چې يو وخت د لبنان د يادونې په شان و. د ديار دونې سمبول يو اسطورهيي استعاره ده چې ډيره لوړه ښودل شوې چې ريې ان وريځو او اسمان ته رسيده. د ځمکې د اوبو او خاورې نه يې تغذيه کوله او بيا د ځمکې تل ته ورځي او په خاورو کې ورکيږي.

که په لنډه يې ووايو د حزقي ايل داستان د مهاجرت داستان دی. دلته د ژوند د پای داستان هم تداعي کيږي. د بې وطنۍ ژوند يوازيتوب او د ژوند لوړې ژورې

تل انسان فکر کولو ته رابولي، د هغه تېر هیر ارمانونه را ژوندي کوي او بیا وايي، مگر عمر تیر وو خو ژوندون نه شته. شاعر له ژوند څخه د یو لوړ او عالي ارزښت هیله کوي او په هغه نامه یې پیژني. زموږ د کلیو ملنگانو هم دا عبارت تل تکراراوه چې بس د مرگ لپاره ژوند کوو. شعر لولو:

له مودو نه مې قرار او سکون نشته
مشتري مې د دیار او افسون نشته
دا جوڼه د بت جوڼه ده بدلون نشته
مگر عمر تېر وو، خو ژوندون نشته
کمترۍ دې ځورولې یو په سل یم
د شونټۍ غوندې پرېوتې په بورجل یم

په ترتیب سره په لاندې بیتونو کې هم د شاعر د زړه براس جوتیږي چې نه خو د زندگۍ سهار ویني او نه هم د همسا له عشقه ډکې پیالې ویني. د ادم اسطورې ته اشارې کوي  چې په ازل کې هم زما د غم حوالې راکړې او نه خو یونا د خپل برخلیك ستورې ورښودلې. یونا بېلابېلې ماناوې لري، د رښتینولي، صداقت او ان د خدای تعالی په مانا او په مذهبي روایاتو کې د حضرت یونس ته هم اشاره کیږي، نو کیدای شي تقدیر سیارې د خدای په واك کې وي، نو شاعر له خپله خدایه گیله کوي چې د تقدیر سیاره یې نه ده ورکړې او په وروستي بیت کې د حضرت سلیمان اسطورې او داستان ته اشاره ده چې هغه د مرغانو ژبه زده وه او له مرغانو سره یې راز ونیاز کاوه.

نه اشنا د زندگۍ سهارې راکړې
نه همسا له عشقه ډکې پیالې راکړې
نه ادم زما د غم حوالې راکړې

نه یونا د خپل تقدیر سیارې راکړې
په تحقیر زما د ذات د ګواهانو
سلیمان خبرې زده کړې د مارغانو

پورته غزل د ډېرو خبرو محتوا لري، هم اساطیر لري او هم د ژوندانه د دردونو تابلو ده او هم نوستالژي پکې نغښتې ده. هغه د ژوند یوه څپه د حزقي یال په داستان کې ګوري. حزقیال نبي کوم داستان چې په کتاب المقدس کې راغلی دی. دا داسې بیلګه ده چې ما خو د پښتو په کلاسیك او هم په معاصر شعر کې نه ده لیدلې.

همدارنګه ادم د ذات حوالې نه دي ورکړې او نه یونا چې څو تعبیره لري، د تقدیر سیارې ورکړي.

همدارنګه شاعرې په خپل یو بل ازاد شعر کې چې زه یې هېڅکله نظم نه بولم، بلکې یو لوړ او عالي شعر یې بولم چې هم انځورونه لري، هم پیغامونه لري، هم ښکلا او ښایست لري او هم په همدې شعر کې د کلماتو نڅاه کتلي شو. د دې شعر کمال دا دی چې شاعر ځان او خپل روح د خپل وطن د خپلې ټولنې او د خپل نسل او د خپل وطن له ارمان سره ګډوي او بیا د شعر ژبه ورته کاروي. که له یوې خوا په دې ازاد شعر کې د شاعر فردیت ځلیږي، نو له بلې خوا خپل وطن او ټولنه او د یو برباد نسل د تباهۍ تراژیدي په هغه کې تمثیلیږي.

**لاروۍ**

زه د ژوند د لارې هغه لاروۍ یم
چې تمثیل مې نه وختونه، نه کولی اذیت شي
نه د وران وطن د کونډو، یتیمانو په تصویر کې
دومره درد دومره فغان شته
چې زما دا سل کلن تاریخ په څو پېړیو وروسته

بیا تازه کړي، بیا راواخلي

نه مې باب د حیرانۍ چا ته معلوم دی

نه دا سترۍ سکندر ابِ حیات ته

رسېدای شي لکه خضر د نبیانو

نه دا ملک د ققفاز زما له سایه

جلا گرځي، که جلي او جلیا گرځي

نه یونا د ذلالت کښتۍ کې ناست دی

نه زما د تباهۍ امواج بې هېڅه

د تاراج د سمندر په سر گډېږي

نه مې قام لره د زړه بابل په یاد دی

نه مهی زما له ضعفه خبردار دی

نه دا بل عیسی چې زانگي په ټالونو

نه داوود چې ناشکري کا له خوبونو

نه یحیا چې غلامي د اسرائیل کا

نه موسی چې کله شرک کله خطا کا

د تېغون غوندې حملې مې په گائیل کا

زه د ژوند د لارې هغه لاروۍ یم

چې کعبې راپسې گرځي د رنگونو

کمترۍ مې نهادونه لړزولي

بسطامي مې په لیلام د کالو گرځي

شکرگنج لکه زړوکی په زیارت کې

وچ شو، وسولو لمرونو هواگانو

بهلي شاه مې لکه خس په سقرونو

د یوې یوې خبرې په ارمان لاړ

د لاروي شعر له یو لړ زیاتو مفاهیمو او داستانونو حکایت کوي. د سکندر اب حیات، ملك د قفقاز سایه، نه یونا د ذلالت کښتۍ، د تاراج د سمندر پر سر ګډېدل، د عیسی زنګیدل په ټالونو، د داوود ناشکري، یحیا او د اسراییلو غلامي، نه موسی او کله شرك خطا، بسطامي، شکرګنج او نور.

ګورو چې د لاروي شعر کې هم د ابراهیمي ادیانو مشهورو داستانونو ته اشاره ده او هغه ترخې پیښې د استعارې په توګه د خپل وطن په اړه او د شاعر له ژوند سره په رابطه کې انځور شوي او هم د اسلامي تصوف مشهور داستانونه، لکه د بسطامي بایزید او د شکر ګنج داستان را اورول شوي دي. سره له دې چې د لاروي شعر د غزل په فورم کې نه دی، خو د ازاد شعر په فورم کې دي. په ټولو مفاهیمو کې د شاعر هم د ژوند او هم د خپل وطن د یتیمانو څېرې انځور شوي دي. دلته نه شو کولی چې د شعر په ټول ویادو مفاهیمو سپړنه وکړو، ځکه کیسه اوږدیږي، خو که هر مفهوم، لکه دیونا د ذلالت کښتۍ، د عیسي زنګیدل په ټالونو او یا یحیا او د اسرائیلو غلومي داستانونه را نقل کړو، نو د چا خبره چې «مثنوي هفتادو دوسیر کاغذ میشود.»

**شعر او نوستالژیا:**

کاش

ستا له غمه لور په لوري ذېل بندي یم

د شهۍ په شانې داغ په خپل تندي یم

نه مې خوب، نه مې ارام، نه مې سکون شته

لکه عین چې له سروره سوګندي یم

ګرېوان څیرې په ناله کې ګرځومه

په تاراق کې په ژړا د خندني یم

زړه مې خم د تورو وینو دی نیولی

له ژوندونه زاره چاودې کفراني یم

څه به وایم چې څه وایم، څه به وایم

چې سېرابه په خپل خون لکه مهیندي یم

دوړېدلې په صحرا لکه شجر وای

کاش چې لنډ مې دا منزل او دا سفر وای

نوستالژي او د شعر هنر یو له بله سره یو ډول عاطفي او احساسي اړیکې لري. یا په بل عبارت د دواړو د هستېدو لپاره یوه منبع موجوده ده او هغه د انسان روح او روان دی. نوستالژي یو احساس دی، یو خوتېدونکی او راولاړېدونکی احساس چې د انسان په روح او روان کې په څپو راځي.

دا احساس باید د خپل ظهور لپاره بستر پیدا کړي، د خپل ظهور لپاره او د خپلې منډې او ځغاستی لپاره باید واټ او ډګر پیدا کړي. د دغه احساس د ظهور او څرګندېدنې لپاره ښه ډګر او ښه واټ هنر او په خاص ډول د شعر هنر دی چې وروسته په موسیقي کې هم ځلېږي او اغېز ښندي. د تېر ارمان احساس د شعر په هنر کې ښه ترا غځونې کوي او په ښه ترا توګه رابرسېره کېږي. دا ځکه چې د شعر طبعیت هم داسې دی چې د انسان د خپګانونو بار په اوږه کولی شي. شعر هنر دی. دا هنر د ښکلا ستایونکی او د ښکلا پنځوونکی دی. منطق نه دی او د ریاضي علم هم نه دی.

شعري هنر داسې څه دي چې له مخه جوړ قالب کې نه ځایېږي، بلکې د هستېدنې په مهال د یو داسې سیند بڼه غوره کوي چې په غورځنګ راځي، په ځپو راځي او هغه څه چې د شاعر په حواسو، تن او وجود، روح او روان کې وي، په تېره د هغه خپګانونه، تاثرات، غمونه او دردونه په شعر کې رابرسېره کېږي.

**انتخاب**

ما چې اظهار د محبت ورته
غزل کې وکړو
هغه په تراړو شونډو وویل
چې ښه انتخاب
لږ مې راکم شولو د سترګو نم
د زړه اضطراب
په ویرانو باندې مې زېرى
په محل کې وکړو
یو لادوا طبیب مې راغى
د مستۍ هجوم ته
زما نصیب یې و ورکړى
لېوني ماشوم ته
چې سر تر پایه یې لړلى و
په غم او عذاب
فریاد مې ځکه د نامرادو
په محفل کې وکړو
سرتورې ځنې وم ولاړه

د بازار په منځ کې
د خپل دیار په منځ کې
خپله غوغا مې خرڅوله
په نرگس او گلاب
د اذیت په سراب
د تیر گوزار مې په ځیگر په
محرم کې وکړو
ځان ته مې ځای د توپانونو
په منزل کې وکړو
له دې کمه ژوندانه
لا تر اوسه په افسون یم، له دې کمه ژوندانه
سوی زړه لکه نیلون یم، ژاړم سر په زنگانه
لکه وران چې مې تعمیر وي، پاتې تور لکه بابل
او پرتې مې په تصویر وي، تورې شگې د ساحل
راچاپېر مې په مسیر وي، شړل شوي ابابیل
لالهانده باډیوه کړم، ستا د سترگو بېلتانه
زنځیرونه مې پراته دي په جوڼه په لړمانه
زه له هغه غمه ژاړم، چې یې نشته تصور
هغه رنگ او رخسار غواړم، چې پراته دي په سقر
ښاخ د هغه شجر داړم، چې ترې جوړ مې دی منبر
هغه مزی لنډومه، د یادونو په یا نه
چې تاو شوی لکه لام دی، خور د مستې په بانه

**آئينه**

لکه پړق د آئينې مې
شو د مل او سنبل رنگ
په خرابې اشيانې مې
شو زرغون د غزل رنگ
لکه تور د باچاهانو، نازنين او ناز پرور شوم
لکه وير د دل فروشو، د جومات او د ممبر شوم
حاسدانو دور گوهر کړم، د غرض په درياهونو
فريبانو لاله‌زار کړم، د ساده محبتونو
آئينو کې مې بدل کړو، سريندو مکمل رنگ
د جل رنگ، د سراب رنگ
د صحرا رنگ، د محفل رنگ
هغو سترگو کې خدای وينم، چې يې نه پېژنم خواب
هغه زبرگې ښکلومه، چې اسرې دي د عذاب
هغو لارو کې وړمه شو، د قاصد او د لالي
چې تر ننه پکې سوځي، درختې سپاندې سپېلني
په صليب باندې ټالۍ وهي زما د اوربل رنگ
د عشق رنگ د مستۍ رنگ
د مکان رنگ د محل رنگ
د آدم قصيدو کړمه، د شهرونو لېونۍ
دمادم کوم ويرونه، هر تصوير کې لکه نۍ
تور دودونه مې تاوېږي، له جسد نه پنهاني

په ګوګل کې مې شرنګېږي، زنځیرونه عقلاني
د شبنم څاڅکي کې ډوب شو، د زوړ شوي خلل رنګ
د تیر رنګ، د آئین رنګ
د تصویر رنګ، د سنبل رنګ

**غندل**

بې له عشقه ژوندون څه وي؟
بې مطلبه حیراني
د قضا د سپي لکۍ ته
وړل کمڅۍ دي د لالي
د فنا په تصور کې
خپل تصویر خاورې کول دي
په لاله په صنوبر کې
له تقدیره تبنتېدل دي

**تغافل**

څه خبرې مې په زړه کې
له مودو راسې تاوېږي
ځوروي مې په لمانځه کې
او ساګانې مې ډوبېږي
څه خبرې مې په زړه کې
لکه نجونې له مستۍ نه بنګړي مات کړي

په راغونو، په لاله کې
د نازونو تندي مات کړي
همگي پسرلي تېر کړي له سقره
د مريم اوښکې مې توی شي له ځيگره

**احساس**

نن مې د زړه احساس عجيبه شانته
خوروي زړه په گلابونو باندې
په ورانو شوو لحدونو باندې
په هېرو شوو تاريخونو باندې
ما په خپل ځان پسې راکاږي په اورونو باندې
په دوزخونو باندې

نن مې د زړه احساس عجيبه شانته
کوي فرار د زندگۍ له رنگه
له هره شوره او له هره شرنگه
که د حرم ژړا ده او که د دير واوېلا
زما تندي باندې داغونه د کفران جوړوي
زما جذبې سړوي
د بېهودۍ او د جنون په هغو ورانو خونو
هغو پرېشانو خونو
چې لا تر ننه ترې اواز د بنيادم نه راځي

نن مې د زړه احساس عجیبه شانته
په هغو پاڼو باندې اور لګوي
له کومو پاڼو نه چې ستا د عشق الهام اخلمه
مستي او جام اخلمه
سوي لوحونه مې ولاړ د ګرېوانه دي پکې
دل مې مازغه دي پکې
را لړزوي مې په سیلیو نرګسي خوبونه
او ورېښماني غمونه

نن مې د زړه احساس عجیبه شانته
ستا د خاطر په مظهرونو باندې
په ښارییو په دریابونو باندې
زما لیکلي نوم ته اور ورکوي
زړه ته مې زور ورکوي
چې زه په څه د خپل حیثیت له دایرې وتې یم
له پیمانې وتې یم
ازل مې وشیندلو غم له سروکاره سره
له هر دیاره سره
ما خپل ځیګر هم په رنګونو کې لیدلی نشي
هېڅ مې زغملی نشي
دې لیلام ګر کې به مضطورې تماشې کومه

څه به ګیلې کومه
له هغو خلکو نه چې رنګ د خلقت نه پېژني
محبت نه پېژني
نن مې د زړه احساس عجيبه شانته
د جاسمين سترګې بلوي په لحدونو باندې
په تقديرونو باندې

درنښت
محمداکبر کرګر

د ځان په خوند کې ډوبه شي ډېره شي هغه زه يم

بېباکه غوندې پېغله چې وړمه شي هغه زه يم

ابتدا مې د اغلې زارا له دې شعر څخه ځکه وکړه، چې زما ومخته پرتې شعري مجموعې هم د يوې پېغلې شمائلې ده چې اصلي نوم يې درخانۍ دی او هنري نوم يې شمائله دی او په کابل کې د محمد ارسلان سليمي په کور کې زېږېدلې ده.

زه د شمائلې په حواله هېڅ نور معلومات نه لرم، نه ما دا له نږدې نه ده ليدلې، خو ما د دې لوړ فني شخصيت د دې په فنپارو کې ليدلی دی. له ما سره د دې د فکري تخيل د کوانټيټي او کوالټي يو معيار شته، د هغه د کېتهارسس له اړخه د دې پر فن خبرې کوم. لوی شاعر هم هغه وي چې د خپل فن د لارې خپل ځان معرفي کړي، دا ځکه هم چې يو نقاد د ډېره نږدې د ادب مطالعه کوي، زه دا برملا وايم، چې معياري ادب د ژوند معيار هم لوړ ساتي او د دې معيار د ټاکلو لپاره تنقيد يو ښه پېمانه ده.

په ادب کې د غير رسمي تنقيد ابتدا افلاطون کړې او د رسمي يا رده ابتدا ارسطو کړې ده.

موږ ته د تنقيدي ادب په حواله اروابناد راز بابا ډېر څه ښودلي دي او که ارسطو د هومر او اېمپي ډوکليز ترمنځ فرق واضحه کوي، نو دغسې موږ ته راز بابا، فېض الوهاب، پروفېسر حنيف خليل، اروابناد قلندر مومند او نور ډېر د خوشحال بابا، شيدا، حميد بابا او غني د شاعرۍ په باره کې ډېر څه رابښيي. راز بابا به ويل چې د معياري ادب د معيار د ټاکلو لپاره د ښه او تعصب څخه پاک او مثبت نقاد وجود ضروري دی.

شمائله له وطنه لرې ضرور ده، خو د ستېږ په رڼا ګانو او مصروفه ژوند کې ورکه نه ده. له دې سره تر شا پاتې د ځپلي هېواد او اولس غم مل دی او دا خپل ځپلی احساس يې تل داسې اشعارو ته لمسوي.

د کونډې رنډې جنګ او سوځېدلې درې
واړه تحفې دي د عرب او عجم راشه
راته مخه شوه د ډيرو بې حسينو
د نېنوا غونډې زړه شوم بتخانو کې

د شمائلې ځانګړتيا ځانګړنې او اديبانه طرز ته چې ګورو، نو د شمائلې شاعري تلوسې لري او احساس لمسوونکې ده، چيرې چې مينه، لطافت، عنايت، رومانيت، ننګ و پت، ډېر ښکاري. که څه هم د فکر بېقراري لري، خو په قلم کې يې رواني نغمه‌ګي، حسن ذوق او جامع تراش خراش شته. شمائله د کلام په هيت ماهيت کې يو زړور او بېباکه قلمي توان هم په مخه راځي او برجسته انداز يې د کتلو دی، لکه يوه کهنه مشقه نابغه شاعره چې وي.

يو چا راته ويل زه دې قاتل ومه نور لاړ
کوټه پيسې يې راکړې د کوثر په کِنارې
د پښتو د وطنونو بې پښتو رهبره اورې؟
لو روان دی د ځوانيو د مغل په کټارو
راته ووايه رهبره، دا په کومه يې روان
او له چا سره دې کړې ده سودا زما د سر

د مخلصه جزبو صادقه سوچ لوړو ولولو، ځانګړي اسلوب د دې شعري مجموعې کړه وړه او حدود او اربعه د يو پراخ ذهني استعداد تخليق دی. زه وينم چې د تخيل څخه راغلې دا بې چينه تفکرات چې د شعر په فريم کې ثبت شوي دي، دې کې فاصلې،

حسرتونه، ترخه او خواږه یادونه، د وطن مینه، د خاورې کشش کړاوونه ستونزو شاعره ډېره حسرت منه ساتلې ده.

کاش تقدير د دې خاورې مصور د امنيت شي

کاش هوا د وطن راوړي ستا د ناز ادا خبرې

لويه خبره دا ده چې د شمائلې فکر او فن او تخيل او تخليق خپل دي. کلام يې همه‌رنگونه او مختلفې خولې لري، چېرې کلاسک، چېرې جديد، چېرې، فصيح، چيري بليغ چيرې بيا ژور او ثقيل الفاظ په کار راولي. چيرې خوشحال، کله شيدا، کله رحمان، چېرې جهاني، هادي ملا، رنگ اختيار کړي.

د دغو ثقيلو الفاظو دوې بېلگې:

هر مصوير مې ناوېسا د خپل تقدير په کانو، ولي ارمان

د کستوري هره نافه کې يې مانه ووايه ندي ولاړ

ساه‌لنډی مې د محلت په پېغلوکو دی لگېدلی

لوغړنه دې د عشق د تاترين آب و هوا شي

يو بل شعر:

کاش زموږ د زړونو مستي، سترې نوحه گره شي

کاش زموږ د عشق بابونه، وينې شي نکريزې شي

ما ذکر د شمائلې د فکر او فن کولو. ما ويل چې د دې رنگونو پرته يو ښکلی رنگ يې دا دی چې پر کوم دا صنعت ولاړ دی او د وياړ ځای دی. هغه دا چې په خيال او فکر کې روښانه عنصر لري او د فکر پراختيا لري. دا د ټولنې د هرې طبقې خيال ساتي. د ټولنې بېسوادي سياسي مذهبي تاريخي او تهذيبي وقار ښه په نظر کې

نیسي. د زور او ظلم، کرکې، تعصب داسې رویې او سلوک کلکه غندنه کوي او په ځانګړې توګه چې د انسان او پښتني وقار او د تزلیل سبب جوړیږي.

د شمائلې فني هڅې هم دا معلومیږي چې په ټولنه کې د انسان دوستی، امن، ورورولي، رواداری، همدردي یوه ښکلې فضا خوره وي او د ځلوېښتو کالو د جنګونو چې کومه طبقه ډېره ځپل شوې ده دا د هغې طبقې احساس لري او دې طبقې ته امن سکون او ژوند غواړي.

په هیڅ نرخ و رواج د کمېدو ماتېدو نه یې

علاج دې رانه هېر دی د جانان د زړګي زنګه

ادب یو افاقي حیثیت لري. شمائله پخپل فني استعداد سره دې مقام ته ځان رسولی دی. نقاد هم د افاقي په حیث ارزښتمن پخپل کار کې غیر جانبداره پاتې شي او د فنپارې له خالق سره په پراخ زړه سره انصاف وکړي.

زه د شمائلې دفن پر ګرامري اړخ خبرې نه کوم، ځکه اول خو یې کلام په هر تول او وزن پوره دی، دویم دا چې فکري ځلا یې دومره اوچته ده، چې سترګې پرې برېښ کوي.

د شمائلې د فني اثارو او صنایعو به څه وایم، د دې فني استعداد لوړ او ډېر شتمن دی. دا چې څه ویني ګوري او محسوسوي، دا په لوی هنر سره د خیال د کېنوس نه د کاغذ مخ ته راوړي. د شمائلې سره موضوعات بېشمېره دي، دا د فکر په هدف پسې د الفاظو ملغلرې په ډېر لوی هنر سره وړي.

خیال زما دی ستا په عشق کې د مجنونه بالا تر

دی په تا باندې شیدا خو صورت نه لري صنم

تورې سیلۍ د عداوت یې لارې ونیولې

نن دې جرس د قافلې و بې زبانه روان

ته لکه لام د خپلو زلفو رامات کړی یې چا
زه لکه عیب د خپلې مینې په شانه کې اوسم

د لنډو بحرونو په کلام کې یې نظهتونه او نازکخیالی ته ځیر شئ، دریاب په کوزه کې بندوي:

رانه ورک یې پخپل زړه کې
لکه اسم اعظم یاره
ژوند اسرې د شمائلې
کړی درهم او برهم یاره

اوس دې لاندې شعر ته ځیر شئ:

کل اثاثې مي لاوارثه شولې
ماته یتیمه دوانه واي څوک

دوانه ناورین ته چي نظر وکړو نو په لوړو کربښو کي یې دغم یوه مرثیه پنهانه ده چېرې چې قام پروت او مېشت دی، د شمائلې نظر تر هغه وسعتونو رسېدلی دی. له نظره یې هیڅ او جل نه دي. چېرې چې قام په کوم حال کې دی، د شاعرۍ خوږمن زړه هغلته دی او پخپل هنر سره یې هغه حال نړۍ ته ښودلی دی. شمائله د تاریخ ژوره مطالعه لري. په خاصه توګه اسلامي تاریخ. دلته یې ما د ښکلیو اشعارو یو څو بېلګې په ګوته کړې دي:

په زړه داغ لکه عجم یم دمکې مفتي خبر کړئ
که تپوس مې چیري وکړي، د حرم له منارو

داپه وینو سره لاسونه به د چا وي

راښکاره چې د ازر په خېلخانه شول

چې په یوسف پسې یعقوب کولې
ما پسې هغه اندېښنې ولیکه

دې شعر کې تشبیهاتو ته لږ نظر شئ:

زګیروي دي په دریا کې د قرنونو د مهجور
راټولې شوې توحید ته بتخانې ذرې – ذرې

محبت د فرهاد لاړو، په ورو ورو د زوال خواته
اوس د لارو او کوڅو شو، اوس یې راشه تماشې ته

تا پر تخت د سلیمان هم، یو څو ورځې تېرې نکړې
ما د خضر عمر تېر کړ، پټې سترګې په پېغور کې

په لاس کې د سقراط چې کنډولی شوې نو زما شوې
په لاس کې د جمشید چې جامِ جم وې نه وې نه وې

ته د نوح خبرې پرېږده، د یحیا خبرې پرېږده
زه خو ستا د نېکفالیو، حادثې په سما وینم

لاړل د عیسی حوارییِن دې په سلګو
ناست یې که نغمو ته د داؤد دي عواقِب

په ادب کې وسیع الخیالي یو ښه عنصر بلل کیږي. شمائله په دې مورت کې ښه غني ده او د وخت پر ستونزو یې په ښه ادبي سینګار سره قلم راخیستی دی او ښه بېباکه یې د فکر ترجماني کړې ده او ښه سنجیده او ساهو شاعري یې پښتو ادب ته ساتلې ده. دا انداز به پښتو ادب ته د هادي ملا په شان د پښتو ادب لمنه ته ګلورین لعلونه ور پېرزو کړي.

تل لکه تقدیر کا په روحونو پسې ځغاښت
عِشَق نه مسکن لري ـــ استاد او نه راهب

له لوړې نه مو خرڅې کړې ګردې د خپل وجود
دنیا په ـ موږ ونکړې کومې ـ کومې نظارې

دا غمونه محرومیانې، کړاوونه بې حسیانې
ازل نه و چې پراتهْ وو ستا د زلفو په تارو

**د نظم برخه**

د شمائلې نظم هم د دې د غزل په شان پوخ او زړه راکښونکی دی، د نظم لمن یې هم پراخه او شتمنه ده. شمائلې چې کوم درد محسوس کړی، پر هغه یې داسې په خوږه ژبه ښکلی نظم لیکلی او لوی اعزاز یې دا چې د ژوند پر هر اړخ یې بېله څه ستونزې قلم څرخولی دی. دا نظمونه په څومره مهارت او فکري استعداد لیکل

شوي، دېته په ژور نظر کتل مهم دي. ماته د ډېرو تکړه او نابغه شاعرانو رنګونه او انداز پکې ښکاري، ځکه دا برخه يې د پښتو د ډيرو ناوېيلو او جديدو او نادره خصوصياتو حامل ده.

هيله ده چې د کتاب دا برخه به د اديبانو، شاعرانو او ذوق لرونکو قاريانو د ذوق د تسکين سبب وګرځي. د شمائلې د نظمونو په بهير کې هر رنګ شته او سندرې هم د دې باب برخه دي.

د پښتني ټولنې هغه رنګ چې ختيين کورونه به دا ډول وو، چې خونې به د ختو وې، چارديواري به د بوټو وې او د کور دروازه (دربن) به د لرګيو وو. دا ځکه چې په ټولنه کې به د خلګو ترمنځ امن، مينه، ورورګلوي او باور او د اطمينان لوی حصارونه وو. شمائله د داسې ټولنې په لټه کې ده. دا ځکه چې ډېره موده وشوه چې داسې حالات رامخته شول، چې مينه، امن او باور لمنځه ولاړ او پښتانه په فرقو، مسلکونو او پرديو مفکورو او مسلکونو او نظريو په نېزو سره بېل شول.

پښتني ټولنې ته مختلف مذهبي جنګونه او هلاکت خېزه وسلې راغلې، د پرديو جاسوسي شبکې او د کرکې له امله پخپلو کې دوامداره نښتې راغلې. د هرې فرقې ځانته جوماتونه جوړ شول، د جنګيالانو مدرسې رامنځته شوې. دغسې قامپرسته هم د مفکورو او مفاداتو له کبله ووېشل شول.

دغو بدل شويو حالاتو د شمائلې هم زوړ کلاسيک او رومېنټک انداز لمنځه يوړو. د مزاحمت لړۍ چې له خوشحال ځخه راروانه وه او پر ملا سلام عشېزي شلېدلې وه، بيا را ژوندۍ شوه، له حالاتو سره په شاعرۍ کې جديديت رامنځته شو. شمائله هم له دې بدلونه بچ پاتې نه شوه. شمائلې جديد رنګ خپل کړی، د وخت جبر، ظلم، منافقت يې ښه په ګوته کړی، خو د ښځينه فطرت له سببه يې د مزاحمت بېرغ پورته نه کړ، د هر چا خپلې مجبورۍ هم وي، خو شمائلې چې د منافقينو په ضد چې څه

رنګه د قلم توره چلولې ده، دا د تحسين وړ ده، موږ ويلی شو چې شمائله د قلم ملاله ده. اوس يې د يوه نظم بېلګه ستاسو مخې ته راوړم:

**مذاهب**

يو له يو ګنبده لاندې

بل د بل ساحل په غاړه

د اوږدو اوږدو تسبو په زنځيرونو

زنځيري د هغو خلکو ايمانونه

چې خندان دي هم په ښهر هم په شاړه

پنجپيری د خپل تهذيب قصيدې وايي

برېلی د خپل پټکي په قيصو سترې

لوټوي د ساده رويو ايمانونه

مرمت د يو منسوخ داستان شروع دی

له خسنيو سازنده بويه قامونه

ژوند د دې فرقه بندۍ له برکته

هر ګلشن کمين کمين سنګر سنګر کړو

د دې خلاصو او کاذبو کتابونو

مشتريان اورورکي د جهانهٔ دي

مجنونان د تابتونو د کانهٌ دي

ميراثيان د استحسان د ارګانهٔ دي

مذاهب لېوني شوي پښتانه دي

**اشوب**

کربلا راغله په وطن زما
سیلاب راوخوت په مسکن زما
له تېغه تېر شو هر ریبار او یار
په وینو سور شو هر مِلن زما

**مخکې وايي:**

له خپل وطنه په سلګو راغلم
د تورو غرونو په سرو راغلم
لکه ارواح د قتل شوي ژوندون
د خپلو وینو په ولو راغلم

دا د افغانانو د هجرت نقشه وه. يو بل نظم «سانده» کې د وطن د بربادۍ غم ژاړي:

د سحرګه نسیمه، وطن مې وران شو
باغوان مې ووژل شو، چمن مې وران شو

په آخر کې وايي:

د دې لوټ شوي وطن، په تقدير وير پکار دی
دې په تاراج ولاړ ته، ژوند او تعمير پکار دی
د دې روان فرعونيت، باب او تشهير پکار دی

قصور يې نه دی معلوم، ګلشن مې وران شو
باغوان مې ووژل شو، چمن مې وران شو

د شمائلې آرزو، شوه په قرنونو زړه
د جهنم دا حصه، له اوره نه شوه سړه
دا د ګوندونو جګړه، دا د حزبونو جګړه

له مانه څه غواړي نور، هر فن مې وران شو
باغوان مې ووژل شو، چمن مې وران شو

**وخت (نظم)**

د ګلرنګ له پرېشانۍ نه
د صحرا له حيرانۍ نه
د غاټولو له محفله
د بې کسو له اوربله
د صنم له ودانۍ نه
چې څه اورم اذيت دی
چې څه وينم مذمت دی

**زړه (نظم)**

خدايه هغه زړه مې تنګ شو
چې يو بحر د مستۍ و
يو جهان د بې غمۍ و

یو داستان د عاشقۍ و

**د «هاړ» کودی**

زما بخت د هاړ کودی دی
په لېمو کې مې ګل شوی
لکه واوره په ګداز یم
دا خاورین ګلاب په ما کې
د ژوند هغه ریښې ریبي
چې سیراب مې پرې فلک د درد او غم دی

**په «ګواهي» نظم کې داسې وايي:**

د سنګ دلانو د سماج خونريزي هم پېژنم
په لحدونو کې پرته خاموشي هم پېژنم
د کونډو رنډو د کاله په غوغا هم پوهېږم
د ګلرخسارو د زيارت په ژړا هم پوهېږم

**په «انکار» نومي نظم کې داسې وايي:**

هو ما انکار کړی و
له هغه ژونده چې په سرو وينو مې رنګ ليدلی
په سرابونو کې و
په ګلابونو کې و
هر هغه څه کې و، چې ما يې تماشه نه غوښته

که په جامونو کې و
که په نازونو کې
که غوربتونو، جحیمونو او شهرونو کې و
هو ما انکار کړی و

**په تحقیر زما د ذات**

داسې عشق غواړي زما د جانان ورکه
لکه غواړي حزقي ایل د لبنان ورکه
شوه له مانه استانه د ریحان ورکه
پسې گرځم په زمین او اسمان ورکه
په ځیگر دې اواره شومه جان ورکه
ما راونغاړه زما په ارمان ورکه

له مودو نه مې قرار او سکون نشته
مشتري مې د دیار او افسون نشته
دا جوثه د بت جوثه ده بدلون نشته
مگر عمر تېرروو، خو ژوندون نشته
کمترۍ دې ځورولې یو په سل یم
د شونډې غوندې پرېوتې په بورجل یم

نه اشنا د زندگۍ سهارې راکړې
نه همسا له عشقه ډکې پیالې راکړې
نه ادم زما د غم حوالې راکړې
نه یونا د خپل تقدیر سیارې راکړې
په تحقیر زما د ذات د گواهانو

سلیمان خبرې زده کړې د مارغانو

په اخر کې د یوه نظم مختصره بېلګه:

سرتورې څڼې وم ولاړه
د بازار په منځ کې
د خپل دیار په منځ کې
خپله غوغا مې خرڅوله
په نرګس او ګلاب
د اذیت په سراب

دا د نظمونو بېلګې چې د ژوند هر اړخیزه احاطه یې کړې ده او دفن او فکر شباب هم لیدلی شي. شمائلې څو سندرې هم لیکلې دي، یوه بېلګه یې ستاسو مخې ته راوړم:

**ماښام (سندره)**

یاره یارۍ نه دې ولاړه لاس په نام یمه
په سر د بام یمه، سکڼی ماښام دی

یاره یاري کوې ته، که جواري کوې ته
زما په پاکه مینه، سوداګري کوې ته
زه له داهسې عشقه دربغه سر انجام یمه

د شمائلې هر صنعت که غزل وي، که نظم، که سندره ډېره نغمه‌گي شگفتگي تازه‌گي او د فکر پرواز لري. که څه هم ماهیت یې له درده جوړوي، خو قارې یې له کیفه کیفیته او لهجې څخه خوند اخلي.

شمائله پر وطن او اولس مینه یوه سوچه پښتنه افغانۍ ده، د دې کتاب په ویلو ارزي او زه د دې سباوون ډېر ارزښتناک وینم، دا به د ادب په دنیا کې لکه ستورى ځلانده وي.

ډاکټر عبدالله ناشناس

کوټه

فبروري ۱۵ ۲۰۲۳ م

**د ژبې د ناعادي کولو په زړه‌پورې هڅه**

ستا د لېونو سترګو مسیر ونړېده

راشه له فراقه مې تعمیر ونړېده

شمعې بلومه په کفران د خپل تقدیر

ستا د زړه له سرایه مې تصویر ونړېده

د اغلې شمائلې سیلمي د پورته بیتونو په لوستلو سره د سویسي ارواپوه او د تحلیلي ارواپوهنې بنسټګر «کارل ګوستاو یونګ» په اړه هغه خبرې رایادې شوې چې کله «یونګ» مړ شو، نو هغه ونه هم وچه شوه، چې دی به یې سیوري ته ناست و. دې پېښې د هر ډول موجوداتو ترمنځ د مینې نالیدونکي مزي د جدي بحث وړ کړل. دا ځکه چې هر انسان له خپلو بهرنیو واقعیتونو هاخوا یوه بله نړۍ هم لري، چې د ورستنېدو او پکې د دمه‌کېدو لپاره هنري اسباب غواړي. یانې له دې ښکارې چې دا دویمه نړۍ اصلاً د خیال نړۍ ده چې تر ټولو چټکه نندارہ پکې هر وخت د شاعر په برخه وي.

له هنري وسایلو یو هدف شعر دی. زه دلته شعر نه تعریفوم، خو یوازې له بهرنیو واقعیتونو هاخوا د انسان لپاره یوې بلې نړۍ ته د سبب جوړېدو په تړاو یې غږېږم. شاعر هغه وخت د خیال نړۍ ته ذهني سفر پیلوي چې له پدیدو یا بهرنیو واقعیتونو سره په اړیکه کې شي، یانې د هنري وسایلو د برابرولو چانس په لاس ورشي، ځکه له شک پرته چې د هنر د تولید تر ټولو ستر شرط له پدیدو سره تعامل دی.

شاعر چې شعر لیکي، حتماً به د چاپېریال له یو اړخه اغېزمنېږي. دې تاثر ته د «پدیدو پر وړاندې عکس‌العمل» ویل کېږي. خو د طبعیت پر وړاندې د شاعر د غبرګون لپاره هماغه احساس پکار دی، کوم چې مو په لومړیو کې د «کارل یونګ» په بېلګه کې ورته اشاره وکړه. یانې د یونګ د مینې، عاطفې یا وابسته‌ګۍ حس

دومره پیاوړی و چې مړینې یې حتا پر نبات/ ونه هم اغېز وکړ او ورپسې وچه یې کړه.

دا دومره خبرې د اغلې سلیمي د پورته د دوو بیتونو پر تحلیل رایادې شوې او د دا ډول شعرونو په الفاظو کې یې پټ نادر انساني ادراک راښکاره کړ.

د شمائلې سلیمي شاعري چې لولم، حیرانېږم او فکر نه کوم چې دا دې د ښځینه ذهن تولید وي، البته دا په دې مانا نه چې زه د ښځو پر تخیلي یا فکري وړتیا بې‌باوره یم، بلکې شکمن کېږم ځکه چې په ورته انداز شاعري یا د کلماتو دا ډول موزون کول په نړیواله کچه هم د سترو شاعرانو په اشعارو کې خورا په سختۍ موندل کېږي.

واخیستم د ژوند خړو سیندونو لکه رېگ
عمر مې تویېږي له لاسونو لکه رېگ

د اغلې سلیمي په شاعرۍ کې د لوړ خیال او ژور فکر د بیان ترڅنګ د انځورګرۍ خوندور کمال ته هم متوجه کېدای شو. په شعر کې د کلمو متحرک کول هم خورا ستر ریاضت او تکلیف غواړي، خو دا د فزیکي ستړیا غوندې نه وي، بلکې هماغه د هنري اسبابو له لارې د عادي ژبې داسې ناعادي کول دي چې هره کلمه یې په چاپېریال کې د موجوده واقعیتونو رڼه عکاسي راته وکړي. یانې که خورا ساده یې ووایم، په شعر کې د یوې پدیدې د کلمې په لوستلو سره مو په ذهن کې د هماغه څیز عکس جوړ شي او دا ننداره کټ مټ لکه د یو فلم غوندې وي.

لکه دا بیت:

د قاصد د آس شرنګې دی، له دې بر کنډوه هاخوا
څوک مې ونیسئ له لاسه، حیرت وړې یم غورځېږم

يو شمېر لوستونكي ښايي د اغلې شمائلې شاعري د پېچلو الفاظو ترکيب وبولي، ګونګه او پُرابهامه يې وګڼي او دا دليل راوړي چې ګواکې پوهېدل پرې د عامو خلکو له سويې لوړ دي. خو زه بيا 'د ادبپوهانو په باور' دوی ته دا ويل لرم چې په شاعرۍ کې مثبت ابهام عيب نه، بلکې همېشه کمال وي، ځکه اول خو د شعر مرغه د ژبې په ګرامري قفس کې بندي کول ظلم دی، دويم دا چې په ژوند کې ډېر داسې مسايل راځي چې وړاندې کول يې بايد د ابهام د توکو، لکه سمبول او... په مټ وشي. د شعر په نامه په لوستونکي د ساده خبرو لوستل خو هر څوک کولای شي او نه شاعري «شعار» دی چې هر څوک يې په آسانه زده کولای او په ژبه راوړلی شي.

کړلو زړه زما چور چور، ستا د سترګو تغيور
ستا د سترګو تغيور، په مثال د کوه طور

رنګ دی رنګ حسن آباد، کنډرات دی کنډرات
پکې ښکاري زما زړه، څوک خوشحال د رتنبور

د دې ټولګې په شعرونو کې يو بل کمال «موسقيت» دی، چې د اغلې سليمي د شعرپوهنې د خورا لوړ استعداد څرګندونه کوي. موسقيت ډېر ځله په شعر کې د کلمو له تکراره رامنځته کېږي او له محتوايي اړخه هاخوا د شعر پر ژبه/ بڼه دومره ښکلا ورتپي چې هر لوستونکی ناخوداګاهاً پرې مينېږي. خو د موسقيت لپاره د کلمو د تکرار په بحث کې «منظم‌توب او منطق» ستر شرطونه دي. يانې په ناعادي ژبه کې د هر ډول کلمو هر ډول تکرار هم موسقيت نشي رامنځته کولی، رامنځته به يې کړي، خو له منطقي اړخه به عقل ته د منلو نه وي. مخکې مو وويل چې د «کلمو تکرار ډېر ځله» يانې د کلمو د تکرار ترڅنګ د سېمبول او تشبيهاتو همغږي هم په

شعر کې موسقیت ته حیات ورکوي چې دا چاره اغلې سلیمي ښېخي په زړه‌پورې ترسره کړې ده.

په کوڅه به د دلبر، پټې سترګې کړم ګذر؟

شیخه ماته دا تجویز، نامنظور دی نامنظور

پیراهن دې نبوي او پېشه دې جاسوسي

خدای دې لا درکي بری، خدای دې لا درکي عبور

لنډه دا چې د شمائلې سلیمي هر تازه شعر چې لولم، په ذهن کې مې یې د ستاینې لپاره نوې کلمې راپیدا شي، ځکه هر شعر یې له هره اړخه نوی وي. د «........» په نامه دا ټولګه – چې اوس ستاسو په لاسونو کې ده – ټول شعرونه یې ما مطالعه کړي دي. په دې کې هر شعر له ژبني او محتوایي اړخه له یو بله نویوالی او جالبوالی لري.

زه د خپلو خبرو په پای کې شمائلې سلیمي ته اوږد او بشپړ روغ ژوند غواړم، خو د دې ترڅنګ هیله ترې کوم چې خپل ژور فکر او لوړ خیال د یو خپلواک سبک لور ته په همدې مدار دوامدار وساتي.

عصمت الله صالح

خامه‌پریس خبري اژانس دفتر. کابل – افغانستان

پنجشنبه، ۱۲۰۴ هـ ش، د کب ۳مه نېټه

## د شمائلې سلیمي شاعري

که چېرته زه خبره له دې ځایه پیل کړم چې زه شمائله سلیمي پېژنم په حیث د یوې بېلې او مختلفې شاعرې ـــ نو زما دا دعوه به ځکه بې ځایه او بې محله نه وي، ولې چې له تېرو دوو کالو راهیسې زه په فېسبوک کې د دې شعرونه بالاستعیاب او په تسلسل سره په دقیق نظر وایمه.

خو دا بېله خبره چې کله یې شاعري په خپل فطري رنګ کې سرمسته ښکاري او کله په شعوري بڼه کې ګونګه او بې تاثیره، خو له دې باوجود هم د دې شاعرانه فن، هنر، کمال او جلال خپل شعري جمالیات لري. دا یې زما په خیال د لب و لهجې ځانګړی کمال دی. کوم چې د ډېرې ستاینې حق لري، خو کله کله چې په شعر و سخن کې د شعوري هڅې په لار سمه شي، نو بیا ماته قادرالکلامه سلیمي، سلیمي نه ـــ صرف شمائیله راته ښکاري.

که چېرته دا د داسې لارې د خپلولو نه ډډه وکړي، نو بیا عین ممکن ده چې دا به د یوې پخې او مستندې شاعرې په حیث د شاعرۍ په دنیا کې رابرسېره شي، د فکر و فن په لحاظ، د احساساتو او جذباتو په اساس زما په شخصي فکر سلیمي ځانله خپله یوه بېله غوندې د تخیل دنیا لري او د تورو په اعتبار هم ماته غني او شتمنه ښکاري.

د حسي او شعري تجربو نه یې د شعر یو سنجیده قاري په اسانه دا اندازه کولی شي چې موصوفه د معاصر شعر ښه کوټلې مطالعه لري. له دې سره سره شمائله سلیمي په عمومي توګه دا هڅه کوي چې د خپل شعر له لارې نوي نوي موضوعات او خیالات رابرسېره کړي. د دې په شاعرۍ کې چې کومه خبره د زیاتې ستاینې او ډاډ وړ ده، هغه دا چې دغه شاعري د شاعرانه امېجري نه عاري نه ده. د دې شعري تمثالي ژبه په خپل ځای ډېره خوږه او شرینه ده. په دې شعري تجربو کې ځانله یو

شاعرانه لېونتوب او مستي خپل وزر رپوي. شايد هم دغسې لېونتوب ( د يو شاعر يا شاعري) د شاعرانه گرفت او قدرت غماز هم وي. د شمائلې سليمي شخصي او ذاتي شاعرانه ځانگړتيا دا ده چې دا د شعر ويلو لپاره د جدا غوندې بحرونو انتخاب کوي لکه:

په امتياز دي هيڅ نه پوهېږم

د لالي ځنگه، د صليب سنگه

(لس سېلابيزه بحر)

په کلي او مجموعي لحاظ په پښتو شاعري کې د لسو څپو غزلې انتهايي کمې او د نشت برابرې دي، خو د دې کمال دا دی چې په داسې بحر کې هم دا د مختلف شعر ويلو کوشش کوي، لکه دا شعر:

په کفارو دي، راگرځومه

ورکه سکوته، الوتی رنگه

خو چې کله روايتي رنگ ورباندې غلبه وکړي، نو بيا په غزل کې د روايتي تورو استعمال هم په روايتي انداز کې کوي. لکه دا توري: اياغ، زاغ، بلبل، تاراج، دماغ. زما په شخصي فکر د نن غزل يا د معاصر غزل مزاج، لب و لهجه او خدوخال يکسر بدل شوي دي. بلکې دا ويل به زيات مناسب وي چې د غزل تهيم، فريم يا چوکاټ يو مخ بدل شوی دی. ځکه د نن شاعر او شاعري له پکار چې د غزل د ننني مزاج پوره تقليد او پيروي وکړي.

په بل صورت کې يې شاعرانه تشخص او مقام رابرسېره کېدل ښخي ممکن نه دی. نو د دې مطلب دا  نه دی چې شمائله سليمي يو مخ روايتي شاعري کوي، هغه د معاصر شعر سره هم اوږه په اوږه روانه ښکاري او نادر او نااشنا خيالات او احساسات پخپلو شعرونو کې په انتهايي هنر او کمال خوندي کوي، لکه دا بېلگې:

ستا فلک د چا له غمه څه خبر دی
هغه کله له غروره چاته ګوري
(له خدای سره همکلامي)
زړه مې داسې د لحد تمبو ته ښوري
لکه پاڼه د پیپل هوا ته ښوري
(یو نااشنا اضطرابي کیفیت او خوف)
طوفانونه مې پیالې له ملکه اخلي
حبابونو کې تصویر د خپل تماس ړدي
(د حیرانې حیرانۍ یو تمثال)
فالنامې د خپلې مینې پکې ګورم
سپینوم د آئینې ځیگر په کاڼو
(د روم د نقاشۍ یو فرضي انځور)
تا به لمر په زولنو تړلی راوړو
ما به مات کړو د فلک وزر په کاڼو
(نا اشنا حسي تجربه او د امېجري یو عالي مثالیه)

په دیارلس سېلابیزه بحر کې شعر ویل د یو پاخه شاعر وطیره وي، ځکه زه دا دعوه لرم چې شمائله سلیمي د پښتو ژبې پخه او مستنده شاعره ده. ولې چې په زبرِ بحث بحر کې یې هم پخه تجربه کړې ده. یو دوه شعرونه یې وګورئ!

نه راپسې راغلې لکه کرب زما د ذات
نه درپسې باد کړم طوفانونو لکه رېګ
چېرته زمانه هم وه زما د بې نیازۍ
زه هم ټولېدم په ځراغونو لکه رېګ

یو څو شعرونه نور:

سرې ويالې يې وې راماتې له هر داغه
زړه مې پروت په کنډولي کې د ريحان و
واهمې د خيالاتو رانه تاو دي
کتی نه شم د ضمير په آئينو کې

د زخمونو له پردو نه، احساس رنګ په وينو راغی
هېره کړې يې وعده وه، د احساس او د ګداز
ژوند و ټول رسا خبرې، او خطا خطا خبرې
د هغې دنيا خبرې او د دې دنيا خبرې
بخت مې د پاڼې په شان ورژوه
بيا پرې احسان د زمانې وليکه

د شمائلې سليمې شعري تجربې په رښتيا هم خپل قاري حيرانوي. د دې نهه سېلابيزه غزليزه تجربه د ستاينې وړ ده. خو په دغو شعري تجربو کې د دې شعوري کوشش بهرحال شاملِ حال معلومیږي. زما په شخصي فکر دا هم د دې د شعري رياضت ځانګړتيا ده. خو لی او آهنګ يې د ټپې له فطري آهنګ سره هم آهنګي نه لري. خو د شمائلې دغه لانديني تجربه بيا هم دا استحقاق لري چې و شعر و شاعري ته يې يو بل ځانګړی بحر ور پېرزو کړی دی.

اړوي رنګونه د ځوانۍ
تا پسې زهير مې دی تصوير
اوس نه پکې ساز شته نه آهنګ
اوس لکه تصوير مې دی تصوير

تر کومه حده چې د شمائلې د دیارلس غزلیز بحر شعري تجربه ده هغه هم د ټپې له دویمې مصرعې سره څه علاقه نه لري، ولې چې د ټپې دویمه دیارلس سېلابیزه مصرع ځانله خپل فطري رنګ او آهنګ لري. خو د آغلې دغه شعري تجربه هم ماته د دې ذاتي اختراع ښکاري. خو د شاعرانه فکر په اعتبار یې دې بحر کې دومره اوچت لوړ شعر ویلی چې ستایل یې په څو تورو کې راټولول ښخي ممکن نه دي. لکه دا شعر یې د بیا بیا ویلو حق لري:

چېرته زمانه هم وه زما د بې نیازۍ

زه هم ټولېدم په څراغونو لکه رېګ

ذکر شوی شعر د بې ساخته اظهار یوه عالي او مثالي شعري نمونه ده. یو بل شعر یې هم وګورئ!

لاړه نغمګي د شمائلې د زړګي

اوس یې لټوه په ساحلونو لکه رېګ

اوس که یې د نظم په شعري ریاضت یو کوټلی نظر وغورځوو، نو داسې ښکاري چې شمائله سلیمي په نظم کې هم خپله ځانګړتیا یا خپل رنګ لري. که یې د مثال په توګه یو نظم «تسکین» راواخلو، نو آهنګ یې د غني خان د شعري آهنګ سره هم آهنګ ښکاري خو کمال یې دا کړی چې د دې نظم توري د شمائلې له شخصي داخله د ملغلرو په څېر بې ساخته را وارد شوي دي. همدغه یې د نظم‌ګوئي انفرادیت او خاصیت دی. کوم چې زما په خیال د ډېرې ستاینې وړ دی. خو په دې نظم کې په یوې مصرعې کې تربنه سهوه شوې، عین ممکن ده چې دا غلطي د کمپوز له سوبه وي. د شمائلې دا مصرع د نظم روان ردم او آهنګ زخمي کوي. مصرع وګورئ:

دا سوسن او اذیت او ګلان عنطري

دا مصرع باید داسې وای

دا سوسن، اذیت او ګلان عطنري

او د نظم روان آهنګ ئې داسې دی:

ستا چشمان جوهري

او زلفان عنبري

ناز ادا مرمري

او باڼه خنجري

او دوې مصرعې ئې نورې هم په دغه آهنګ کې دلته نقل کووم.

نه قابل دی د مرګ، نه لایق د زوال

دا جمال او جلال، او حسین خدوخال

مطلب دا چې د دوئ «تسکین» نظم بشپړه په هم دغه ردم او آهنګ کې دی. زېربحث نظم د مستۍ او بدمستۍ یوه د یادونې وړ شعري بېلګه ده. د ایمېجري نه لبرېز نظم دی. د شاعري په سپېڅلې ژبه کې ویل شوی دی.

خپل لذت او نزاکت لري او د شمائلې شاعرانه لېونتوب پکې خپل وزر رپوي، که چرته د دې د نظم په مجموعي روایت د څه ویلو جسارت وکړم، نو به ووایم چې شمائلې نه صرف ښه نظم ګو شاعران په کوټلې نظر لوستي دي، بلکې د اساطیر د داستاني نظمونو د Myths یې هم په زړه‌پورې مطالعه کړې ده. په هم دغه ذکر شوي تناظر کې، که چرته د شمائلې «غندل» نظم راواخلو، نو په اسانه زما د ذکر شوي دعوې اثبات کوي. د دې نظم څو مصرعې وګورئ:

انائي سجدې ستایل دي
د خوبونو په سرور کې
په عیسی پسې ختل دي
د هوس له درمساله
د کعبې د مخ غندل دي
او یو بل نظم «تغافل» یې په بیا بیا ویلو ارزي:
څه خبرې مې په زړه کې
له مودو راسې تاویږي
څوروي مې په لمانځه کې
او ساګانې مې ډوبېږي
څه خبرې مې په زړه کې
لکه نجونې له مستۍ نه بنګړي مات کړي
په راغونو، په لاله کې
د نازونو تندي مات دي
همګي پسرلي تېر کړي له سقره
د مریم اوښکي مې توی شي له ځیګره
د «احساس» نظم یو څو مصرعې یې داسې انځور کړي دي چې:
نن مې د زړه احساس عجیبه شانته
خوروي زړه په ګلابونو باندې
په ورانو شوو لحدونو باندې
په هیرو شوو تاریخونو باندې

ما په خپل ځان پسې راکاږي په اورونو باندې

په دوزخونو باندې

د یو بل نظم دا مصرعې وګورئ:

ما د غم هندوې پرېښوې په ګنګا کې

د تذلیل کښتۍ مې ډوبې کړې دریا کې

چې زما په تحفظ به وې ولاړې

همدارنګه «امتیاز» نظم یو اساطیري مزاج نظم معلومیږي. زما په شخصي فکر په اصل کې شمائله سلیمي د نظم ډېره لوړه او اوچته شاعره ده. ولې چې د دې شعر په صنفي روایت باندې هغه خورا دسترس او ګرفت لري، چې زما په خیال د نظم په میدان کې دا د لفظونو ښه بازیګري کولای شي. د شمائلې سلیمي په شاعري باندې بحث کول دومره اسان کار نه دی.

زما مشکل دا دی چې زه هر وخت په یو څه نا څه لیکلو باندې بوخت یم. زما خو زړه غوښتل چې د دې د یو دوو نظمونو کوټلې ساختیاتي مطالعه وکړم، کوم چې زما په خیال اوچت او مثالي نظمونه دي، خو داسې شاید فی الوقت ممکن نه دي. د شمائلې سلیمي شعري ریاضت زما په شخصي فکر د ډېرې ستاینې وړ دی.

د شمائلې په ذات کې یوه ښېله او منفرده شاعره ساوې اخلي. خو زما په خیال لا پورې دا شاعره د دې په ذات په کې سل په سله نه ده راژوندۍ شوې، که چېرته دا په پوره توګه را ژوندۍ شوه، نو بیا به شمائله سلیمي یوه لویه او لازواله پښتنه شاعره ثابته شي او دا ناممکن بالکل نه ده، که چېرته و غزل ته هم پاملرنه وکړي، نو په دې اړه دا خپل مقام پیدا کولی شي. د دې شعري روایت د مطالعې وروسته زه ترېنه ډېر زیات توقعات او امیدونه لرم او زه یقین لرم چې زما دا خوب به بې تعبیره نه خیزي.

محمود ایاز

سکام ادبي اکادمي کوټه

جنوبي پښتونخوا

## پښتنې په قامت سترې نه دي څه دي

په یو داسې وخت کې چې پر پښتون افغان وطن د جبر تور څادر خور دی او له بده مرغه ورځ تر بلې د جهالت توره وریځ نوره پسې خوریږي او د تېرو دوو نیمو کلونو راهیسې په ګران وطن افغانستان کې زرګونه لوښې او خویندې د اسلام د سپېڅلي دین پر نامه له علم څخه په زور ګرځول شوې دي او خدای خبر چې تر کومه وخته به یې لا دغه توره شپه په نصیب وي.

نو په یو داسې وخت کې چې دې لاس ته د یوې پېغلې په هر معیار او تول پوره شعري مجموعه ورسېږي، نو انسان ته یو عجیبه د امید او سرور احساس کیږي، د کوم چې بیانېدل لږ راته ګران کار دی.

د شمائلې سلیمي د شعرونو مسوده په لاس کې لرم او باوري یم چې دا به په دې ساه‌ډوبېدونکي ماحول کې د سهار شمال ثابتیږي، کومه چې به ډېرو هغو ژبو ته چې د سوالونو جرات ښني چې د اظهار وسیله نه لري.

شمائلې د غزل او نظم دواړو په میدان کې د خپل فکر اسپې داسې ځغلولې چې سړی ورته ګوته پر غاښ پاتې کېږي.

شعر یې فلسفیانه رنګ لري، خو ډېر ځایونه کې یې شعرونه د مایوسۍ انځور وړاندې کوي او له غم لړلي ژونده پکې سر ټکوي. شمائله وایي:

د غـرغـرو د پـاســـه ژونـد کـومـه
د کمترۍ احســـاســه ژونـد کومـه
روح د جســـد لـه پـنجرې سر ټکـاوه
زه چې لـه کومـه راســه ژونـد کومـه

لکه څنګه چې هر شاعر د یو حساس زړه ذهن او روح خاوند وي او دغه حساس زړه او ذهن تل شاعر د سوال کولو، بغاوت کولو په اذیت کې مبتلا ساتي، نو شمائله هم د هغې حساسیت په اذیت کې مبتلا ساتي، خو دا په دې اذیت کې هم لذت محسوسوي چې د دې د فطري قوانینو څخه بغاوت او د دې د فکر ځانګړتیا ښکاره کوي. لکه چې وایي:

هــر اذیــت شي اذیــت ،اذیــت بــل اذیــت
او بــل د دې اذیــتــونــو لــذت بــل اذیــت
اول دې راکــړ شـــــمائــلــې د غــزل اذیــت
بیـا لـه دې ځـانـه تښـــتېـدونکی فطرت بـل اذیـت

دا د ژوند پر دښته د یوې ترهېدلې هوسۍ غوندې ښکاري، ځکه په عالم ارواح کې پر خپله کړې وعده هم پښېمانه غوندې ده.

ژونده ګوټ که شې نو هم به دې وانخلم
چې تر شـا دې غـرونه غـرونه الم ګورم

د شمائلې اشعار د خودۍ د فلسفې ډېرې غوره نمونې هم دي، لکه دا دوه شعرونه:

د مجنون او فرهاد مینې، راته ووې شمائلې
په وتو یو له دا ستانه، یو څو ګامه راسره سه

یا:

داستان د زلیخا یې شمائلې کـــــــړو لیلام

د خدای پر لور يې بوتلمه الزام مې چې گانه

هغې ته د خپل زړه زخمونه هم خوښ دي چې دا پکې د يو چا انځور گوري، ځکه د خلگو د خواخوږۍ سه ناخبره او ماورا وايي:

خلگ زما د زړه زخمونه ژاړي
زه پکې ستـــا د مخ رڼا لټوم

شمائله که يو خوا د دوران غمونه زړوي، بلخوا يې د وطن غمونه هم ارام ته نه پرېږدي، لکه چې وايي:

وطن دفتر شـــــو د غليمانو
چينـــــه به ژاړم دفتر به ژاړم
له حده تيرې راباندې کيږي
کاڼی خو نه يم چې نه به ژاړم

او يا دا چې:

د دې وطن په هر بازار کې سوال کوي حسينې
بې حسه پرې تېرېږي قافلې د رجيم گـــــــوره

د وطن بدې ورځې که يوې خوا ته د شمائلې روح نا ارام کړی بلخوا ته يې د وطن و رهبرانو ته نارې کړې او د هغو ضمير د راوښولو هڅه يې کړې ده:

د پښتون د وطنونو بې پښتو رهبره اورې
لو روان دی د ځوانيو د مغل په کتـــارو

د مذهبي دکاندارانو مخ ته په هينداره نيولو سره څه ښه وايي:

په زړه داغ لکه عجم يم د مکې مفتي خبر کړئ

کــــــه تپوس مې چېرته وکړي د حــرم له منارو

او پر افغان وطن د مسلط څلوېښت کلن جنگ څه ښه انځور یې وړاندې کړی:

دا کونډې رنډې جنگ جهاد او سوځېدلې درې

واړه تحفې دي د عــــرب او د عجم راســــه

د شمائلې اشعار ځای پر ځای د اساطیري تلمیحاتو ډک دي چې د اغلې د مطالعې پر ژورتیا او د فلسفیانه مطالعې پر لاسبري شاهدي ورکوي، په ډېرو اشعارو کې یې د سوالونو په پورته کولو سره ولاړو اوبو ته کاڼي غورځولي، لکه چې وایي:

کــه ابتدا وه او که زوال وو، دواړه خراب وو

دلته حرم وو که درمسال وو، دواړه خراب وو

د اغلې سلیمي د شعر ژبه زړوره او له جرااته ډکه ده چې څه یې پر زړه دي، هغه یې په ډاډه زړه لیکلي دي. هیڅ ویره یې نه ده کړې، د دې جرات تر ټولو غوره نمونه یې په «انکار» نومې نظم کې په ښه توگه لیدل کېدای شي:

هو ماانکار کړی و

له  هغه ژونده چې په سرو وینو مې رنگ لیدلی

په سرابونو کې و

په گلابونو کې و

هر هغه څه کې و، چې ما یې تماشه نه غوښته

که په جامونو مې و

که په نازونو کې و

که غوربتونو، جحیمونو او شهرونو کې و

هو ما انکار کړی و

د شمائلې هر شعر کائیناتي حسن، فکري ژورتیا او ښکلا لري. همدا وجه ده چې پر هر زړه خپل ژور اثر پرېږدي. شعر يې د مانا او مفهوم په زیور پسوللی دی، ځکه په هر وار لوستلو سره بېل خوند لري. د شعر جدیت، نوښت او فکري جرات يې لکه خال پر جبین برېښي. د ځان له درده سره سره يې د جهان درد هم ځوروي. داسې ښکاري لکه یو باشنده چې ټول کائنات یې کور وي او  د خپل کور د هر وګړي د دردونو څرېکې په زړه کې محسوسوي.

د شعر اسلوب تراکیب او تشبیهات او استعارات يې افاقي او له نوښته ډک دي، چې د اغلې پر عالمي ادب د لاسبري ښکارندویه دي.

په اخر کې شمائلې ته پر دې بهترین شاهکار د زړه له تله مبارکي وایم. پوخ باور لرم چې دا شاهکار به د ډېرو هغو ژبو ته د اظهار جرات ببښي، چا چې تر اوسه د اظهار وسیله نه د موندلې. د دې درونډ اثر په لوستلو سره زه په لوی زړه دا دعوه کوم چې پښتنه پېغله په هیڅ صورت د نړۍ د پرمختللو هیوادونو تر پیغلو پاتې نه دي، که یې د اظهار ژبه غوڅه نه شي.

خوشال څه ښه ویلي:

چي د باغ سروې يې پستې تر قامت دي

پښتنې په قامت ستــرې نه دي څه دي

درنښت

پروفیسر فیض محمد شهزاد

01/21/2024

## د لوی څښتن په ستر او سپېڅلي نامه

د شعر او ادب نړۍ ډېره پراخه، شتمنه او له ښایستونو ډکه ده. په دې شعري نړۍ کې د شعر او ادب خاوندانو خپلې شاعرانه طبعې آزمایلې دي. د ادب ډګر یې تر دې لا نور هم پراخ کړی دی. په دې کې هیڅ شک نشته چې د ادب او شعر ناوکۍ او د شاعر شعري نړۍ له دې پراختیا سره سره بې کچې ښکلې ده. د شعر او ادب یوه ځانګړتیا په خپله د شعر او ادب ښکلاییز اړخ دی همدغه ښکلاییز اړخ په خپله شعر او ادب ته روښتیا، رښتینولي او ځلایښت ورکوي. په پایله کې د شاعر د سپېڅلو احساساتو او عواطفو یوه نړۍ پرانیزي.

د شعر لپاره پوهانو، ادیبانو، ادبپوهانو او منطقیانو هر چا په خپله برخه کې د تاریخ په بېلو بېلو پړاوونو کې بېلابېل تعریفونه کړي دي.

ځینو شعر مخیله او انځوریزه وینا ګڼلې، ادیبان او عروضیان بیا په دې اند دي چې شعر، موزون او قافیه وال کلام دی.

وروستني یا متأخرین بیا دا وایي:

شعر مخیله، موزونه او قافیه واله وینا ده.

نور ادبپوهان، کره‌کتونکي بیا د شعر لپاره ښکلي تعریفونه لري او داسې یې را پېژني:

شعر په عاطفې او تخیل پورې تړلی نغښتی کلام دی چې په آهنکینه ژبه ادا شوی وي.

د پوهانو ادیبانو، څېړونکو او د نظر خاوندانو د شعر د پورتنیو پېژندلو او تعریفاتو څخه دا څرګندیږي چې شعر د پوهاوي په برخه کې د ژور شعور او احساس سره تړلې او مله وینا ده. شعر د شعور له مادې څخه مشتقه کلمه یا لفظ دی چې پخپله شعور هم د خبرتیا او پوهاوي مفهوم او مانا افاده کوي.

ژبه په دې برخه کې خپله رغنده ونډه لري. د شعر پوهانو له انده په شاعرانه ژبه کې شاعران د ژبپوهنې او د ژبې منطقي جوړښت په پام کې نه نیسي او ژبه یوازې د پوهولو او راپوهلو د وسیلې په توګه نه پېژني. شاعرانه ژبه خپل ځانګړي اصول، کالب او قواعد په نظر کې نیسي. شعري کارنده اصول په دې برخه کې اړین بولي. په شعر کې د شاعرانه الفاظو د ځای ځایګي پېژندنې ته غوراوی ورکوي.

په حقیقت کي شاعر په ژبه کې د شاعرانه الفاظو د انتخاب لپاره د عادي ژبې تر پولو ور اوړي. یوازې شاعرانه ژبې سره شعري هنریت په پام کې نیسي. یوازي د شعر لوستونکي د عادي ژبې او شاعرانه ژبې ترمنځ دغه توپیر احساسولای شي.

وزن، قافیه، او د الفاظو د غږونو همغږي په شعري ژبه کې د ژبې د عادي حالت په توپیر استعاري، مجازي ښکلاییز کنایي او ایجازي حالت ځانته غوره کوي.

تخیل او د شاعرانه خیالاتو بېلابیلې بڼې د شعر له مهمو شاعرانه توکو څخه ګڼل کیږي. کیدای شي د شعر دغه خیال انګیزې او تخیل د شعر د کلمې د پراخې او نامحدودې مانا سبب وګرځي.

انځور او خیال د شعري مهم عنصر په توګه په شعر کې د عاطفې د راپارونې لامل کرځي. د خیال دغه صورتونه د شعر ښکلاییزه برخه لا نوره ښایسته کوي. خیالات او شاعرانه انځورونه په شعر کې مهم او ارزښتمن توکی دي. د دې مفاهیمو پراختیا د شاعر ذهني هڅې او کوښښونه د انسان او طبیعیت ترمنځ د اړیکو ښه مناسبت ایجادوي. دغه ټول ذهني تړاوونه چې د نورو د ویښتیا لپاره چې د شاعر په شعر کې یې ځرګندونه کیږي. د دې ویښتیا لاسته راوړنې موږ ته راښیي.

موسقیت د اوازونو او غږونو طرز، لارې چارې، شعریت او هنریت دا په خپله د شعري عناصر وپه اړه لوی بحث دی. د شعر پوهانو په اند په شعر کې موسقیت، آهنګ او د لحن یا غږ متناسب جوړښت له اړینو شعري توکو څخه دی چې هر

غرض او مطلب د اوازونو او غږونو په ځانګړي طرز، آهنګ او شعري ریتم سره ادا کیږي.

خو تر دې ځایه چې کومې خبرې وشوې، د اصلي موضوع لپاره یوه مقدمه یا سریزه ده. که له مقدماتي خبرو څخه اصلي موخې او موضوع ته راوګرځو، هغه د درنې نازکخیالې شاعري آغلې شمائلې سلیمي د شعرونو د ټولګې کتنه ده. د یادې شعري ټولګې جامع او هر اړخیز تحلیل، شننه، د شعر په جوړښت، شعري کالب او د شعر په منځپانګه باندې غواړم ځغلنده نظر ولیکم د دې تر څنګ یې څه ناڅه د شعر تخنیکي اړخ، ادبي فن، مانیزو اړخونو هم خپل نظر ورکړم، ځکه د اغلې سلیمي د شعري ټولګې په ټولو اړخونو بحث کول کتاب، کتاب خبرې دي او زما په دې سریزې د مشخصې او ټاکلې موضوع د لیکنې له حوصلې او زغم نه وتلی کار ګڼم. غواړم یوازې د شعرې ټولګې د ادبي فن او هنر او د ښکلګه‌ییزو انتخابي شعري بیتونو معانیزې برخې باندې خپلې خبرې را ټولې کړم.

دا چې د اغلې شمائلې سلیمي د شعرونو زیاتره برخه غزلونه دي، نو پکار ده چې په غزلیز فورم باندې لنډې خبرې ولرم.

په غزلیز فورم کې د طبیعت ښکلاوې، طبیعي ښایستونه، انساني ژوند او په انسان پورې اړوند موضوعات راځي.

غزل په باطن او معنویت کې په مجازي، استعاري او کنایي توګه تر ډېره ژور مفاهیم او دقیقې ماناوې جوتوي.

په اوسنۍ یا معاصره دوره کې غزل د منځپانګې او فکري اړخه د نوي عصري ژوند له پراختیا سره نوي مو ضوعات او فکري نوې خبرې په ځان کې رانغاړي.

په لره پښتونخوا کې پښتو اوسنۍ یا معاصره دوره کې مشهور غزل بول نازکخیال شاعر ښاغلي اروا ښاد امیر حمزه شینواري د پښتو غزل ګلبڼ په ښایسه غزل سره زیات رنګین کړ.

حمزه بابا په خپل دور کې پښتو غزل ځوان ګڼلی چې نوموړی یې د پښتو غزل د بابا تر مقامه رسولی دی. خپله وایي:

ستا په اننګو کې د حمزه د وینو سره دي

ته شوې د پښتو غزل ځوان، زه دي بابا کړم

دمګړۍ په پښتو غزل کې ماشاالله د پښتو غزل بولو شاعرانو غزلونو د پښتو ادب ګلبڼ ته خورا ښکلا او ښایست ورکړی دی. د پښتو غزلونو لمن یې لا هم ویړه او ډېره پراخه کړې ده چې په دې دور کې د پیر محمد کاروان او درویش دراني د نومونو زیاته یادونه کیږي. همدا شان ډېر نور د غزل شعر حقدارو کسانو چې نه دي یاد شوي، له پامه نشو ایستی.

د غزل شعر په دې غوړېدلې معاصره یا اوسنۍ دوره کې د پښتو ادب آسمان د پښتو ادب ځلنده ادبي ستورو غزل بولو، شاعرانو باندې ځلانده او ښایسته شوی دی. په دې برخه کې ډېرو غزل بولو نارینه او ښځینه شاعرانو په پښتو غزل کې خپلې طبعې ازمایلې او د غزل ډګر ته زیات شمېر غزل بول شاعران راوتلي دي.

له دې ډلې څخه یوه هم نازکخیاله او د نورو نظمونو تر څنګ یوه غزل بولې وتلې درنه شاعره «اغلې شمائله سلیمي» ده، چې شعري اوسنۍ ټولګه یې زموږ د نظر لیکنې لپاره زموږ په لاس کې ده. د ښکلو نظمونو تر څنګ یې د پښتو غزل ته یوه نوې روحیه او لوړ بدیعي او هنرې نوښت او ابتکار ورپه برخه کړی دی، چې غزلیز شعر ته یې په نوښتګره بڼه ځانګړی خوند رنګ او زیاته ښکلا وربښلې ده. د غزل منځپانګه یې له رنګارنګو مضامینو څخه بډایه او په ادبي ښکلاوو مالامال ده.

شاعرانه الفاظ يې ظريف، خواږه او له ځانګړي لطافت څخه يې خوند رنګ موندلی دی.

اغلې سليمي په شاعرانه ايجاداتو کې خپل ځانګړي سبک او بېل شاعرانه طرز او لارې څخه په کار اخيستنې خپلې هڅې او زيارنې نه دي سپمولې چې هاند او زيارنې يې واقعاً د زياتې قدردانۍ، پوره تقدير او ستاينې وړ دي. په راتلونکې کې يې بيا هم د ښو ادبي ايجاداتو، بدايعو، ښکلو شاعرانه او اديبانه هڅو په تمه يم.

درنې، نازکخيالې، نوښتګرې او غزل بولې شاعرې اغلې شمائلې په غزل، غزليزو خوږ شعرونو او د دې تر څنګ يې په ټولګه کې د خوږو نظمي اشعارو مانيزه برخه په واقعيت کې د زيات تقدير وړ ده او تر څنګ يې د ادبي فن، هنر او ادبي ښکلاوو ادبي بديعي معنوي، لفظي صنايعو او جوړښتونو باندې د غزليزو شعرونو او نظمونو دغه شعري بڼ لا ښايسته کړی دی.

حقيقت خبره او له مبالغې پرته دا ويلای شم چې د يادې شاعرې شعري کلام بليغ، فصيح او سليس دی. شعري تخيل او انځورونه يې ډېر طبيعي زيات ښکلي دي. د الفاظو او په شعر کې د آهنګينې برخې طبيعي حالت يې واقعاً ډېر خوږ او زيات په زړه پورې دی.

د الفاظو او کلمو په انتخاب او ټاکنه کې يې تر اوسه زيار او هڅه کړې ده. غزليز نظم يې په حقه د قدردانۍ وړ دی.

شاعر، ليکوال اديب په واقعيت کې د خپل ماحول، چاپېريال، ټولنې او ولس د اندونو، فکرونو، دود دستور، کلتوري او ملي ارزښتونو ترجماني کوي. د ټولنې غوښتنې او تقاضاوې په پام کې نيسي، د ټولنې د ناخوالو دردونو، ستونزو، کړاوونو ژوندي انځورونه په خوږه شاعرانه ژبه وړاندې کوي. واقعيتونه بيانوي، يوازې بيانولو بسنه نه کوي، د ټولنې د شته ناخوالو، ستونزو، خنډونو لاملونه او حل لارې يې هم

ټولنې ته ور په ګوته کوي. د ژمن، متعهد او رسالت لرونکي شاعر او ليکوال په توګه خپله ژمنتيا، تعهد او رسالت لري، شعر د شعر لپاره، هنر د هنر لپاره، ادب د ادب لپاره د تشو لفاظيو په توګه نه کاروي، بلکې شعر، ادب، فن او هنر د ژوند لپاره د يوه ستر ټولنيز، فرهنګي، سياسي مثبت بدلون، تحول او پراختيا د وسيلې په توګه د ولس، خلکو، پرګنو او هيواد د چوپړ جوګه ګرځوي.

په دغه برخه کې د اغلې سليمي شعر د يوې مبتکرې او نوښتګرې شاعرې په توګه خپل رسالت ماشاءالله تر ډېره بريده ادا کړی.

په شعري جوړښت کې يې باريکبيني موشګافه تخيل واقعاُ ډېر ژور دی. د ادبي، شعري ځانګړو نزاکتونو تر څنګ يې په ځانګړي سلاست، فصاحت کې فکري اړخ خورا دقيق او د پام وړ دی. د شعري کالب، شعري منځپانګې، موضوع او معنا ترمنځ پوره مناسبت په نظر کې نيول شوی دی. په اصطلاح الفاظو او ماناوو يو له بله سره د مطابقت اصل تر ډېره په پام کې نيول شوی دی.

په شعري منځپانګه کې را ټول شوي شعرونه يې په بلاغت کې د اېجاز تر پولو پوري رسيږي. د اغلې سليمي د شعرونو دغه اړخ واقعاً يو نوښت او غوره ابتکار بولم. په شعر کې د قافيې د مناسبو کلمو انتخاب يې ډېر خوندور او په زړه‌پورې دی. وزن د شعري توکو له ډلې څخه ارزښتناک شعري عنصر دی.

په ياده شعري ټولګه کې تول، د مسرو ترمنځ موازنه يا شعري اوزان د پښتو ژبې د څپه‌ييز (سيلابي) سيستم پر بنسټ ډېر کره دي. د وزن اصول او قاعدې يې په بشپړه توګه په پام کې نيولي دي. د شعري بيتونو ترمنځ يې د وزن پوره خيال ساتلی دی.

شعري ژبه په کلام کې تر ټولو غوره عنصر (توکی) دی. په شعري ژبه کې د اغلې سليمي شاعرانه ژبه واقعاً د کمال درجې ته رسېدلې ده. د الفاظو ښکلی انتخاب يې

دغه اصل ته قوت ورکوي. د الفاظو غوره ټاکنه د ښایسته تشبهاتو، غوره استعاراتو، نادرو کنایاتو په خوږه ژبه سره اداینه، شعري ښکلی انداز یې لوستونکی د الفاظو له ظاهري معناوو څخه د الفاظو مجازي یا مقصودې معناوو ته رابولي. چې د دې شاعرانه ژبې ښکلاییزې برخې د اغلې سلیمي په شعر کې د نوموړي د شعري قوت تومنه لا نوره هم زیاته کړې ده. تخیل خو هسې هم تر ډېره بریده د شاعرانه او شعري خیالاتو نړۍ لید او له پېښو څخه د انځور اخیستنې لیدلوری ټاکي.

له شاعرانه تخیل څخه پرته شعر د یوه بېروحه جسد په مانا دی او د هسې جامدو الفاظو په اصطلاح یو بې خونده نظم او یا د شعریت پر ځای د شعار جامد توري او لفظونه ګڼل کیږي.

که د اغلې شمائلې سلیمي د شعري خیالاتو دغه جونګ په ژوره توګه مطالعه کړو، ان د شاعرانه نازکخیالیو تر درشله ور اوړي له طبیعت او انساني ژوند څخه د انځور او تخیل اخیستني برخه یې په ډېره عالي توګه احساسولای شو.

په شعر کې موسیقیت او آهنګینه برخه د شعر د خوند رنګ په مانا شعري مالګه ده چې اغلې شمائلې دغه شعري اصل، په شعر کې موسیقیت او آهنګینه برخه تر ډېره بریده ښه مراعت کړې ده. او مناسب الفاظ یې په مناسب ځای کې راوړي دي. په خپل شعري کلام کې یې ځانګړی ریتم، موسیقیت او خوږ آهنګ رامنځته کړی دی. دا هغه وخت ښکاریږي چې د نوموړی شعر په ځانګړي انداز سره دیکلمه شي. او د دې تر څنګ شعري فن او هنر او د بدیعي لفظي صنایعو اغېز او مؤثریت هم د آهنګ په برخه کې له پامه نشو غورځولای.

اغلې شمائلې سلیمي په شعرونو کې عاطفي برخه واقعاً د پوره یادونې وړ ده. په شعر کې یې عواطف زیاتره د مینې فراق وصال، د بېلتانه او د خلکو د ژوندانه د بېلو بیلو شاعرانه احساساتو استازیتوب کوي .

په دې برخه کې د شاعرې سليمي د شعري مهارت کچه او اندازه څرګندیږي. همداشان د یادې شاعرې د شعر، د منځپانګې (محتوی) فکري او مانیزې برخې یا موضوع ته که را وګرځو، نو د شاعرې په شعر او هنر کې فکري اړخ د قوت او نوښت له اړخه د زیاتې پاملرنې وړ دی. اړین موضوعات، فکر او محتوی یې ښه او په زړه پورې ټاکلې ده. د موضوع معنویت او فکري اړخ یې د ټولنیز ذهنیت جوړونې لپاره ګټور بریښې. که د اغلې شمائلې سليمي فکري او مانیزه برخه د منځپانګې په توګه په غور وکتل شي، د مانا او فکري اړخ له مخې یې په غزلونو او نظمونو کې د مانا پوره ژوروالی او پراخوالی شتون لري. په زیاترو شعرونو کې د ایجاز په توګه په ډېرو لنډو او شمېرلو الفاظو کې لوی اهداف نغښتي ښکاري. او یا هم د شعر سېلابیک جوړښت له مخې په لنډو څپو لرونکو لفظونو کې ډېرې لویې ماناوې او ژور مفاهیم ځایوي. چې هم ذهنیت جوړونې او فکري لوی تحول او بدلون ته لاره هواروي.

په شعر کې په فکري لحاظ عام فهمي یو مهم او اړین ټکی دی، شاعر لیکوال او ادیب باید تر ډېره بریده د عوامو فکري فهم او درک په نظر کې ونیسي، ځکه د شاعر شعر د ټولنې ولس او خلکو لپاره د دوی د ښه پوهاوي کچه او معیار په پام کې وساتي، چې درنې شاعرې اغلې سليمي تر ډېره بریده د خلکو او پرګنو دغه اصل ته پاملرنه کړې ده، خو بیا هم د یادې شاعرې په شعري ټولګه کې ځینې داسې نظمونه او غزلیز بیتونه هم شته چې عامه فهم او درک ته زیات نږدې والی نه لري او یوازې خواص او په شعر او ادب کي ماهرین او په ادب کې مسلکي اشخاصو لپاره د پوهاوي او درک وړ دي، نو په پایله کې دغه خبره کول اړینه ګڼم، چې تر ډېره باید شعري مقبولیت د عامه مقبولیت په معیار و ارزول شي، چې تر ډېره دغه اصل ته په یاده شعري ټولګه کې پاملرنه شوې ده.

د اغلي سليمي د شعر او شاعرۍ په برخه کې چې تر دې ځایه کومې خبرې وشوې، لا هم کمې دي، ځکه د یادې شاعرې شعري هنر تر دې ډېر اوچت دی.

په شعرونو کې ادبي معنوي او لفظي صنایعو برخه هم زیاته په زړه پورې ده، په لاندې شعري بیت کې یې د تجنیس ادبي معنوي جوړښت زیات ښکلی راوړی دی:

طور به هسې نه وي نړېدلی په زوال کې

کور چې په کوم تور زما د پیر ونړیده

په دغه غزلیز بیت کې د (طور، کور او تور) د الفاظو ترمنځ یې مطرف جناس یا د تجنیس لفظي جوړښت بیت ته شعري ښکلا ورکړې ده.

هیواد، وطن او ټاټوبي سره مینه یوه غریزه او انساني فطرت دی. له وطنه جلاوالی او بېلتون انسان تر جنون او لېونتوبه پورې رسوي. له لاندني غزلیز بیت څخه یې له هیواد سره سپېڅلې مینه او حب الوطن ښکاره دی:

پردی وطنه روهیلی دي کړمه

پردی مسیره ماته خوب نه راځي

لاندې غزلیز بیت یې د نازکخیالۍ تر څنګ په ښایسته تفضیلي تشبه ښه سینګار کړی دی:

دا خو زه یم چې له خپله غمه ژاړم

شمعې نه سوځي له خپله حرارته

په خوږو استعاراتو او ښکلو تشبهاتو کې یې د وصال د شپې سباوون په خپل شعري تحلیل خورا خوږ او ښه انځور کړی دی. د (دزړه کانې) په ترکیب کې یې اضافي مؤکده تشبه او د نارې کلمه یې د مستعار لفظ (مستعار منه) په توګه شعر ته ځانګړی ملاحت ورکوي.

د زړه کانې کې مې شور او درزا وشي
تا چې یاد کړمه نارې د سبا وشي

د شاعرې اغلي سلیمي شعري جونګ د ښکلو ادبي بدایعو او صنایعو څخه مالامال دی. په لاندیني بیت کې یې د ژورې او غورې مانیزې برخې تر څنګ د زاید جناس لفظي ادبي جوړښت د شعرناوکۍ لا هم ښه سینګار کړې ده:

زه د خاورو له فطرته غېږه تاو کړم
چې سما سره پیمان د سماع وشي

په هر صورت لکه څنګه چې مو مخکې د اغلي سلیمي د شعر په مانیز اړخ تر ډېره خبرې وکړې. هغه پخپل ځای دي. کله دغه تعبیرات او مفاهیم د ظاهر نه په باطني یا مجازي ماناوو کي را څرګندیږي.

په یوه شعري بیت کې داسې وایي:

بچي مي ولاړ شي د ساحل غاړې ته
زما د سوال په پیسو بنګ واخلي

والدین په زیار او کوښښ مکلف دي او غواړي اولادونه یې د هدفمند ژوند تر ساحله ورسېږې. خو د مناسب ادبي او ښوونیز چاپېریال په نه شتون کې د خپلو والدینو ټولې خوارۍ او هڅې په اوبو لاهو او یا له خاورو سره خاورې کړي او ټولې هیلې یې په ناهیلیو بدلې کړي.

د بېلګې په توګه یې د تناسب تلفیق او معنوي بدیعي صنعت مراعات النظیر باندې شعري بیت ته بېنظیره ښکلا ورکړې ده:

لرغونی مې ستا د عشق الزام په سر دی
هم آغوش مې دا فلک او دا نشتر دی

په شعر کې يې د تشبه  بېلابېل ډولونه ډېر مناسب راوړي دي، په لاندې بیت کې يې مرسله تشبه ډېره ښکلې ایسې:

لکه سروه په خندا یم شمائیلې

یار مې سترګو کې ګلاب د نیلوفر دی

طباق الاضداد په ادبي بدیعي صنایعو او جوړښتونو کې غوره او مهم ادبي جوړښت دی. په دغه بیت کې يې د ( ژړا او خندا) ترمنځ الفاظو کې  د طباق الاضداد له ډولونو څخه اسمي طباق  ډېر مناسب راوړی دی.

فریب شکنه شوله، د شمائلې خندا

او نمکینه شوله، لکه ژړا د مینې

د وطن او ټاټوبي د چور او تالان په هکله زیاته ګیله منه او  خپل پاک احساسات ډېر ښکلې بیان کړی دی:

چور تالان په وطن ګډ دی عقیدې پکې خرڅېږي

لاله زار زما د تمې، شو مسیر د رېبدون څنګه

په لاندیني غزلیز یوه بیت کې  بیا د تکرا حسن ادبي ښکلا ډېره په زړه‌پورې راوړې:

بل مې شي په زړه څراغ نرۍ نرۍ نرۍ

رادي وړي چې باد اياغ نرۍ نرۍ نرۍ

ادب د ژوند رڼا او مشعل دی. ادب د معاشرې د ژوند ځلا ده، خو په قدر يې هغه څوک پوهیږي چې د ادب د لارې په ادبي ښېګڼو سمبال وي اوله ادب څخه څه ناڅه برخه ولري. په یوه بیت کې له بې ادبو څخه داسې سر ټکوي:

چې مې فکر شو په حال د شمائلې

بویه ناست په بې ادبو کې مهمان

د شعر په باریکو لطیفو او ظریفو لارو سره د شمائلې د شعر نازکخیالي د شعر د ناوکۍ ښکلا څوځو برابره شي او نوره یې هم د شعر دنیاګۍ ښکلې ښکلي شي:

په غاټولو کې اثر و، ستا د مخ د بې نیازۍ

په نرګس کې اندېښنه وه، د احساس او د ګداز

بل ځای (د زلفو غزل) نادره تشبه او اضافي مؤکده تشبه په ظریفو الفاظو او ښې نازکخیالۍ انداز کې ډېره په زړه پورې راوړې:

ځنځیرونه مې پراته وو په مرۍ کې

ستا د زلفو غزل بل الهام ته یووړم

اغلې سلیمي د مینې د نړۍ رازونه په ډېرو ایجازي او لنډ شعري کلام کې ډېر شاعرانه ادا کړي دي. د بیان طرز یې ښکلی او د مینه ناکو عاطفي، ښو احساساتو څخه ډک دی. په یو نظم کې یې  د څو صفتونو یا ستاینو په راوړلو سره د ادبي بدیعي معنوي صنعت (تنسیق الصفات) ادبي جوړښت ډېر خوندناک او په زړه پورې راوړی دی:

ستا چشمانې جوهري

او زلفانې عنبري

ناز ادا مرمري

او باڼه خنجري

لبان هم شکري

رنګ دي هم بادامي

همګي یې صنم

پر دې سربېره د اغلې سلیمي د غزلونو او نورو نظمونو برخه لا ډېره جذابه او زیاته په زړه‌پورې ده، حقیقت دا دی چې د شعر په ټولو برخو په ځانګړې توګه د غزل په

برخه کې يې خيالات شاعرانه، انځورونه واقعي دي. شعري سليقه، ادبي ښکلاوې، او ادبي شعري نزاکتونه يې پوره پوره په نظر کې نيولي. په ټوله کې يې شعري ټولګه د يوې ژمنې شاعرې په توګه کله هم شعري رومانتيکه بڼه او تر ډېره بريده يې د يوې رسالتمنې شاعرې په توګه واقعيتونه په رياليستيکې بڼې سره په خورا ښکلو رنګينو شاعرانه الفاظو کې ادا کړي دي.

راتلونکې شعرې لوړتيا يې له ټولګې څخه ډېره د پام وړ ګڼم او ليرې نه ده چې د غزل او نظم برخه به يې په ادب کې يوه ادبي شهکار ته لاره پرانيزي.

درنې اغلې شمائلې سليمي ته په شعري او ادبي ډګر کې د لا نورو مثبتو او ښو برياوو او لوړتياوو په تمه يم!

په درنښت

استاد غلام مصطفی هيله من

## خپلې خبرې

وَخُلِقَ الْإِنسَانُ ضَعِيفًا امابعد..

د خبرو اغاز مې د ضعف له نقطې نه ځکه وکړ، چې دلته انسان کمزوری دی او دا ورته د کاينات خالق ويلي دي. ما د خپلې مشاهدې د ګرفت يوه، يوه هڅه د شعر په سټرکچر کې په شعوري او غير شعوري انداز په خپل کتاب «داغ په نسترن» کې خپل پښتون ملت ته وړاندې کړې. دا هڅه به خورا خامۍ، کوتاهۍ او د ابلاغِ ناقص تصورات هم د ځانه سره لري او د عشرِ عشير په اندازه ښيګڼې به هم لري. زه دلته د دې خبرې سپيناوی هرګز نه کوم چې زه خپل تخليق ته په کوم نظر ګورم خو دا چې شعر و شاعري يوه الهي ډالۍ ده، نو په دې حواله ورته په لوی احترام قايله يم. زما په کلام کې که مافوق الفطرت دی، که مابعدِ طبعيت دی، منفي ابهام دی او که بې ابلاغه ژبه، ټول زما د طبيعت عناصر دي، چې زه يې د طبع ازمايي مشغله ګڼم.

پر دې کتاب، ډېرو ځيرکو ليکوالانو او نقاد استادانو خپلې قيمتي مقدمې درج کړې، چې د تنقيدي اصولو بر خلاف نه دي تللي او په کوټلي او تنقيدي نظر يې د خپل مافي الضمير اظهار کړی دی، اګر که ځينې وختونه يې زما کرښې د سخت تنقيدي ګرفت لاندې راوستې، خو دا چې خبرې يې د تنقيد او کره کتنې اصولو ته په ژمنتيا شوې دي، دا زما لپاره قابل فخر ده.

زما په کتاب ( داغ په نسترن) باندې چې کومو درنو استادانو خپلې خبرې کړې، له هغو هر يو استاد محمد اکبر کرګر، استاد محمود اياز، محترم ډاکټر عبدالله ناشناس، فيض شهزاد او رحمت شاه فراز نه د زړه له تله مننه کوم، خپل ناکام يې راسره ګاللی دی.

نور خپلې خبرې رالنډوم او خپل (داغ په نسترن) ستاسو درانه حضور ته وړاندې کوم. چې د هر ډول حشر جوګه وي، خپل مکافاتِ عمل به ګوري.

داغ په نسترن بویه زما بېنوا عقل

پس له هغه عهده چې نوکر د سحر ما کړو

**شمائله سلیمي**

غزل

عمر مې وخوړ د اور له درنګه
د تندي ټيکه د لاس اترنګه

په امتياز دې هېڅ نه پوهېږم
د لالي ځنګه، د صليب سنګه

په کِفارو دې، راګرځومه
ورکه سکونه، الوتی رنګه

چې اضطراب هم، ځينې بوږنېږي
زړه مې ياري کا، له هغه چنګه

لکه پلوشه، لکه کرکڼه
په دوړېدو يم د زړه له زنګه

د رام کولو علاج دې نشته
د ملاحانو، د کور نهنګه

د شمائلې د خوب ضامن شه
يا خو تاراج شه، تخت و پالنګه

غزل

ستا لوظونه او وعدې په آئینه ښکم
بتخانې د نازولیو په سینه ښکم

په بادونو د خپل قتل زیري ورمه
د زړه راز په هر ګلدان، هره ګمله ښکم

د اشنا د بېغورۍ خبرې اورم
که خطبې د واعظانو په لوحه ښکم

بویه لام د خپلو زلفو ذېل بندي کړم
خپل داستان د منتها پر همسایه ښکم

استحسان مې چاپېر شوی دی له ذاته
په افسون له ځانه سا لکه ډیوه ښکم

خلک نه ساتي لښکر د پردو لونړو
شما ئلې سر به څو پر سهاره ښکم

## غزل

چې کوي مې په سرور او اياغ چارې
زه به خود کوم په زړه د فراغ چارې

ترې چاپېرې دي شغلې زما د صبر
سور غاټول مې کوي زړه کې د داغ چارې

همه‌گي په اضطراب لړلې گرځم
همه‌گي مې دي خطا د دماغ چارې

کړې مې اوښکې ببوسې د ډيوې اوښکې
څه يې زده د قافلې د څراغ چارې

شهلا سترگو نه مې ډک جامونه اخلي
په بلبل باندې مې وشوې د زاغ چارې

نور مې څه د شمائلې له تاراجه
بويه وکړې خزانونو په باغ چارې

غزل

ســـتـا د لېونو ســـترګـو مســـېـر ونـړېـده
راشـــه لـه فـراقـه مـې تـعـمـير ونـړېـده

طـور بـه هســـې نـه وي نـړېـدلى پـه زوال
کـور چـې پـه کـوم تـور زَمـا د پـير ونـړېـده

شـــمعې بلومـه پـه کفران د خپـل تقـدير
ســتـا د زړه لـه سرايـه مې تصــوير ونړېـده

سر مې هســـې پروت دى لکه تور حجرِ اســوَد
غـر مـې د نصـــيـب او د تـقـديـر ونـړېـده

هـېـڅ يـوه سرور سره يـې نشـــتـه حـوالـې
رنـګ مې ســتـا لـه عشــقـه بې نظير ونړېـده

بيا له شـــمائلې نه ســتا حســـن شـــو غافل
بـيـا د ســـلـيـمان لـه تـخـتـه تـير ونـړېـده

## غزل

خم په لاس چې پسې ګرځم په هر لوري
هغه نخل نه مېوه لري نه سیوري

ستا فلک د چا له غمه څه خبر دی
هغه کله له غروره چا ته ګوري

ریښم زړه مې سرحد مات د امتیاز کړو
زمانې یې د کوهکن په نارو پلوري

احتیاج مې له فریاد سره همسر شو
د عماد غوندې خوب وړې یم په توري

زمانې یې چاپلوسۍ ته غاړه کېږدي
عقیده چې شي مضبوطه د کمزوري

زړه مې داسې د لحد تمبو ته شوري
لکه پاڼه د پیپل په هوا شوري

مضطرب راسره ګرځي شمائلې
سرابونه سهارونه مې انځوري

## غزل

ســتا په لارو ـــــ مشــالونه ـــــ د پِراس ږدي
عشــق مې زړه کې نا اشــنا غوندې وســواس ږدي

طـوفـانـونـه مـې پـيـالـۍ لـه مـلـکـه اخـلي
حبـا بو نو کې تصـــو یر د خپـل تمـاس ږدي

یـار زمـا چـاودلي زړه تـه دعـاګـوی شـــو
کـه لوحې چـاتـه پـه قبر خـپـل نـواس ږدي

غـنـمـرنـګـو مـې ارې کـړې د زړه ولـې
ســل نومونه مې په رنګ او په احســـاس ږدي

فـرســـوده شـــولـه دنـيـا د نـګـهـتـونـو
اوس مـې کـانـې د آغـاز او د نـکـاس ږدي

لـه پـردي تـهـذيـبـه ســتـرې شـــمائـلـه
خـال د خـپـلـو روايـاتـو د مـيراث ږدي

## غزل

د قحط زولنو کړمه تقدیر کې زولانه
ولاړه یم په ژوند او په تصویر کې زولانه

ذرې ذرې کړمه، ذرې - ذرې حساب
حصې حصې حصې یم په تفسیر کې زولانه

قاتل د پرښتو هم کوي ژوند په عیش عشرت
زما غوندې دې نکړو په ضمیر کې زولانه

عاصي مې شو له ضعفه هر مدار او هر طواف
یارۍ کړمه د داسې خونې تیر کې زولانه

میخوار مې څه خبر په مجبورۍ او عریانۍ
رندۍ غوندې پرته یم بم و زیر کې زولانه

له کربه په خندا یم شمائلې صبح دم
د ستورو اشنایۍ کړمه په نیر کې زولانه

## غزل

رانه تاو بې شمار غمونه
یو ژوندون هزار غمونه
څه د کور د غوربت چیغې
څه د زړه بیمار غمونه
ما له هره کاره باسي
عشقه ستا د کار غمونه
په هر یون راسره نه ځي
ستا هوښیار هوښیار غمونه
شرمسار مې دي لېمو ته
د اشنا د ښار غمونه
زه یې زیري پسې لېږم
خو راوړي ریبار غمونه
ستا له هجره مې پېژیلي
د کمخو په تار غمونه
خرڅوي په ساده‌رویو
د ریشتو بازار غمونه
ستا به زر وي شمائلې
خو زما اوزار غمونه

## غزل

چېرته به ومومم د زړه آبِ حيات لاړم
ستا د غمونو جاينماز مې کړو راقات لاړم

زه د فرېب تعب په زړه کې گرځولی نشم
له ما نه پاتې شو دا سرای د خيرابات لاړم

ستا له خودخواه نظره تلل وو راترغاړې اشنا
خبره نه يم، په بادرو کهْ په برات لاړم

خلک يې تلل د هواگانو په ځپو ديار ته
زه يې رېزه رېزه تر فرش لکه منات لاړم

د بې حِسی په زنځيرونو مې تالی وهلې
په اور مې وسول ستا د زلفو روايات لاړم

په دې بې حسه ښار کې غم د شمائلې نشته
زندی کومه خپل مرگوني احساسات لاړم

غزل

د غـرغـرو دپـاســـه ژونـد کـومـه
د کـمـترۍ احســـاســـه ژونـد کـومـه

د غم ســېلاب مې د زړه ملک وړی دی
د ډوبـېـدو وســـواســـه ژونـد کـومـه

مـهـین اوربـل مـې الـوده کـړو مـیـنـې
د مـقـدر هِـراســـه ژونـد کـومـه

روح د جســـد لـه پنجرې سر ټکـاوه
زه چې لـه کومـه راســـه ژونـد کومـه

د تشـــې خولې ســـلامه خوښ مې نه یې
د زمـانـې لـبـاســـه ژونـد کـومـه

هېڅ پـه خـا طر د شـــما ئلې نـه یم
د خپـل تنـدي شـــنـاســـه ژونـد کومـه

## غزل

هم باران دی د اشــنا په سر د کاڼو
هم حشرــ دی د نرگس په ور د کاڼو

فـالنـامې د خپلې مینې پکې گورم
ســـپینوم د آئینې ځیگر پـه کـاڼو

خدایزده کوم یو حقیقت ته رســیدلي
خلـک ولي د جومـات منبر پـه کـاڼو

تـا بـه لمر پـه زولنو تړلی راوســـت
ما به مات کړو د فلک وزر په کاڼو

له تاراجه مې روان دی ســیل د زاڼو
لـوغـړومـه تـاراقـي نـظـر پـه کـاڼـو

دا آغـاز دې کړه انجـام د شـــمائلې
چې تندی نه وهي هر ســحر په کاڼو

## غزل

واخیستم د ژوند خړو سیندونو لکه رېگ
عمر مې تویېږي له لاسونو لکه رېگ

نه راپسې راغلې لکه کرب زما د ذات
نهٔ درپسې باد کړم طوفانونو لکه رېگ

چېرته زمانه هم وه زما د بې نیازۍ
زه هم ټولېدم په څراغونو لکه رېگ

بیا رانه ونه شو پرستش د چا د حسن
زه چې بې بها کړم گلابونو لکه رېگ

څوک چې خپل نسب ته وي قائل په بې قدرۍ
پروت به وي په نورو درشلونو لکه رېگ

ستا د یارانې د محک کاڼی مې دی کور
هر که اواره یم په برجونو لکه رېگ

لاړه نغمگي د شمائلې د زړگي
اوس یې لټوه په ساحلونو لکه رېگ

غزل

محبت که د صنم چېرته آسان و
اواره به مې د زړه ولې مکان و

پیمانې یې د یونس تر تحفوظه
خو پلورلی جینکو په یو پېزوان و

ناست داستان ته د شکېدلي پانې د زد و
او قندو کې یې ساتلي ښاماران وو

هیڅ تعریف مې ستا و عشق ته پیدا نکړو
خدای خبر خو نه مې غم نه مې پرسان و

ستا په مخ له راختلیو مجالونو
ترهېدلی زړه دېره په ترکستان و

سرې ویالې یې وې راماتې له هر داغه
زړه مې پروت په کنډولي کې د ریحان و

چې مې فکر شو په حال د شمائلې
بویه ناست په بې ادبو کې مهمان و

## غزل

خوني شوگيره ما ته خوب نه راځي
د زړه له ويره ما ته خوب نه راځي

نن خو څه بل شانې مايوسه يمه
نن خو ضميره ماته خوب نه راځي

هيڅ اطمنان مې درنه نه دی حاصل
دا چې تقديره ماته خوب نه راځي

پردی وطنه روهيلی دې کړمه
پردی مسيره ما ته خوب نه راځي

د سکون فال دې په نوم نشم نيوی
د کوټې تيره ما ته خوب نه راځي

زه پېغورونه د دوستانو اورم
ذاته فقيره ما ته خوب نه را ځي

د شمائلې فراموش فطرته
د ژوند په سيره ما ته خوب نه راځي

## غزل

وران مې شـــو ځيگر لکـه بـابِـل ديگر
گـرځـي مـې لـه غـمـه ابـابـيـل اوتـر اوتـر

زه پـه خپـل جسـد کې پـه عـذاب کړمـه آمـد
مـا غونـدې لاهو شـولو سـاحـل پـه سـمندر

اور دې د چشـمانو سـل کلن شـو زرکلن
زړه مې شـو د دې سـقر قـائـل او سـمـنـدر

سـترگو يې لا نـده کشـيـد کړې عريـاني
گـوره قـدم کـېښـود عـزرائـيـل زمـا پـه ور

تور ماښـامه سـپينې سـپوږمۍ رامې کړه سرور
تَـبـم پـه سـنـدرو د بـې يـاره زړه پـرهـر

عشـقـه شـمائلـه دې سـايـه کړه د جمود
اوس دې لـه حشرـه څـه فـرار او څـه خـطـر

## غزل

که ژاړم ژاړم، نو زه به ژاړم
په در به ژاړم، په وره به ژاړم

چېرې یې راغله، چېرې یې کېږدۍ
لېمه مې لاړل، لېمه به ژاړم

وطن دفتر شو، د غلیمانو
چنار به ژاړم، چینه به ژاړم

له حده تېرې، رابانديې کېږي
کاڼی خو نه یم، چې نه به ژاړم

لکه دا خواه مې، چې څنګ سړه شوه
داسې ساړه، او ساړه به ژاړم

د شمائلې په ځپګان څه کړم؟
د ځپلو سترګو، بانه به ژاړم

## غزل

زما د ذات په رنگ کې پرېشانی د تقسيم گوره
ولاړې دي په فرش د لېونو د جحيم گوره

نېمگور يې د لالي د زړه فرياد دی را لېږلی
نصيبه همدردي د پسرلي د نسيم گوره

د دې وطن په هر بازار کې سوال کوي حسينې
بې حِسه پرې تېرېږي قافلې د رجيم گوره

زما له حساسيته خبردار بويه وختونه
ولاړ يې کمينه زما له حاله سهيم گوره

عشق زلفې ښامارانې کړې د ښکليو شمائلې
لامونه يې تاوېږي د سندرو په بيم گوره

غزل

ملا يې پرده پوش کړو د لباس په کفن لاش
ولاړ دی زولنو کې د پښتون د وطن لاش

غُربت مې په نیلي خالونو څرخ کړه وا همه
څادر مې د لولۍ شو د حسرت د چمن لاش

ګلروخه د مکې کوڅو کې نشته معجزې
په تا پسې روان دی ستا د هر پیراهن لاش

رباب مې سګ مزاج کړلو کم سنو د محلت
دلال غوندې مې پروت دی په خرقه کې د فن لاش

دا څه د بې روخۍ په تغر ناست دي پسرلي
نړېږي يې له سنه د ګنګاه او جمن لاش

زما د قتل زېري ته راوالوتل کارغان
ولاړ دی په هالهٔ کې ګل په لاس د سمن لاش

څرخۍ ته مې راکاږي شمائلي د فطرت
قرطاس مې بې کران کړلو د زړه د کرن لاش

## غزل

په اور سـوځي هره سـاه، زړونه نه لري همدم
شـوه دنيا سـقر نما، په هر ګام په هر قدم

څوک د جِسـم شـو قا ئل، څوک د فکر شـو قا تل
څوک وارث د کليسـا، څوک ولاړ په محرم

لکه څانګه بې اسرې، بې تصـويره بې سـايې
راټوکيږم په صـحرا، سـتا د سـترګو په شـبنم

دا به څوک ابادوي، دا به څوک راټولوي
دا کنډر کنډر وطن ــــ او ذرې ذرې عجم

چې ونه روزي قابل ــــ دښـمنۍ ته د هابِل
لا تر ننه په دې ښـار ــــ پيدا نشـو څوک آدم

خدای دې نکړي چې په وعظ، شي غلطې د واعظ
خدای دې نکړي شرمنده ــــ مسـتې سـترګې د صـنم

چې ا خته يمه پرې زه ــــ زولانه يمه پرې زه
شـمائلې د دې رنځ ــــ نه دارو شـته نه مرهم

غزل

نـه دې شـــتـه پـیـمانـې، نـه وفـا زنـدهګـۍ
د صـــبـا زنـدهګـۍ، د بـېـګـا زنـدهګـۍ

څـه بـه یـاد ســاتم زه، چې زه هم وم یو څـه
نـامـحـرومـې ځـوانـۍ او رســوا زنـدګـۍ

مـا ګـنـډلي زخـمـونـه، پـه تـورو تـیـارو
مـۍ نـوا زنـدهګـۍ، نـۍ نـوا زنـدهګـۍ

لا مې هم یو نـاســور، زخم پروت دی پـه زړه
لاتــکــمــلــې یــارۍ، لا دوا زنــدهګــۍ

راپـه خـولـه دې کـړو ولـې هـر لاس د امـیـد
لړ مې پوه کړه پـه خـپلې منشـــا زنـده ګۍ

شــمائـلـه دې نـه ژاړي ـــــ دا بـې روخـي
لـه سِـفـالـه دې مومي ـــــ صِـهبـا زنـدهګۍ

غزل

دا آهونه مو راوړي وو سينو کې
چې خوارهْ شول د فلک په کِنارو کې

واهمې د خيالاتو رانه تاو دي
کتی نشم د ضمير په آئينو کې

راته مخه شوه د ډېرو بې حسيو
د نينوا غوندې زَړه شوم بتخانو کې

د جنون د اذيت وروستی پړاوه
له معنا سره سوزېږم په ممنوع کې

دا د شمعو پېغلې اوښکې به مې ياد وي
چې بلېږي مې د زړه په دريڅو کې

چې پوره کړم پرې ارمان د شمائلې
دومره زهد به مې نه وي سهارو کې

## غزل

نه مې رام کړو په شکوو، نه مې راستون شو په نارو
شړق دې پرېوځي اشتراکه، د بېوسو په زارو

دا غمونه محرومیانې، کړاوونه بې حسیانې
ازل نه و چې پراتهْ وو ستا د زلفو په تارو

د پښتو د وطنونو بې پښتو رهبره اورې؟
لو روان دی د ځوانیو د مغل په کتارو

په زړه داغ لکه عجم یم، د مکې مفتي خبر کړئ
که تپوس مې چېرته وکړي، د حرم له منارو

بې اسرې پکې ولاړ و راته لاش د هر ارمان مې
آئینې مې کړلې ماتې د الفت د سهارو

زه راوتې له جموده، ته قاتل وې د رنګونو
زه په واړه کایناتو، ته په واړه سیپارو

شمائله به دې څه کړي، دا یادګار د بې نیازیو؟
دا له اوښکو ډکې سترګې، دا بازار د سیارو

غزل

زه د مينې په لمبو سوزېدل غواړم
د دنيا له تصوره وتل غواړم

چې له تانه مې ساتلي په هر آن وو
زه د هغو اميدونو نخل غواړم

ستا له عشقه د ثالوث چارې راوشوې
نن وه ځان ته په خپل حال خندېدل غواړم

پر بابت يې خيالپلو هم ناممکن دی
مرادونه چې د کوم يو منزل غواړم

چې ګڼې بېمار پرسي هم د چا مينه
د يوهْ داسې محل ور ټکول غواړم

شمائله مې اوسېږي په تيارو کې
بلې شمعې د قطب په څنګل غواړم

## غزل

حسرـــتونـه د الفـت  مې زولانـه شـــول
د مســـتۍ لـه هر منظره بېگـانـه شـــول
دا پـه وینو سره لاســـونـه بـه د چـا وي
رانښـــکاره چې د اذر  په خپلخا نه شـــول
چې کـاتـه مې لـه غروره، ورتـه نـه کړل
نن يې هغـه تصـــویرو نه،  جا نا نه شـــول
کفارې ـــــــ راګرځوم ــــــــــ د ناهیلیو
تنهـایۍ زمـا خوبونـه، شـــاهـانـه شـــول
بویه صـــبر مې خصـــلت د ډیوې خپل کړو
چې شروع پرې تله راتله د پروا نه شـــول
دا د یار ســـترګو کې خپلې اوښـــکې وینم
کـه دېره مې مېلمانـه پـه ویرانـه شـــول
نـذرا نې بـه د ســـاوا  نجو نو تـه ورکړم
که راګډ دې حشرـات په میخانه شـــول
بیا مې نه يې په زړه شوې ـــــــ شمائلې
خواهشـــونـه چې زمـا بې ګرانـه شـــول

## غزل

ارمانـه د خـوږمـن زړگـي ټـکـور مـې پـيـدا نـکـړو
چې تـه پکې سر کېږې هغـه کور مې پيـدا نکړو

چې مـاتـه يې راکړی پرې اختيـار د بـادشـــاهۍ و
غُـربتـه هغـه ژونـد هـغـه انځـور مـې پـيـدا نـکـړو

چرگـان دې جنگېـدل پـه هر تـالار هره حجره کې
وطنـه ســتـا د خـاورې څوک غمخور مې پيـدا نکړو

مســيح نـه تر لقمانـه زمـانې مې گز و پـل کړې
عـلاج د بـې حســـۍ او د پـېغـور مـې پـيـدا نـکـړو

معلومـه خو مې کړلـه بې ننگي د خپلو خلکو
پاڅون که د لښـــکرو ـــــ او د شـــور مې پيدا نکړو

کوم مخ چې زنگولـه ـــــــــ د فکر پـه ټـالونو
د ژونـد پـه يـوه لاره پـه يـوهْ لـور مـې پـيـدا نـکـړو

جـواب د شـــمائـلـې د پـوښـــتـنـې ورکـول و
محشرـــ شـــو، خو جواز د زړه د زور مې پيـدا نکړو

# غزل

مصیبحه یو ځل راشه، د ځیگر په ویرانو
خبر مې د زړه وا خله، په و یرا نو بُتخا نو

توپان مې په جثه کې لېونی کړه د فنا
غمونه رانه هېر کړه مکمل د زمانو

الهام مې تش له کربه بل تصویر نه جوړوي
شیندلی مې قاضیانو دی غزل په تا خانو

ساقي په گېډه موړ کړو ټېکدار د تعصب
لگیا وي اوبوي مدام سنبل د میخا نو

په زړه کې مې دا ټکی - ټکی لیهر د یارۍ
رایاد کړي گډېدل او سوزېدل د پروانو

بستر مې د خوبونو راته ښکاري بیابان
زنبل یې شو په سترگو کې زنبل د بهانو

مراد د شمائلې شو، فراق د یار د مخ
که وچ شول ډنډرونه د محل د جما نو

غزل

څه عجبه تماشـــه وه، د احســـاس او د ګداز
ستا په سترګو کې مې شپه وه، د احساس او د ګداز

د زخمونو لـه پردو نـه الهام رنګ پـه وینو راغی
هېره کړې یې وعده وه، د احســـاس او د ګداز

پـه غـاټولو کې اثر و، ســتـا د مخ د بې نیـازۍ
په نرګس کې اندېښـــنه وه، د احســـاس او د ګداز

ابـتـدا مـې انـتـهـا وه، د حســـاب او د کـتـاب
سرینـه مې پســینـه وه، د احســـاس او د ګداز

رد د ځان مې و راوړی، په تقســیم کې د تثلیث
څیرې کړې مې ســینه وه، د احســـاس او د ګداز

اشـــیـا نې د شـــمائلې، افســـا نې وې د فراق
حیراني پرې را خوره وه، د احســـاس او د ګداز

## غزل

وداني ده د مکې، که تصوير دی د عجم
ستا د ګوتو د تقسيم، هر تخليق دی منظم

ستا له خنګه مې شي ياد، ستا له رنګه مې شي ياد
يو سحر د مايوسۍ، يو غمګين ماښام د غم

باغ و بڼ شو کل جهان، لار دې ښايي راته ګل
راخورې شوې په هر لور، مستې څانګې د خرم

د حسرت ډيوه په لاس د ژوند لارې لندوم
بېوسۍ کړل رانه هېر، اميدونه د صنم

زړه ويده شه په قرار، عبث مه ځوروه ځان
د پرديو سهارو، نه سهار وي نه شبنم

که مېلان مې کړي معنا، شمائلې مقدر
يا به غم شي د بدی، يا سندره او سرګم

## غزل

شــمعې اوښـــکې مې د زړه په گورســـتان باندې بلېږي
توره شـــپـه ده تنهـا يي ده او د غم بـاران ورېږي

يو يزيد په کليســـا کې د واعظ د ذات خطيب شـــو
بـل يزيـد پـه کربلا کې، د آئين پـه شـــان پړقېږي

زه د هغو ســـترگو تور شـــوم، چې تورونو کړلې تورې
تصـــور مې هغه گل شـــو، چې نه شـــته نه راټوکېږي

چې رنځېږي هغـه مړي دې را جـگ کړه لـه قبرونو
د جنـت واکـداره درب يـې پـه جثـه را زرغـونـېږي

د خوبونو داســـتانونه دې په ســـترگو کې مکين شـــه
لـه مودو نـه پـه پـاړونو او راغـونـو کـې اوســـېږي

مـا رِيشـــتـه د يـارۍ زده کړه، د بې يـارو لـه زوالـه
شـــمائلې چې تېرېږي، پـه کم فهمو بـه تېرېږي

# غزل

ما چې دې ولېدې غمجنې سترگې
لا مې خوږمنې شوې خوږمنې سترگې
خدائزده په کوم ځلي به اور لگوي
هغه د زړونو انجمنې سترگې
ستا د تعروف تکرار ته نه یم خفه
ما ځوروي خپلې هېرجنې سترگې
تا ته زوال نه شو بې نیازه حسن
ما ته پېغور شوې گیله‌منې سترگې
خیال مې د ټولو ارمانونو ساتي
دوه پښتنې او قدرمنې سترگې
ما د زخمونو له قرنونو باسي
هغه وړې شپاړس کلنې سترگې
زما د زړه په حال خبرې بویه
هغه د غیرو هموطنې سترگې
د شمائلې ـــــــ د خلوص قاصده
وخت مې بې پته کړې پتمنې سترگې

## غزل

لکه اروا وه، غمگساره وه، دې ما ته کتل
له ژوند بېزاره وه، فراره وه، دې ما ته کتل

موج یې د سترګو په ټالونو کې لمبې کولې
د ژوند سراب ته انتظاره وه، دې ما ته کتل

یوه معصومه د شکېدلي پاڼ په ژړ حاسده
ناسته د ژوند له بېروباره وه دې ماته کتل

خدایزده چې کوم مسیحایي ګمان یې راغی په ما
خدایزده چې څا پسې بېماره وه دې ماته کتل

عقل حیران و، دا به څوک وي چې آشنا ښکارېږي
خزان خزان وه بې بهاره وه، دې ما ته کتل

هغه ریشته مې ــــــ شمائلې ــــــ ځکه ماته کړله
هره ارزو پکې سنګساره وه، دې ماته کتل

## غزل

یو ځړوکي ویرانې تـه، کړې زمـا او ســتـا خبرې
نـا اشــنـا رنـگ یې کولې، عجیبـه اشــنـا خبرې

ژونـد و تهول رســـا خبرې او خطـا - خطـا خبرې
د هـغـې دنـیـا خـبرې او د دې دنـیـا خـبرې

کاش تقدیر د دغې خاورې، مصـــور د امنیت شي
کـاش هوا د وطن راوړي، ســتـا د نـاز ادا خبرې

پرېشــاني چېرته نه کړي، د یار ســترګې د یار زلفې
اسرافـیـلـه پـورې یـوســـه، انـتـهـا زمـا خـبرې

ازمـایش مې پـه څېره کې د فراق بـابونـه ســېزي
ده لـه چـا سره ولاړه؟ او کـوي د چـا خـبرې

یـه د تـورو تـیـارو کـوره، یـه زمـا د نـارو کـوره
لـه عـالـمـه مـې راوړي، د جـزا ســـزا خـبرې

سترې شوې وې صلیب ته، ستا په زړه کې شمائلې
ســتـا وړې وړې خبرې او رښــتـیـا رښــتـیـا خبرې

غزل

خانـدي مې خونخوار ازل ـــــ مينې او مکـان پورې
غـم مـې حـادثـې تـړي، عـمـر جـاويـدان پـورې

هـجـره حـجـر ذاتـيـه، ږنـگـه هـديـره دې کـړم
تبغ دې شـه په زړه کې ښـخ، اور دې شـه په ځان پورې

گـوره بـې حِسـيـو دې، عشــقـه اوبـزانـه کـړم
زه پـه خپـل جنون پورې، زه پـه خپـل گرېوان پورې

نـه يې چېرتـه ذکر شـتـه، نـه يې چېرتـه قـدر شـتـه
خـانـدمـه پـه ډکـه خولـه، خپـل زړگي غيران پورې

نه رسـم په هېڅ صـورت، زه په خپل تالا قسـمت
سـتـا د کور کوڅې پورې، سـتـا د مخ مېلان پورې

زړه د شـمائـلـې مـې، ډک لـه مـايـوسـيـو کـړو
سـا ندې سـا ندې راغلمه، زه هر يو داسـتان پورې

## غزل

محبت مې د زړه لاړو، ســـتا د یاد له بُتخانې
له فراغه مې را ډکې شـــوې، د ســـترګو پیمانې

بیـا بـه نشـــې رازرغونـه، زمـا زړه کې تر ابـده
داســـې چارې به در وشي، زما مینې مســـتانې

دا د څـه مظـاهره ده، دا بـه څو پورې کومـه
ســـتا خو نورې هم زیاتېږي له وعدو نه بهانې

حماقت د ځان ځانۍ وي، راټول کړي په ځانونو
بويـه ځينې ځينې خلـک، ښـــامـاران د خزانې

ســـتـا د غیـب مخـاطبې مې نړوي د مینې څلي
د حیـات چینې مې وژني بې خـالقـه زمـانې

وخت به راشي شـــمائلې، د دې قام د بې نیازیو
ما نیولي دي فالونه ــــــــ ما منلي ــــــــ نذرانې

غزل

راشه په زړه مې تماشې ولیکه
نوم مې په بندې دروازې ولیکه

د یار د ګوتو نخاګرې کرښې
زما په لارو کې خورې ولیکه

چې نه یې شور شته دی او نه یې امید
په زړه مې هغه قافلې ولیکه

دا تسلا د ځورېدلو زړونو
زما د قبر په خازې ولیکه

بخت مې د پاڼې پشان وه رژوه
بیا پرې احسان د زمانې ولیکه

چې په یوسف پسې یعقوب کولې
ما پسې هغه اندېښنې ولیکه

د شمائلې د وطن په اور کې
د پښتنو پېغلو سایې ولیکه

غزل

ځوروي مې تل د هغې مينې ياد
چې د باد غوندې تېرېږي بې بنياد

پرون کله دی خبر د نن له حاله
خون په کاڼو باندې نشته د فرهاد

عمر ښايي د هغو چې سيلانانيان وي
زه د سَيل لپاره نلرم هېواد

حافظه مې د تذليل هوا تسخير کړه
باقي نلرم د نور ژوندون اسناد

د غزل د نضهتونو حساسيته
نازوه د ماشومانو انتقاد

له بهمنه د لاله منصفان راغلل
سَتايي مې د گيسو کوي اوتاد

شمائلې څه خو لاس راپسې کاږه
له مکانه دې رانغښتې يم الحاد

## غزل

حال مې واخله شمس تبریزه، درخشان مې رانه ځي
سهارې مې رانه ځي، ماهِ تابان مې رانه ځي

چې یوسف په سفر تللو، نو یعقوب کله خبر و؟
څه خبره وم فراقه، چې جانان مې رانه ځي

مېلمنې به مې عمري شي، شوګیرې د محرومیو
بېنوا یمه ولاړه، خانمان مې رانه ځي

لا دوا په منظرونو کې، اوسېږم د دردونو
بې اسرې مې پرهرونه دي، درمان مې رانه ځي

دا دیار مې شمائلې دی، دیار د یار مخ
یار چې ځي بو یه چې عمر، جاو یدان مې را نه ځي

## غزل

پــه مــنــزلــونــو دې تــېــرېــږم خــو تــا نــه خــبروم
تر شـــــا راګورم فنـا کېږم خو تـا نـه خبروم

تن مې ســـوزېږي د بهمن پـه هواګـانو بـانـدې
پــه جـنـتـونـو کـې ځـورېــږم، خــو تــا نــه خــبروم

خیر که په ما باندې راتلونکې ورځې خوند نلري
خیر دی کـه زه ترینـه خبرېږم، خو تـا نـه خبروم

پر تـا د هرې اګـاهی نعرې پښـــېمانـه کړمـه
نن لـه دنیـا نـه رخصـــتېږم، خو تـا نـه خبروم

چې هر دېوال یې دی شریک ستاسو له کوره سره
زه پـه هغـه کور کې اوســـېږم، خو تـا نـه خبروم

ګـلـه رامـخـه دې د زر مصـــیـبـتـونـو کـړلـه
لـه حـال پرســـیو دې پوهېږم، خو تـا نـه خبروم

د شـــمائلې د زړه غم دې هر منظر تـه وړی
لـه هر منظره دې برنېږم، خو تـا نـه خبروم

## غزل

نـه حـاســـد رانـه خبر دی نـه قـاصـــد رانـه خبر
مـا پـه دشـــتو بـدل کړی دبِســتـان د تصــور

نالیدلي عذابونه مې ـــــــ هډونه ـــــــ رژوي
گورســتان ته مې ولاړ دی، نالیدلی لب شــکر

دا چې بلې شــمعې لاړې، ترې په لور د بل مراد
دا زمـا د ژونـد مـاښـــام و چې تـا نـه کړو منور

گلغوټیو کې غبـاره، نن مې زړه شـــو مطمئن
چې تېر شــوي په عدن دي جســدونه د ســقر

ای زمـا پـه حـال غمجنـه، زه پوهېږمـه پـه دې
چې زمـا د نوحې ورځ هم، پـه تـا ورځ وي د اختر

راتــه ووایــه رهــبره، دا پــه کــومــه یــې روان
او لـه چـا سره دې کـړې ده ســـودا زمـا د سر

زه خو ویاړم شـمائلې، په خپل غم په خپل احسـاس
خو زمـا پـه شـــان دې نشيـــ، نور وگړي بې هنر

## غزل

ارمان يې په سينه کې شو ذرې ذرې ذرې
پرتې دي ميخانه کې پيمانې ذرې - ذرې

د سوي زړه داغونه يې چې کړه ورته څرګند
راپرېوتې د مينې پروانې ذرې - ذرې

جنون د زمانې پرېشانې زلفې سموي
را خېژي له تاراجه رندانې ذرې - ذرې

زګيروي دي په دريا کې د قرنونو د مهجور
راټولې شوې توحيد ته بُتخانې ذرې - ذرې

د سيورو ګورستان يې کړم، په څيرې ګرېوانه
د لمر ذرو يې راوړې بهانې ذرې - ذرې

تقسيم يې شمائلې کړې حصې زما د ذات
په سترګو کې مې اوښکې شوې اسرې ذرې - ذرې

غزل

محرومېتونه مې د مينې په کاله، ووايه ندي ولاړ
وخته داغونه د بې نيازه يار په زړه، ووايه ندي ولاړ

زه هغو ستړګو ته ولاړه يم راغلې يمه درېغه کنه
په کومو ستړګو کې چې وړه د بېلتانه، ووايه ندي ولاړ

هر مصوير مې ناوېسا د خپل تقدير په کانو، ولي ارمان
د کستوري هره نافه کې يې مانهْ ووايه ندي ولاړ

له ماه بنهونو که روان دی د رنګونو عمر ندی روان
په دريابونو کې زما د سر ويښته ووايه ندي ولاړ

امکانه اور دې د صلو په بدرګې پورې شه، زړه دې شه مات
عاشقان ګرځي په قبرونو يې بانهْ، ووايه ندي ولاړ

په شمائلې داسې بار ندي د يار غمونه، وايه کنه
لکه عمرونه د بې کسو په يانه ووايه ندي ولاړ

## غزل

زړه مې داســـې شـــه د ښــکليو لـه نظره کمينـه
چـې بـيـا ســـازه ورتـه نشيــ د يـاريـو زمـيـنـه

څوک فريـاد کوي دنيـا تـه د اشــنـا لـه جـدايۍ
لـه انځوره مې روانـه ده، د ســـترګو پســـينـه

ګلاب لېې - لېې وينې اضـــطراب تـه ورکوي
د محراب لېونی لاس وهي پـه ږيره پـه ســـينـه

ژوند همدا و، دا چې نه يې پيمانې وې نه تصـــوير
مرګ همـدا دی، دا غبـار چې دی ولاړ پـه آئينـه

خير که بخت دې شـــمائلې چا په شـــمعې کړو بدل
خدای دې زړه د چا بدل نکړي په طفلِ شـــبينه

غزل

نه بروسه په ابتدا لرمه
نه عقیده په انتها لرمه

د هوس رنگه، د بقا تصویره
ته سیم او زر لرې زه تا لرمه

غم مې د زړه ارمان په اور سېزلی
په تندي داغ، لکه شهلا لرمه

د پرونیو ساندو لارې خارم
اوس نه طبیب نه مسیحا لرمه

دروغ مې نه وايي د زړه زخمونه
د سترګو نښې دې رښتیا لرمه

عالم زما کفن اسراف ګڼلی
لحده ساه راکړه سودا لرمه

د شمائلې تقدیر نه بدلېږي
عبث له ژونده التجاه لرمه

## غزل

د جانان د زړه داغونه دې، رنګونه د صحرا شي
دا ولاړ اذيتونه دې فنا شي چې سبا شي

مونږه چېرته او جذبې زموږه چېرته خو قاصده
اشنايي د داسې سترګو د پيرانو په دعا شي

ساه‌لنډی مې د محلت په پېغلوکو دی لګېدلی
لوغړنه دې د عشق د تاترين آب و هوا شي

بد دعا د خپل زړګي شوم، سر مې سپين کړلو صبرونو
نور مې توان د صبر نشته، دروازې دې راته وا شي

بې غوري راځينې شوې، ستا د مخ په انتخاب کې
کله کله چې راياد شې، نو په سر کې مې سودا شي

ستا له غمه چې سباه شي، شمائلې نو وړيا شي
نه مې ورځ د ابتدا شي، نه مې ورځ د انتها شي

## غزل

زړه مې ځار ســتا د لېمو شــو، اوس يې راشــه تماشــې ته
اوس يې وار د ډوبېدو شـــو، اوس يې راشـــه تماشـــې ته

ســـنگ مزاجه طبيعت مې، نا اشـــنا خاصـــيت خپل کړو
ســـتا له جوره په نارو شـــو، اوس يې راشـــه تماشـــې ته

مـحـبـت د فـرهـاد لاړو، پـه ورو ورو د زوال خـواتـه
اوس د لارو او کوڅو شـــو، اوس يې راشـــه تماشـــې ته

نه له ياره مې ياري شـــوه، نه له وروره مې وروري شـــوه
سر مې کور د اندېښـــنو شـــو، اوس يې راشـــه تماشـــې ته

زه چې اوســـم بېکرانـه، د جمود پـه کوم زنـدان کې
شـــيخ يې هم د اوســـېدو شـــو، اوس يې راشـــه تماشـــې ته

د مذهب په نوم وران شـــوى، وطن خلاص شـــو له مرگونو
ښـــار د ميو د پيالو شـــو، اوس يې راشـــه تماشـــې ته

فرا موش خـا طر مې لاړو، ښـــار يـيو تـه شـــما ئلي
مســـتوفي د شـــوگيرو شـــو، اوس يې راشـــه تماشـــې ته

## غزل

نن مې زړه کې ځنګدن دی، جزیرې په وینو سرې دي
تماشو ـــــ ته مې ـــــ ولاړې، نالیدلي ـــــ تماشې دي

څوک له ژونده ســتړی مړ دی، د ابد په خوب ویده دی
چـا مرثي يې پـه لوحـه بـانـدې، ليکلې مرثيې دي

دا راولي چې فـوځـونـه، د بې حســـه اشـــنـايـانـو
دا هماغـه شـــوګيرې دي، دا هماغـه انـديښـــنې دي

دلالي مـې د خـالـونـو، ريـبـار بـل وطـن کـې وکـړه
د لالي عنبري زلفې پـه ننداريو کې تســـمې دي

چې په خواه کې د مارغانو، د پنجرو تېر پدای نشـــول
هغو خلکو ننـدارې تـه، وړانـدې کړې زولنې دي

تصـــور د وفـا نشـــتـه، د دنيـا لـه هســـت او بوده
صـــــنـوبـره لـېـونـيـه، اپـوټـه دې فـالـنـامـې دي

چې پـه وينو بـه يې سرې وې، همـه لارې شـــمائلې
کنســـتلې هاغه دشـــت کې، چا د مينې سرچينې دي

## غزل

یــوه نشـــــه وه لاهــوتي، یــوه لـمـحــه وه جـلا
زما د زړه د لگېدلو حادثه وه ـــــــــــــــــ جلا

ما د وطن اب و هوا په غم کې نه شـــوه لیدای
که له نښـــتر او له چناره مې ســـا یه وه جلا

زمـا ارمـان زمـا محتـاج تنـدي تـه کلـه کتـل
مـیـنـې مـکـان نـه مـې ولاړه دروازه وه جـلا

زه اوس داســتا په نوم عاشــق او مجنون نه پېژنم
پـه ســـــالنگونو چې کېـده هغـه پنبـه وه جلا

پـه سر مې بـار وو د پرد خلکو پردي غمونـه
لـکـه شـــجـره مـې لـه تـنـه هـدیـره وه جـلا

یو درد مې بـل تـه شـــمائلې لـه بـل درده وایي
لـه دې یزیـد نـه خو زموږه خېلخـانـه وه جلا

## غزل

چې خنـدېږي هر نګین سره، نګـار جـدا - جـدا
هر آئین ته مې اودرېږي، پرســتار جدا - جدا

نور په څپر کې خوبونه، د ســاغر نشــم لیدای
نن نه پس به وي دا غر او دا ابشــار جدا - جدا

لمرپرســتـه، د توحیـد خبرې نشــم اورېـدای
د جیحون څپو مې وړی دی رخســار جدا - جدا

ســتـا د تورو زلفو لام کې مې تـالی وهي الزام
پـه قضــأ را زرغونېږم، تـار پـه تـار جـدا - جـدا

جحیمونـه د عرب او د عجم نـه دي شریـک
نصــیـبـونـه دي زمـا او د بـادار جـدا - جـدا

واړه لارې یې کړې شــوې شــمائلې د مســیر
دواړه سـترګې مې تسـخیر کړې انتظار جدا - جدا

# غزل

آشـــنـایـۍ دې راتـه راکړو، بې تقـدیره بـدلون څنګـه
پـه جســـد زمـا د جم کې لېونی شـــو جیحون څنګـه؟

چور تـالان پـه وطن ګـډ دی، عقیـدې پکې خرڅېږي
لالـه زار زمـا د تمې، شـــو مصـــیر د رییـدون څنګـه

مـات الـهـنـګ زمـا د عـمـر، عـذابـونـه د ګـور راوړل
ســـتـا د زلفو ســـیلۍ یوړم، پـه ســـفر او پـه یون څنګـه

پـرښـــتـې زه خـو ویـرېـرم، لـه دې تـورو پـرپـړو نـه
ذاهد لاس وهي عدن کې، ســـتا په ران او په رون څنګه؟

مـا ســـپوږمۍ هم پـه هـالـه کې، د فراق لیـدلی نشـــوه
رانـه تـاوې دایرې شـــوې، د ارمـان او افســـون څـنـګ

دا له کله نه فالي شـــوې، ســـحرګر او نجومې شـــوې
تصـــوره شـــمائلې، ابښـــی سر پـه زنګون څنګـه؟

# غزل

څه په سماع د مينې، څه په سما د مينې
بې خوده کړې يمه، رنګ و شهلا د مينې

کله به بل شي راته، لکه څراغ د محل
په زړګي داغ لرمه، د يو اشنا د مينې

لکه د وچې پانې، د پاڼ په زئ پرته يم
بې خونده شوي مې دي، آب و هوا د مينې

شوه په ميراث را پاتې، شوه په جهيز را پاتې
يوه خازه د ارمان، يوه صحرا د مينې

ورځينې بده بلا، په دې وطن کې نشته
اخته دې نکړي الله، څوک په بلا د مينې

سوی غاټول ولاړ دی، زما د زړه په لاش کې
دنيا تحفه راکړې، ما ته زما د مينې

فريب شکنه شوله، د شمائلې خندا
او نمَکينه شوله، لکه ژړا د مينې

غزل

جلا وطن مې شـــو د زړه هر يو همـدم راشـــه
مـا سره وکـړه لـږ زمـا پـر حـال مـاتـم راشـــه

مودې شـوې تېرې چې پر بند د ځان ځانی ناسـته يم
چـا مـحـبـت رانـه هـېـر کـړی د صـــنـم راشـــه

دا کونـډې رنـډې جنـګ جهـاد او ســوزېـدلې درې
واړه تـحـفـې دي د عـرب او د عـجـم راشـــه

اوس خو مې نـه پرېـدي خنـدا تـه رژېـدلې پـانې
بيـا کـه بـدل شـــو نوی کـال نوی موســم راشـــه

د ننـګ پرهره تـه زموږ پر ســينو ځغـاښـــتې کوې
او مشـــتري دې مـيـن شـــوی پـه حـرم راشـــه

ســتـا د غفلـت پـه صـــحرا ورکو طوفـانونو يوړم
هر يو فريـاد مې شـــو لـه عشــقـه مقـدم راشـــه

تورې چپې مې په زړه راغلې ـــــــــ شــمائلې مرمه
تـاؤ مې شـــو غم د زړه لـه سره پېچ و خم راشـــه

## غزل

زما چې په زړه کې، ارمان لېونی شــو
د مینې او حســن، داســتان لېونی شــو

جا نان چې هوښــیار و، جهان لېونی و
جهان چې هو ښیار شو، جانان لېونی شو

چې ته مې رایاد کړې، په ډېره موده پس
باران شو سیلۍ شوه، ا سمان لېونی شو

ته هله راضي شــوې، اقرار جاویدان ته
ځګر چې زما جاویدان لېونی ـــــــ شـو

په کاڼو مې ولي ـــــ آئین ـــــ د خالونو
پا سبان مې د کور ــــ او مکان لېونی شو

د سترګو پردې مو د *حسن پردې شوې
زموږ د لیدلو ـــــ امکان ـــــ لېونی شو

ګلچین یې شو تال، پاس په دار شمائلې
بهار او چمن ـــــــ او بوستان لېونی شو

## غزل

ته گرځوه په زړه کې د رنگونو سهارې
زه نه غواړم د خپلو ارمانونو کِفارې

یو چا راته ویل زه دې قاتل ومه نور لاړ
کوټه پیسې یې راکړې د کوثر په کِنارې

زه ځان چېرته زغملی شم ارام او تمنې
په ما پسې ققنسه داسې مه وهه نارې

موسم د نوبهار مې شو بدل په مومیایۍ
صنم مې کړه د هر ارمان سینه پارې پارې

له لوړې نه مو خرڅې کړې گردې د خپل وجود
دنیا په ــــ موږ ونکړې کومې ــــ کومې نظارې

کاروان مې د وطن په نورو نورو دی روان
ساروان یې له دښمن سره نیولي اِجارې

لېمې مې بې بها کړې ــــ شمائلې ــــ بېوسۍ
نه او ښکې شوې د شمعو، نه د مینې شوې تارې

# غزل

صــبح و دم عذاب په سر وړم، مســلســل عذاب په سر وړم
کله ســتا عذاب په سر وړم، کله خپل عذاب په سر وړم

احتســاب د محشرــ راکړل ـــــــــــــ د گناه دغه اجرونه
د امـېـل عـذاب پـه غـاړه، د اوربـل عـذاب پـه سر وړم

عمره کله به تکمیل ته ـــــــــ د انجام د بدی رســـې؟
مکمـل پـه غم اختـه یم، مکمـل عـذاب پـه سر وړم

یو پـه لس مې لېمـه لاړل ســتـا د هر ذهـد لـه جـاجـه
یو په ســـل برائ نام شـــو، یو په ســـل عذاب په سر وړم

یم پـه هر نفس بې حســـه، بې پرســـانـه لکـه شـــمعـه
زه د خـاورو پـه کـالـه کې، د محـل عـذاب پـه سر وړم

هر خواه کرکه ده کینـه ده ـــــ او تبعیض دی شـــمائلې
پـه هر لور پـه هره لاره، لکـه جـل عـذاب پـه سر وړم

غزل

کـومـو چـارو الـهـي لـيـلام تـه يـوړم
نســـيـمـونـو د ســـقـر ســـلام تـه يـوړم

د خپـل تن پـه خشـــاک خـاورې اړومـه
د چـا ســترګو هســـې رنـګ آرام تـه يوړم

انتها پکې نوکره ـــــــــــــــ د رِجاع وه
مينې داســـې نـا اشـــنـا مقـام تـه يوړم

يک رنګۍ د طوفان مخ ته خاکســـتر کړم
بيا يې ســـتا د بې حِســـۍ رِهام ته يوړم

زنځيرونـه مې پراتـه وو پـه مرۍ کې
ســـتـا د زلفو غزل بـل الهـام تـه يوړم

مقدر مې صـــورت ضـــم کړو په غوبار کې
بيـا يې ســـتـا د مرادونو بـام تـه يوړم

چور تـالا مې شـــو محـل د شـــمائلې
پـه مجـاز مئين د راز انجـام تـه يوړم

غزل

چـور تـالا کـړم خـانمـانـو
لـب شـــکـرو لـب خـنـدانـو
د یـاری پـزي دې ټـول کـړه
زړه مې سرای شـــو د دهوبیانو
زمـا د عشـــق خواره جونګړه
اوس مـانـی ده، د دېـوانـو
لالهانده ـــــــــ کړم خلوته
هر محفل ـــــــــ د فرېبانو
نـه لـه تـانـه حـقـارت لاړ
نـه خصـــلـت د وکـیـلانـو
ســتا کارو نه ـــــ د طفلانو
او خبرې ـــــــــ د لویـانو
مســـت ســـاغر د هدی راکړه
د ســـندرو ـــــــــ د رندانو
رانه تاوې ـــــــــ خلقې دي
د فطرت ـــــــــ د غمازانو
ســـتا د حســـن په کشـــور کې
ممنوع کړې یم شـــیخـانو
هـېـڅ طـالـع د شـــمائـلـې
بلې نـه شـــوې پـه کوهیـانو

غزل

چې غم شوې یو په سل شوې چې صنم وې نه وې نه وې
نګاره ــ چې مسیح ــ د درست عالم وې ــــ نه وې ــــ نه وې

ارمانـه چې زمـا لـه قـد نـه دنـګ شـــوې راپیـدا شـــوې
ارما نه ـــــ چې ز ما له ـــــ قده کم وې نه وې نه وې

په لاس کې د ســقراط چې کنډولی شــوې نو زما شــوې
په لاس کې د جمشـــید چې جامِ جم وې نه وې نه وې

چـې زړه دې آلـوده او پـوشـــیـده شـــو مـاتـه راغـلـې
دلـبره چـې ګـلـګـون او غـنـچـه فـم وې نـه وې نـه وې

نـاســـور چې شـــوې د روغو روغو زړونو راڅرګنـد شـــوې
درمـان چـې د رنـځـورو د شِـــکـم وې نـه وې نـه وې

کښــتۍ دې هســـې رنګ کا غذې نه وې لکه دي چې
غـرقـاب چـې بـه د نـورو پـه آلم وې نـه وې نـه وې

په عشـــق کې چې ګمراه شـــوې شـــوې ازل د شـــمائلې
قـاصــــد چې بـه د لوح و د قلم وې، نـه وې نـه وې

غزل

نیمه شپه ده او زه اوښکې تویوم لکه ډیوه
هدیره ده او زه اوښکې تویوم لکه ډیوه

ستا انځور دی او پرته ده پرې پرده د بې روخۍ
سرینده ده او زه اوښکې تویوم لکه ډیوه

مرثیه ده د غاټولو په محفل کې په سلگو
ستا قصه ده او زه اوښکې تویوم لکه ډیوه

پابندۍ دي زنځیرونه مې دي غاړه کې پراته
دایره ده او زه اوښکې تویوم لکه ډیوه

ژوند زما په تندي داغ شو، زیست عالم راته ولاړ
تماشه ده او زه اوښکې تویوم لکه ډیوه

څوک رایاد کړي بیا یې هېر کړي بیا یې یاد کړي بیا یې هېر
حافظه ده ــــــ او زه اوښکې تویوم لکه ډیوه

زندگي ده شمائلې تېروم یې په بابل
سهاره ده او زه اوښکې تویوم لکه ډیوه

## غزل

هغه ذات که په دې وياړي چې ما ســوزوي په اور کې
زه هم نه يمه خوشـــاله، په دې ژوند نومې انځور کې

محشرـــونو د ســـپين ږيرو مـاشـــومـانو تحفې راکړې
پرپړې يې ســـپينومـه د خپـل زړه د داغ پـه تور کې

لکه تورو لونګينو ــــــ چې ازار وي ــــــ راته کړی
لکه توره بکيانه اواره ــــــــ شـــوم په خپل کور کې

تا پر تخت د ســـليمان هم، يو څو ورځې تېرې نکړې
ما د خضرــ عمر تېر کړ، پټې ســـترګې په پېغور کې

چې لـه يـاره څوک بېزار شي، د نـا اهلو لـه خصـــلتـه
لکـه ګـل چې ســـړی رېبي، لـه ګيـا سره پـه لور کې

لکـه نور وګړي دای هم، رانـه ولاړو راســـتون نشـــو
که مې ډېرې نارې وکړې، هغه يار پســـې په ګور کې

بنـديوان د ســـيـاه چـال هم، بېرتـه راغلـل شـــمائلې
زه لا نـاســـتـه بنـديوانـه، د بې ننګـه يـار پـه پور کې

## غزل

رالېږلی یې د گل په لاس پېغام دی
گلفام کړی د راغونو په گل پام دی

زه په یو سرور هزار جسده پایم
هر اوراق زما آمد زما الهام دی

چې یې کوم تالي کې خوري بیا پکې پښه دي
ما و هغه چاته ایښی د زړه جام دی

یو باتور د سر سرې له تېغه تېر کړل
اوس غلیم ته اودرېدلی لاس په نام دی

شمعه رویې مې روانې دي له کوره
زړه مې بیا له ځانه تور لکه ماښام دی

اعتماد دې په خبرو ځنگه وکړم
هر قدم راته ولاړ دارولاوهام دی

څوک بچې ورپکې پلوري څوک ځانونه
شمائلې وطن ټول لیلام لیلام دی

## غزل

کــه ابــتــدا وه او کــه زوال و، دواړه خــراب و
دلـتـه حـرم و، کـه درمســــال و، دواړه خـراب وو

چـې مـې پـه زړه و لـه زمـانـې نـه، واړه خـراب و
کـه عـاشــقي وه کـه خـدوخـال و، دواړه خراب وو

لاچي لونـګ و، کـه غنم رنـګ و، تر وســــه پړ و
مـمانـعـت و او کـه مـجـال و، دواړه خـراب وو

بېل بېل منظر و، بېل بېل منزل و، ټول لاحاصــــل و
هجرو فراق و او کـه وصـــــال و، دواړه خراب وو

د زړه عـذاب و، زمـا پـه ژونـد کې، هر څـه عـذاب و
که ســيم و زر و، که سر و مال و، دواړه خراب وو

د ويـنــو ډنـډ بـه، د شــــمائـلـې پـه زړه ولاړ و
کـه نوی رنـګ و، کـه نوی کـال و، دواړه خراب وو

## غزل

چې سـیلۍ درپسـې باد کړم، ته هاله شـوې مطمئین
خلقې دې شـوې رامـاتې، پـه رخسـار او پر جبین

مـایـوسي راتـه ولاړه، لـکـه لاش پـه هـر مـنـظـر
یـا مې لار ده خطـا کړې، یـا یې را غلم پر تلین

چې مو رنګ د مشـغلې و، اوس مو ناسـت دی پر مرۍ
ژونـد زموږه افسـانـه هم، انـدېښـنـه کړه د ګلچین

سـتـا د مینې سـپوږمۍ راغلـه، د وفـا پـه کنـډوو
چې مې چارې په خلاصي شـوې، د تدفین او د تکفین

هر ادم خپلې منشـا ته، سـتا له تېغه تېر ته ناسـت
شـیخ د قصرـ دې پسـخېږي، سرومال ته د مسـکین

د دنیا له مکروفنه ـــــ هسې رنګ یم ـــــ په ضرور
لکـه لاس چې د دعـاوو، چـاتـه مـار شي د اسـتین

مـا لـه ژونـده شـمـائـلې، خـپـل ارمـان کـړلو فـنـا
بیا مې ببرته ـــــ مهیا کړو ـــــ لکه دهر آتشین

## غزل

پـه هره پیمانـه مې ممنوع شــوی دی سرور
دا ځکه راپســې دي ـــــــــ اوازونه د ضرور

خپه راځینې گرځي ســتا په ســترگو کې موسی
تصــویر نـه مې روان دی تصــور د کوهِ طور

دنیا نـه مې زړگی نـه راټولېږي پـه هیڅ شـــان
زگیروي کـهْ پکې اورم د فرهـاد او د منصـــور

بېخوده زړه مي نـه دی، د جنون پـه دود خبر
ماشــوم لره فانوس ښــکاري منظر د نار و نور

پـه مخ دې علامـات دي د دنیـا د بې حســۍ
د کـور پـه دیـوالـونـو دې وښــکـالي د انـگـور

جنتـه فراموشــــه همگي شــوې قیـل و قـال
خطیب دې مین شــوی د خیالونو پـه دســتور

پـه څنـگ بـه ځیني نشــم پر طلـب د حیوانیـت
شــکوي مې ادمیت که د زړه غوښــې په انبور

انســـانـه بـدگمانـه اشــنـا یي دې کړم تـالا
خونریزه خـدوخـال دې سر و مـال کړل زمـا چور

تصــویر د شــمائلې پـه اعراف کې دی ولاړ
کـه کـاڼـې راوربـړي د نـرگســـو پـه مـزدور

## غزل

زه پـه دې ورکـو لارو تـا لـټـوم
دنـیـا تـه وایـم چـې دنـیـا لـټـوم
په شــته اســمان کې نا امېده ګرځم
د ښـــکلو شــــهر کې وفـا لټوم
خـلـک زمـا د زړه زخـمـونـه ژاړي
زه پـکـې ســــتـا د مخ رڼا لـټـوم
چې د وړیو غوندې باد شـــوم پســـې
دیار ـــ د هغه ـــــ کبریا ـــــ لټوم
کج شــوی ذهن پېچ و خم ګرځوم
زلـفـو کـې لارې د هـدی لـټـوم
عـالم د نوح طوفـان نـه لرې روان
زه پـکـې ځـانـګـې د هـما لـټـوم
رنـګ پـه رنـګ اوړم لـه وختونو سره
ګوره د حســـن دې منشـــا لټوم
د ښـــار واعظ تـه خـانقـا جوړوم
غرونو کې شـــنـاختې د ریـا لټوم
چې ســکندر پرې د خزان تېر شـوی
پـه هـغـو لارو کـې دارا لـټـوم
عِشَـق ماه بن د هندوســتان خو ندی
چې پـه هـر آن پـکـې رانـا لـټـوم
د شـــمائـلـې د خـاطـر ځـلي تـه
ګـرځـم مَـزَري د صـــحـرا لـټـوم

غزل

یو قطع التماس دی بـل د میني التماس دی
زړه مې پروت تر منځه د ملهِم او د وســواس دی

گوره په باطن کې خپلې غوښــې خوري لگیا دی
تا چې خطا ایســتی په ظاهر د خپل لباس دی

ډېرې نالیدلې ـــــ خوشالۍ ـــــ ورته پسخېږي
ناســت که له دنیا نه هغه گل خفه اداس دی

خدای زده چې په کومو کنډوو یې شــهید شــوی
زېری دې راوړی فریشــتې او نـه خنـاس دی

شــیخ ذهد پرســت وته مکه پکې ښــکارېږي
پاړ مې که د شــونډو هســې تور لکه فراس دی

دا بـیـابـاني او طـوفـاني ځـیـگـر نـاصـــحـه
مـاتـه لـه مجنونـه پـاتې شــوی پـه میراث دی

گوره د دنیا ـــــــ هر یو وگړی ـــــــ شـمائلې
تنگ له خپله ځانه دی که عام دی او که خاص دی

## غزل

لکـه بـاسي کـاســيران شراب لـه کوره
هســـې رنګ مې بېلتون باسي تاب له کوره

مړېژن مې د چشـــمانو پـه آهو شـــول
ښـــا ماران مې ګرځي پېچ و تاب له کوره

مـات آئين پـه آئين څـه خبر او څـه زده؟
مـا اخيســـتی دی د ژونـد کتـاب لـه کوره

د ابرام پـه اذيـت بـانـدې مې شـــپـه ده
غـلـيـمانـو مـې لـوټـلی آب لـه کـوره

دل فروشـــو ځېـنې ډک جـا مونـه يوړل
مـګـر مـا تـه جـوړېـده رقـاب لـه کـوره

راتـه پـاتې شــوې پـه غم لتـاړې خونې
راتـه جوړ شـــولو د زړه عـذاب لـه کوره

ســـتـا د ســـترګو تر ديـاره شـــما ئلي
دا دی راغلم پـه زړګي خونـاب لـه کوره

غزل

هر نفس مې په ګريان له عداوته
دا دې څه چارې راوکړې محبته

په ډيوټ کې مې نشتر د زړه بلېږي
يار تر اوسه ناخبر له دې زيارته

اشنايي د سپينو ستورو شوه راپېښه
ستا د تورو تورو سترګو له صحبته

د بخت واګې مې ترلاسو د حاسد شوې
وړم په سر د غم تاراج له سلطنته

عوض کبير چې بېکران شي کور لاهو کا
تغافل شوې د کم سنو زيٌادته

دا خو زه يم چې له خپله غمه ژاړم
شمعې نه ژاړي له خپله حرارته

شمائله د حسرت تر صليب راغله
ستا صله ده د وختونو مصلحته

غزل

د زړه کاڼي کې مې شــور او درزا وشي
تـا چې يـاد کړمـه نـارې د ســبـا وشي

يار زما کيســـه په داســې انداز وکړي
لکـه مړي تـه چې غره کې دعـا وشي

پـردۍ مـور راوړی وګـنـمـه خـپـل زه
کله کله رانه داســې ــــــــ خطا وشي

کناره به د قلزم ــــــــ د ســمندر شي
په ما شــوي که په هره صِــحرا وشي

بيا به څرک د روښــنايۍ پســې ړانده شي
چې کوم ګو ســتـا د لېمو پـه رڼـا وشي

زه د خـاورو لـه انبـاره غبږه تـاو کړم
چې ســما سره پيمان د ســماع وشي

مينې داســې کړو حـالـت د شــمائلې
لکـه عين لـه جـان زدايـه جفـا وشي

غزل

د زګېرو يو د زخمونو قصـــې ډېرې تکراري شـــوې
د الفت د پښـــېمانيو توبې ډېرې تکراري شـــوې

برقرار اوســـه جنونـه هيڅ امېـد دې راســـتون نکړي
اوس تر شـــاه د ببلېدونکو نارې ډېرې تکراري شـــوې

حســـنه رنګ دې فرســـوده شـــو د جلال مزه دې لاړه
ســـتا و پښـــو ته د سرونو ســـجدې ډېرې تکراري شـــوې

ګرېوان وګنډه نرګســـه، سر دې جګ کړه لـه زنګونـه
د پردو لـه غمـه چـاکې ســـينې ډېرې تکراري شـــوې

نور بـه هر څـه پر قصـــاص وي د وطن د بې کســـانو
پر پـاتـاوو بلبـدونکې ډيوې ډېرې تکراري شـــوې

څه د ســـوز راباندې واوره، چې را ټول مې تصـــور کړي
نغمې ډېرې هرجايي شـــوې، نغمې ډېرې تکراري شـــوې

اوس هر دم راځيني کېږي، شـــمائلې ســـتـا لېمو تـه
چې مې نـه کولې هغـه ښـــېرې ډېرې تکراري شـــوې

## غزل

شي چې بې جانانه بې درمانه څه به وخاندي
تنګ چې شي سرې له خپله ځانه څه به وخاندي

خود به په ژړا په واوېلا له دې جونګړې ځي
تاته چې څوک وګوري ګرېوانه څه به وخاندي

مه غواړئ له مانه د خندا خبرې مه غواړئ
زړه چې د چا تور شي له خندا نه څه به وخاندي

شهر خو د ښکليو څوک له سمې ورځې نه پرېږدي
تاته چې څوک راشي بيابانه څه به وخاندي

څه به درته وايمه چې څه رابانديې شوې دي
خدای چې په چا نه شي مهربانه څه به وخاندي

رنګ د کروندو ورلره سوی د زړه زخم شي
فصل يې چې هېر شي له بارانه څه به وخاندي

زه د شمائلو ــــــ د محفل ــــــ د ناستې نه يمه
تښتي چې کوم فرد له خپل ارمانه څه به وخاندي

غزل

مســـلط رابـانـدې اور دی ځکـه ســـوزم
ســـتا د مينې په ســـېرا به ځمکه ســـوزم

تـوبـه - تـوبـه د نصـــيـب لـه عـداوتـه
چې پر څـاڅکيو د بـاران فلکـه ســـوزم

ســـتا د مخ وه بې روخي مې چې پيدا کړي
د خپـل زړه د بې قدرۍ په ورکه ســـوزم

ماهيگير به دې ښـــی لاس گـمي بې شـــکه
مگر زه دې پـه کورۍ چنگکـه ســـوزم

خلق چې لاس کېږدي په تا تبکه ســـوزي
زه چې لاس کېږدم پـه زړه، تبکـه ســـوزم

لکه شـــمعه هر ډيوټ کې په ســـلگو يم
پـه هر آن پـه هر محـال نـاوکـه ســـوزم

تغافل ـــــــ کړمه تصوير ـــــــ د شمائلې
مـا را ونغـاړه د ســـتوريو څرکـه ســـوزم

غزل

ټول رنګونـه ټول ګلونـه، وينې شي نکريزې شي
سـتا پيمانې سـتا لوظونه، وينې شي نکريزې شـې

څـه د ارتـقـا تصـــور بـل جـلاد شي بـل جـلاد
څـه د مصــطفی خوبونـه وينې شي نکريزې شي

دا د ارمـانـونـو څـلي زړونـه شي زخـمـونـه شي
دا د مـاښـــامي بـادونـه، وينې شي نکريزې شي

کاش زموږ د زړونو مســتي، ســترې نوحه ګره شي
کاش زموږ د عشـــق بابونه، وينې شي نکريزې شي

بو يه که دا ســوې درختې پېغلې شي افغانې شي
بو يه که دا وچ ســيندونه، وينې شي نکريزې شي

ســتـا د بې غمۍ تلقين چې ځان تـه ورکوم کلـه
ســتـا د ګرېوانـهٔ تـارونـه وينې شي نکريزې شي

ور چې شـــمائلې کړو مقام د خپل جنون په عرش
لاړ شي د هغو رنګونـه وينې شي نکريزې شي

## غزل

یاره چې باچا ســتا د کوڅې بې تخت و تاجه و
هغه زړه مې مات شـو چې خودسر او سـنگ مزاجه و

اوس د خلکو برخې بدلوي په اســمانونو کې
پروت چې ســتا تر څنگه بېنوا او بې علاجه و

ما ته به رانکړي ــــ امتزاج ـــــــ د یوه بل حسن
جوړ که ـــ محبت زما او ـــــــ ستا له امتزاجه و

خوب که زما نشــته ــــــــــــ لړ رواج ته زما وگوره
تللی گوتنبهود هم له دا هســې رنگ رواجه و

ســتا له اذیته مو چې شــته کړې کاکړی غاړې
هغه وخت پرېوتي ســتا د هر نظر له جاجه وو

موږ چې شــمائلې کړه په یار باندې څواني خاورې
هر چاته درانهٔ وو ــــــ مگر دهٌ لره بې ـــ لاجه وو

## غزل

ســتـا لـه فراقـه مې دا هســې زړه کې اور بلېږي
بويـه پـه عـدم کې ډيوې هـالـهْ کې اور بلېږي

مينې پـه رنـګ و لطـافـت دې خطـا شــوې ومـه
ستا خو په رګ رګ، په ويښته ــ ويښته کې اور بلېږي

د تـير پـه رس کـې رادوړېـږم لـه خـوبـونـو ځـنـې
چې پکې اوســم پـه هغـه کـالـه کې اور بلېږي

مـا تـه بـه راکـړې لـه فـتـنـو سره تـړلی ژونـدون
آســما نه ســتا به په ســړه ســينه کې اور بلېږي

زه چې مجنون زړګي تـه ورکړمـه تلقين د صــبر
هر مـازيګر بـه د شـــداد کوڅـه کې اور بلېږي

د شــمائلې ـــــــــ په زيارت باندې نذرونه منې
ګـوره ولاړه ده حـواه تـيـاره کـې اور بـلـېـږي

## غزل

د مئینو ـــــــــ زړو له ـــــــــ حاله نا خبرې
د فلک په کرسۍ ناستې بازیگرې

هر سهار راځنې زر و زیور غواړي
سهارې شوې ستا د زلفو کسبگرې

سای مې گرځي د اویاو تورو له نیامه
تماشې لره ــــــــــــ مې راشه قلندرې

د قضا د روهیلیو له یارۍ نه
په سر درختې گرځومه په زړه سرې

غماز هسې له کالبوته غمازي کا
ځان وژلیو ته څوک نه وایي منترې

د خودۍ نشه دې نه وځي له سره
څو که گشت په مقبرو کړې ستمگرې

هر یو ور یې ــــــــــــ شمائلې لره ووې
چې دې سرای کې خلک نه ساتي نوکرې

## غزل

پر ما شـــوه نهْ په تا شـــوه دنیا ورانه د حســـینو
غفلت پسې نور هم شو ــــــــــ بېکرانه د حسینو

دا اوشـــکې دي زما د بې هنره عشـــق د ســـترګو
دا شمعې چې راګوري ـــــ له مکانه ـــــ د حسینو

ملاح دی که بادبان دی که هاتي که پهلوان دی
پـه خپلو چـارو بوخـت دي لـه ارمـانـه د حســـینو

زه ســـوچ د دنیـاوالو عـداوت تـه یم اخیســـتې
یزدانه، یه یزدانه، ـــــــ وه یزدانه ـــــ د حسینو

که خواه پرې ســـړوي د جنګپرســـت وطن وګړي
روانـه ســـړه خواه ده، ســـایـه بـانـه د حســـینو

چې کربښـې مې د لاس ما پسـې لاف و خلاف وایي
ګیله به کوم ـــــ ثنګه تر ـــــ مهمانه د حسینو

فریاد ته شـمائلې ـــــ په دُرو ـــــ وهلی راغی
زما د نصـــیب ســـتوری له اســـما نه د حســـینو

غزل

و یر ما تم وي پکې تل د خود آزارو
کرار نه شو ـــــ دا مکان ـــــ د نا کرارو

دا له کبره او له کربه ډک وختونه
منتبار شـــه ستا د سـترگو منتبارو

معجزه ـــــ د آدمیت ـــــــ ورلره بویه
په زاریو ـــــ کلي نه ـــــ شي د بېزارو

تر هغوی دي د ناموس خبرې ډېرې
څوک چې مونږ راپورته کړي وو له لارو

هیڅ مې یار پر بې ننگۍ گرمول نه زده
خو بلا مې ور په سر شـــه د ریبارو

بې سببه لکه ـــــ مالگه ـــــ اوبه کېږم
خدایزده څه چارې راوکړي خپلو چارو

دا چې مرم دارالاوهام کې شـــمائلې
دا راوکړل څو مخونو خوشـــگوارو

غزل

لـه فراقـه سره يو پـه ســـل پکـار دي
لـه دې ښـــاره پـه مـاتم وتـل پکـار دي

ژونـد تـالان دی او پـه موږه راتـاوان دی
دا د غم خنجر پـه زړه خوړل پکـار دي

سرگردا نه د خپل بخت په صـــحرا گرځم
پرېشـــانۍ مې ســتا د لاس د گل پکار دي

څه چې وايم رانه هېر دي، څه چې غواړم
لا ممنوع دي ما نه زيات د بل پکار دي

د لـېـمـو زيـارت کـې تـوره چـمـبـېـلـيـه
تـا تـه عرش ځينې اوبـه راوړل پکـار دي

چې پـه مخ مې بلوي د اوښـــکو شـــمعې
هغه ســـترگې مې په هر محفل پکار دي

شـــمائـلـې د گـل روخـو پـه يـارۍ کـې
تل پکار دي، په صـــليب ختل پکار دي

## غزل

نـه مو اســتـانـه شــوه نـه ترې ووتو بېرون
ســتا د محبت په ســوچ کې ناســت يو سرنَګون

يمـه تش کـالبوت د عـاشــقۍ د زوال پـاتې
روح مې لکـه څـګ ګرځي پـه بحر د بېلتون

ســـتـا لـه دانـايۍ نـه خو عجبې شـــوې راسر
اوس مې لکه وار شـــو ددې خپل زړګي مجنون

تـا بـه رانـه وکـړو د پـيـنـځـو خـبرو ســـوال
ما به درنه ځار کړو دا پينځه ورځې ژوندون

زه چې مجبور يمـه ســـودا تـه د ضـــمير
يو اســـمان دې هم زغملی نشـــم بې ســـتون

اې قاصـــده يار خو په وعده نه دی پښـــېمان
نن مې په زړګي کې تورې کښـــلې دي پرون

زه چې شـــمائلې خولـه خنـدا تـه جوړوم
ومې کړي تعريف حـالِ افســـون حـالِ زبون

غزل

اې د درد و غم شـــهبازه، ژوند ســـقر دی، او که نیاز دی
زه انــجــام یمــه آغــازه، گــل زمــا د زړه آواز دی

دا د حســـن پـه خلا کې، لېو نتوب د تیـارو زه یم
دا د شــمعو پـه ژړا کې، پروت زمـا ســوز و گـداز دی

د بېهمن مخـا لفت هم، مـا د یـار لـه نـازه زده کړ
د گلونو حفـاظت هم، ســتـا لېمو کې زمـا راز دی

ســتـا د اوښــکو قـدر څـه زده، د دنیـا لـه نور عـالمـه
دا خو زړه زما ســوری دی، چې ســوالي او نی نواز دی

د ادم او درخـو لارې، چـا د گـل او صـــنـوبـر کـړې
دا تـاریـخ د مـهـجـبـیـنـو، ولـې پـروت پـه کـتـهـواز دی

بې حســـابـه ښـــائســـتونو، د جفـا لـه تېغـه تېر کړ
هـغـه زړه چــې سرفـراز و لا تـر اوســـه سرفـراز دی

بـاک یې نـه و شــمائلې کـه تر دې هم مختصرــ و
خو دا دوه ورځې ژوندون هم چیرته سوز او چیرته ساز دی

## غزل

ســتا شرابي شــونډې چې رنګ واخلي
زمـا لـه داغـه نى او چـنـګ واخـلي

پـه ژونـدانـه يې کړه پـه مړو حســاب
د چـا د زړه ســتنې چې زنـګ واخلي

بچى مې لاړ شي د ســا حل غاړې ته
زمـا د ســوال پـه پيســو بنـګ واخلي

ازمايل شوي ـــــ په ما ـــــ مه ازمايه
ځــي دې بـلا دې د فِـرنـګ واخـلي

چې پـه هـمزولـو کـې هـمسرـ لـتوم
لـکـه يـونـاه بـه مـې نـهـنـګ واخـلي

په ســنګ به مات کړمه کودى د نصــيب
هغـه کـه بيـا لـه مـا نـه ځـنګ واخلي

ځـه بـه يې کم شي شــمائلې پـه دې
حال مې که هغه شــوخ و شــنګ واخلي

## غزل

لرغونی مې ســتا د عشــق الزام په سر دی
هم اغوش مې دا فلـک او دا نشــتر دی

خلاصــې دې د نمجنو ـــــــ ســترگو اورم
راختونکی په شَـهرونو ـــــــ سـمندر دی

اشـــنا داســـې خپل غرض کړ رانه هېر چې
اوس نـاشـــنـا راتـه پـه هر يوهْ نظر دی

لـه قصرـــونو مې لوحې د مينې بـاسي
لمســولی مې حـاســـد د زړه قيصرـ دی

پـه خـنـدا مـې تـعـجـب کـول لازم شي
چې گواه مې هر نَفَس د کوم منظر دی

عشـــق زما د غاړې طوق کړ ســنگدلانو
لاهو شـــوی مې پـه بحر کې منـدر دی

لکه سروه په ـــــــــ خندا يم شـمائلي
يـار مې ســترگو کې گلاب د نيلوفر دی

غزل

د خاطر ولې مې وريبي ميگونی
چې په سر کړي د لالهْ غوندې پړونی

چې تغير يې نه په کرب نه په تذليل و
هغه زړه کړ يوې مينې اور لړونی

خسته حال په دا سې رنگ، محبت پرېښوم
لکه وباسي جلاد له نيه ستونی

سکونت دې له هر باده پېچ و خم کړه
په خازه مې اودهْ کېږي د يار غونی

وايي روح دې زما روح سره کوښېر که
په شمشېر راپسې سر وهي مرگونی

چې د چا له جوره لاړم شمائلې
جنازه کې مې ولاړ و ځيگر خونی

## غزل

چې يې ويســـتې وم له ژونده، نورې هغه قصـــې ناؤرم
ســـتا د ســـترګو بلا واخلم، ســـتا د مينې وعدې ناؤرم

پټنګان د ســـياهۍ مې ـــــــــــــــ بې بها کړهْ فرېبانو
ځکه دومره شـــوم بې حســـه، چې ســـلګۍ د ډيوې ناؤرم

خبرداره يم پـه دې چې، همګي حســـبِ غرض وي
چې ترشـــاه راپســـې کېږي نو زه هغـه نـارې نـاؤرم

څه خامي راکې ضرور شـــته، د دې خپل عقل له لاســـه
چې پر تخت د يو معراج هم، ســـتا د نور پلوشـــې ناؤرم

د يو څو ســـترګو مســـتۍ مې، يو وخت ژوند و په دار کړی
له تکراره يې وېرېږم ـــــــــــــ ځکه مستې نغمې ناؤرم

چې په زړونو کې ســـړې شي، اورېدهْ يې په قســـمت شي
چې په شـــونډو کې ســـړې شي، نو بيا هغه ســـړې ناؤرم

امتيـاز پـه مـا او تـا کې ـــــ شـــمائلې بس همـدا چې
تـه پـه هر يو غم غمګينـه ـــــ زه د هيچـا ګِلې نـاؤرم

غزل

رنځ و غم د خپل منزل کې عجیبه مســـیحا وینم
ســـتا د زلفو پـه تیـارو کې خـدوخـال د رڼـا وینم

عـاقبـت بـه پوره کېږي د محشرــ د راختو وخـت
ځو د مینې پـه کـالـه کې، رنګینۍ پـه ګـډا وینم

تـه د نوح خبرې پرېږده، د یحیـا خبرې پرېږده
زه خو ســـتا د نېکفـالیو، حـادثې پـه ســـما وینم

بل برذخ به ورته ســـاز کړي فریښـــتې زما له عشـــقه
که ځواني مې شـــوه تمامه، نا تمامه یې لا وینم

پـه خلا کې چې څـه اورم، د مرګونو وعـدې اورم
پـه دنیـا کې چې څـه وینم، د دنیـا ابتـدا وینم

ګرځم ګرځم بې آرامه، مســـلســـل دا ځو ماښـــامه
د خپل عشـــق پر دېوال ســـیوری د فراق د بلا وینم

ځواني لاړه شـــمائلې، مســـتي لاړه نظر هم لاړ
یو دیـدن د چـا د مخ و، مګر زه بـه یې لا وینم

## غزل

خدای خبر د چا د کور مشـــال شـــولې جانانه
لارې دې خنډېنې ــــــــ د وصال شولې جانانه

ما خو کهٔ ناشـــونې په ځان وکړې مجبوري وه
ته ولې قا تل د خپـل جمال شـــولې جا نانـه

ودې کړه پـه سر بـانـدې ســودا خپلو زامنو
لاړلې وطنه یرغمال ــــــ شولې ــــــــ جانانه

مورږ دې بې هنره کړو ثـابـت ټولې دنیـا تـه
پورتـه پـه بلۍ چې د کمال شـــولې جـانـانـه

وعظ د واعظ هلـه پیـدا کړل اوربـدونکي
ته چې یې خطا په قیل و قال شـــولې جانانه

نـن خـو دې انـجـامـه د مـزې خـبره وکـړه
خدای خبر په څه مې هم خَیال شـــولې جانانه

تېر شـــوې پـه مزار بـانـدې د هغې شـــمائلې
هیلې چې د چا درپســـې ټال شـــولې جا نا نه

## غزل

خلک به وا يي چې خندا دې وکړه
خندا دې وکړه خو بلا دې وکړه

د زړه په لارو مې راوتوکېدې
او د ظلمونو ــــــــ انتها دې وکړه

مخ دې راتور کړ په رواه محبت
جانانه ډېره ــــــــ ناروواه دې وکړه

چې سکندر به يې سلام ته راتهْ
زما د هغه زړه سودا دې وکړه

ځوانۍ د عشق له ټسه چيرته لاړې
کومه گناه کومه خطا دې وکړه

زه دې واقِفه په يارۍ ومه چې
حسبِ غرض حسبِ منشا دې وکړه

په نا اشنا رنگ دې سره کړه مينه
ياره وفا او کهْ ــــــــــ جفا دې وکړه

هغه کيسه چې معمې يې غوښتې
ساده دې وکړه او صفا دې وکړه

ژونده، د سوز او گداز رنگ دې راوړو
د شمائلې ــــــــــ ابتدا دې وکړه

## غزل

اوس لـه هغـه ښــــاره هيڅ خبر د جـانـان نـه راځي
غږ تـرېـنـه د مـيـنـې د نـغـمـې او آذان نـه راځـي

يـا بـه پکې ژونـد نـه وي ممکن چې پکې اوســمـه
يـا بـه مې جونګړې تـه جرس د کـاروان نـه راځي

مخ دې آلوده، زلفې دې بنـدې پـه ښــــاخونو کې
ګنج ته دې د حســن هســې رنګ ښــاماران نه راځي

ما وته له مانه کشـيد ـــــــــــ شـوی رنګ راولېږي
اوس مې چې پوښــتنې تـه راځي، ارغوان نـه راځي

هر ســړی ضــامن د خپل عمل دی ته يې څه کوې
شــيخه ناکام مه کوه ــــ په تا يې تاوان نه راځي

ځمکه هســې رنګ بې مور و پلاره راته ښــکاري نن
ښـايي دې نه پس يې څوک قاصـد د آسمان نه راځي

زه له خپله بخته ــــ شمائلې په ـــــــ ضرور يمه
غم د چـا د ســوي زړه او خيرې ګرېوان نـه راځي

غزل

کړمه په سل نفسه سل مخونو آواره
ستا د محبت ـــــــ کیفیتونو ـــــــ آواره

گل سره ریشته وي انحراف تر هر مزاج
اوسم چې په لریو وطنونو ــــــــــ آواره

ورک مو شو د بیا پیدا کېدو نوم او نشان
داسې مو کیږدۍ کړې سېلابونو آواره

لرې دې ترې نوم کړ په خپل لاس د خپل تړون
تا مې کړلې کربښې د لاسونو ــــــــــ آواره

ستا د انتظار یوه لمحه به یې کړي کور
کوم نظر چې نکړو کتابونو ــــــــــ آواره

گیر لکه هوسۍ شي د لېوانو په کنډک
ژوند مې هسې رنگ کړ، څو غمونو آواره

راکړه شمائلې ــــــــ د خپل عِشَق حواله
زه کړمه د خلکو ــــــــــ پېغورونو آواره

## غزل

پــه هر دم پــه هر قــدم، هر جــايي ده هر جــايي
ســـتا د زړه مينه صـــنم، هر جايي ده هر جايي

هر جــايي ده هر جــايي، هيڅ پرې نلرم بــاور
يارانه د غنچه فم ـــــــــــ هر جايي ده هر جايي

لــه هر چــانــه تــاووي، پــه خنــدا حســـــبِ ضرور
تورې زلفې پېچ و خم، هر جــايي ده هر جــايي

غم خوړلی د خپــل ځــان، زمــا نــه کوي پرســـــان
چې د چــا لــه غمــه مرم، هر جــايي ده هر جــايي

تــل دې ا خلي دغــه شـــــان، يــارا نې پــه اِجــاره
لاس دې نه ږدي په قســـم، هر جايي ده هر جايي

چــانــه مــه کوه ګِلې، وي پــه دې کې بــه دې خير
مرثيــه ســـتــا د شِـــکم، هر جــايي ده هر جــايي

شـــمائلې هر ســـړی ـــــــــــ پرې کولی شي ســـفر
لار زمــا د درد و غــم، هــر جــايــي ده هــر جــايــي

غزل

تکیـه راکړه خپلـه ځانـه، یو څو ګـامـه راسره شــــه
پـاتې کېږم لـه کـاروانـه، یو څو ګـامـه راسره شــــه

تصـــور د رنځ و غم مې، د ژونـد لارې کړې خنـډونې
بې درمـانـه یم درمـانـه، یو څو ګـامـه راسره شــــه

چې خبر دې کړم لـه کرب او مشـــقتـه د وګړیو
ته خو لږ هم تن آســـا نه، یو څو ګا مه راسره شــــه

چې شــو خلاص د وخت له جوره، ای زما د زړګي زوره
راسره وکـه مـېـړانـه، یـو څـو ګـامـه راسره شــــه

بـل مشــــال د مینې راوړه، پـاتې لارې انـدېرې دي
وارخطـا یم نِګـاهبـانـه، یو څو ګـامـه راسره شــــه

بادشــــاهان د ســـلطنت مې، راج په زلفو کول غواړي
ای زمـا د زړه ســـلطـانـه، یو څو ګـامـه راسره شــــه

د مجنون او فرهـاد مینې، راتـه ووې شــــما ئلې
په وتو یو له داســـتـا نه، یو څو ګا مه راسره شــــه

## غزل

تـل مې خيـال تـه سـتـا د زلفو د گـل لارې بنـدوي، ازل لارې بنـدوي
هـم زمـا او هـم زمـا د غـزل لارې بـنـدوي، ازل لارې بـنـدوي

دا پخلا دښـمن مې نـه پرېږدي پـه لور د ارتقـا، د وصـال او د سـبـاه
نـور نـو ځـوک دي چـې زمـا د مـنـزل لارې بـنـدوي؟ ازل لارې بـنـدوي

نه رقيب شـته نه غماز او نه حاسـد په دې وطن، چې ترې وکړمه پوښـتن
خـو مـدام راتـه داسـتـا د مـحـل لارې بـنـدوي، ازل لارې بـنـدوي

هيڅ مې نـه پرېږدي امېد تـه د راپـاتې زنـدگۍ، دا احســاس د کمترۍ
چې يوه کړي راتـه خلاصـه نو سـل لارې بنـدوي، ازل لارې بنـدوي

نتيجې کـه د تـدبير مې نمـايـا دي هر هر څو، لاهو کېږي پـه اوبو
زړه چـاودونـه يـقـيـنـي شـه دا ځـل لارې بـنـدوي، ازل لارې بـنـدوي

څو جوړې يې کړې راجوړې شـمائلې پـه اسـمان، د فراق او د مېلان
اوس زمـا او سـتـا د سر او ځـنـگـل لارې بـنـدوي، ازل لارې بـنـدوي

## غزل

له فلکه مې ـــــــ د زړه وينې ـــــــ بهېږي
پـه هر سرای پـه هر کـالـه وينې بهېږي

سرې بـه ولـې د آســـمان نـه وي لمـنــې
چـې مـدام د پښـــتـانـه ويـنــې بـهـېـږي

څوک کمځې شـــانه کوي په څوارلســم کې
چـا رېـبـلي خـپـل مـازغـه ويـنـې بـهـېـږي

ســتـا د هجر پـه قرنونو کې يې شــپـه وه
عشـــق مې کړي دي وائـنـه وينې بهېږي

رانـه غواړي لـه صــلـيبـه وتې ســانـدې
راتـه نـاســـت دي مېلمانـه وينې بهېږي

ګېرچا پېر ځنې لښـــکر د يزيـد بويـه
څوک زګېرويېږي پـه لمـانځـه وينې بهېږي

شـــمائـلـې هـيـڅ مـنـظـر د کـتـو نـه دی
هـره خـوا د بـېـلـتـانـه ويـنـې بـهـېـږي

## غزل

ستا د نظر ـــــــ د لګېدلو ـــــــ اثر پاتې نه شو
مینـه مې مینـه او ځِګر مې ځِګر پـاتې نـه شــو

دې پښــتنو بـه خپـل پړوني چـاتـه نـه غځول
خو کابل وران شــو پېښــور پېښــور پاتې نه شــو

د فرېبانو له مجاله ــــــــــــــــ فرهادي محبت
هغه پټی شــو چې قابل د حشرـــ پاتې نه شــو

زما که زور د زړه او به جذبې ســړې کړې دنیا
تـاسره هم هغـه د حســن جوهر پـاتې نـه شــو

چې په اسره به یې هوســا او شــادَ ما نه و مه
د هغه باغ مې څانګې ماتې ثمر پاتې نه شــو

چې پرې راخپل دې کړم له ډېره پردیتو به ببر ته
ماسره داســې کســب، داســې هنر پاتې نه شــو

ځـان یې ورګـډ کړ شــمائلې د ړنـدو پـه کلي
چـاتـه یې ووې چې نظر مې نظر پـاتې نـه شــو

## غزل

بـاده خبر کـه د اشـــنـا د کور چِلمن، زمـا لـه حـالـه
په ما راماتې شــوې خولې د ځنکدن، ور يې شــه خواله

باده تازه مې دې کړو زخم پخوانی، په ماښـــامي کې
خوشـــبو دې راوړلـه د يـار د پيراهن، گرځم لېوالـه

چې ترهول مې ترې د سر قاتلان هم، د زړه له صِـــدقه
ماته په هغه لار راپېښ شـــو گزشـــتن، ســـتا له جماله

شـــو تور کارغان ترينه چاپېر د غمازۍ، عجب منظر دی
درپســـې توی مې شـــولې غوښـــې د بدن، له هر دېواله

د زړه يقين مې دې بدل کړو په گمان، د يار وصـــاله
چې ارزومن دې و اوس هم دی ارزومن، د بوډۍ تاله

څو به کوځ په خپله خاوره پردی جنگ، يه ســـادگانو
د شمائلې ـــــ د لمبه لمبه وطن ـــــــــ اهل و عياله

غزل

اوس که خلک وايي څه به را ته وايي
ما به خوري گدايي څه به راته وايي

دروازې مې راوهي په بې روخيو
د فنا جدايي څه به راته وايي

ستا د شونډو موسېدل به رانه غواړي
د غونچې سَتايي څه به راته وايي

چې زما په غم سودمن اشنا مې بولي
رقيبان به ستايي څه به راته وايي

يو پيمان به د وصال په څو څو ځای کا
يار چې شي هرجايي څه به را ته وايي

غورځوي به مې له لوړو کندووڼو
که مې وړي بينايي څه به راته وايي

سړه خواه راته ———— ولاړه شمائلې
ستا د ښار تنهايي څه به را ته وايي

## غزل

نـه چې لري سر او سرور ژونـد بـه ورتـه نـه وا يو
وي به راتر غاړې، ضرور ـــــ ژوند به ورته نه وايو

تـاسره وعـده کوو تر کومـه چې پـه خود کې وو
تـانـه چې جـدا وي حضـــور، ژونـد بـه ورتـه نـه وايو

رنگ مو چې د عشـــق او د جنون په لوگو تور نکړي
ذهـد مو چې نکړي مخمور، ژونـد بـه ورتـه نـه وايو

څو که راته وکړي ـــــــــ خوشـامدې له تمغو سره
موږ ته چې رانکړي منشـــور، ژوند به ورته نه وايو

پرق چې ســـتـا د مخ د پلوشـــو پکې ونـه وينو
هر څو کـه دېره وو پـه طور، ژونـد بـه ورتـه نـه وايو

نور خو څـه، چِلمن د دروازې مو کـه هم وچيړي
نه به وي جوگه د دســـتور، ژوند به ورته نه وايو

را چې نه وړي موږ ته شـــمائلې په هر رنگ ماتم
زلفو کې لِهرونـه د نور، ژونـد بـه ورتـه نـه وا يو

## غزل

هر آذیت شي ـــــــــ اذیت آذیت بل اذیت
او بیا د دې ـــــــــــــ آذیتونو، لذت بل اذیت

ابرو ساتل د لوپتې د عظمت بېله بلا
د ښار کم ظرفو لره سوال او منت بل اذیت

له غاړې تاؤ لکه زنځیر عداوت یو اذیت
او زړه نه تاو لکه ښامار محبت بل اذیت

په دومره ډېرو غمازانو کې ژوند ځان ته عذاب
او بیا له دوی سره راپېښ مصلحت بل اذیت

چې هر منظر یې وي د یار د بېلېدلو منظر
په هغه لار وي گذر حسبِ عادت بل اذیت

داروالاوهام کې دې چې واچوي صورت د ماضي
وي په آئین کې کتل هغه صورت بل اذیت

اول دې راکړ ـــــــ شمائلي ـــــــ د غزل اذیت
بیا دې له ځانه تښتېدونکی فطرت بل اذیت

## غزل

زړه رنځور ګرځوم، باوجود د طبيب
هر ارمان مې ولاړ، په سولۍ او صليب

زړه رنځور دی زما، په يو رنځ لا علاج
کړي خندا يې په حال، دا سنګدله سماج
په ډيوټ کې مې مړې دي ډيوې د نصيب

زړه رنځور ګرځوم، په کوڅو د نګار
او ګريوان د جنون مې، فراق کړ تار تار
کړي په حال مې ژړا، د ګلشن عندليب

زړه رنځور مې آشنا، رانه تا غواړي تل
خو صورت مې بندي دی، په بند د ازل
رقابت راپېښ شوی ـــــــــــ د داسې رقيب

زړه رنځور وي زما، شمائلې مدام
نه يې سيند شو مسيح، نه د ستورو ماښام
غږ به يې واورې، په زېر مازيګر عنقريب

## غزل

غم دې کړم ســـودا يي، ســـودا يي د صـــحرا
يم په دوک پنهاني ـــــــــــــ پنهاني له دنيا

چې مې گل شي د خيال، شي مې ســـترگو کې گل
دا آفـت اســـماني، اســـماني دی پـه مـا

دې ځگر دې مجنون، څو څو ځـايـه کړم داو
دا نـــظـــر يـــزداني، يـــزداني دی گـــواه

چې خپل ځان کړي ضــامن، د خپل قام د حســاب
نـکـړي څـوک دا ځـواني، دا ځـواني نـن ســـبـا

چـې پـه غـوښـــو د زړه، مـهـرويـان کـړو مـاړهٔ
عشـــق کـې دا مـهـماني، مـهـماني ده رواه

حــال زمــا هــم د زړه، لاڅــاني دی خــراب
مـخ کـه ســـتـا لاڅـاني، لاڅـاني دی اشـــنـا

ښـــايي مرگ مې مېلمـه، شـــمائلې شي نن
لـگـي ســـاز ســـهـاني، ســـهـاني د فـنـا

غزل

پټ پنهم مې دی ژوندون په اضطراب ډوب
یار ته ښکاري په عِناب او په شراب ډوب

محتسب لره به وایم په محشر کښې
یو مې زړه و هغه هم و په خوناب ډوب

زماني کله مې بار کړې ستا له غېږې
هر منظر مې شو د زړه د انتخاب ډوب

چې د مینې ښاپېري به پرې را ټول وو
هغه بام د کشمالیو کړو سېلاب ډوب

قبیلې ــــــــ د عنکبوتو ــــــ درنه لاړې
ته له کومه وخته پروت وې په دې خواب ډوب

چې مدام د بېوسۍ په اوښکو لامبي
دې نه ښه وي چې سړی شي په گرداب ډوب

تا خو خپل انتخاب سر کړو شمائلې
خو اوراق دې کړل زما د انتخاب ډوب

## غزل

گلچینه غنچه فم زما، بې حده دی ظالم
زړه سبزي صبح دم زما، بې حده دی ظالم

په تا کې څه تیاره د رقابت شوه راپیدا
ریاره که صنم زما، بې حده دی ظالم

چې ستا تصویر راجوړ کړم تصور کې، شي رامات
په سترګو کې دا نم زما بې حده دی ظالم

نعرې وهم چې وینې مې څکي وینې مې د زړه
نعرې وهم چې غم زما بې حده دی ظالم

د نورو خو لا څه چې زما هم نه ساتي خیال
دا رنګ لکه غنم زما بې حده دی ظالم

ځوربږم چې به چېرته لټوم خپل دمه ځای
خبر یږم چې همدم زما بې حده دی ظالم

ترې نه شي شمائلې تصور کې هم وصال
دا هجر همقدم زما بې حده دی ظالم

## غزل

هم مې روح درپسې ورک دی هم آرام، دلارامه
را لنډ شوی مې مزل دی د انجام، دلارامه

ماتوي د چنډۍ ونو، د ځوانيو نرۍ ملاوې
ستا تندي باندې دا تور د زلفو لام، دِلارامه

تاته چا دی تعریف کړی ډېر آسانه عشق د ښکليو
په دې لاره چېرته دار دی چېرته دام دِلارامه

موږه درختې يو د لارو ويشتل کېږو تل په کاڼو
موږ د خپلو بدو ناخلو انتقام، دِلارامه

ستا جبين اسمِ اعظم دی، ته له ځانه نا خبره
زيست عالم درته ولاړ دی لاس په نام، دلارامه

ستا د مخ سودا لا پاتې، دا سودا زما د سر وه
چې نوکره شوم د خپل کور د غلام، دلارامه

ما، جنون او شمائلې، ستا له نومه اقتدا کړه
دا چې پاتې له خپل نامه يو وينام، دلارامه

## غزل

ای د عشــق د ســحر باده، مړې غوټۍ مې د زړه وا که
د زوال تـورې خـلا نـه، لاس راکـوز د مســیحـا کـه

د حبـاب پر اوګو ګرځم، د فراق لـه ســتړي رنځـه
د قـاتـل حســن داســتـانـه، رابـدلـه مې منشــا کـه

دا دنیـا لـه معشــیتـه، د ســـل سرې بلا لور شــوه
خدا یه نوره یې له خپله، هســـت او بوده ناوېســـا که

زنـدګـي د رنـګـیـنـیـو، نـه قـابـلـه ده نـه پـاتـې
د آســمان د صــبر خـانـه، طوفـانونـه دې برپـا کـه

دا وطن ځینې وزګار که، په یو رنګ چې په هر رنګ وي
دا قـاتـل د ســـل او زرو، څوک حســین د کربلا کـه

ســیپاهیان د نوشــېروان دې، د کارغه ســړیتوب وژني
لړ یې پوه پـه طرز و نبض، د ژونـدون د مـدعـا کـه

مهیا یې که ځانګونه ــــــــــــ په مزار د شــمائلې
پټ په زړه کې دا حسرــت مې، د یو راز غوندې افشــا که

غزل

دا چې په هره حواله کې ته وې
زما د زړه په کشـــاله کې ته وې

ســـتا خودبېنۍ سره يې قدر نه و
چې مې د خيال په دوشـــاله کې ته وې

د غم جګنو کې به حسرت و د عشـــق
زما د زهرو په پياله کې ته وې

لکه صـــحرا به په وســـواس کې زه وم
لکه ســـپوږمۍ به په هاله کې ته وې

چې د تکل امکان هم نه جوړېده
ما نه په دومره فاصـــله کې ته وې

هســـې دې ځان کړ په رنګونو کې رنګ
د جان تلبيس د شـــيخ چِله کې ته وې

د شمائـــــلې ـــــ د جنـــون واهِـــمې
په پله کې ته وې په جاله کې ته وې

غزل

زړه مې سـوي دننه سـتا د عشـق په اور اور
تور دودونـه ترې نـه خېژي پـه هر لور لور

يـارانـه دې صـدقـه د شـوم د كور شـوه
عـاقبـت بـه مـې زړگـی شي درنـه تـور تـور

غم مې خلاصـې كړې د ټولې ځوانۍ چـارې
دې نـه پس بـه مې اوبـه كړي د زړه زور زور

چې الفـت پکې ليـدای، نـهْ رقـابـت شـم
پـه دا هسـې نـظـر مـه راگـوره نـور نـور

پښـېمان بـه شي اشـنـا پـه خـپلو چـارو
چې شَـنـاختو تـه مې وگوري د گور گور

كـه هـر څـو ځـينـې قـدم پـه كـنـارو ږدم
د بې حسـه ژونـد راپورې بيـا هم پور پور

فرزانـه مې شـه د مينې ـــــ شـمائلې
حاسـدانو مې په حال جوړ كړی شـور شـور

غزل

هر منظر د ماتم ته د سبا ته يې
اوس زما د لېونتوب انتها ته يې

په انګړ دې د سپوږمۍ محتاجه نه يم
د رانا د ګل په لاس کې رڼا ته يې

دا سبو به مې احساس او التماس وي
د جګنو په دې مستۍ کې صهبا ته يې

همسفر يې او که ګل د صنوبر يې
راختلی مې د زړه په صحرا ته يې

مسيحا شه دې په رنځ اخته عالم ته
که منشا د دې خورې مدعا ته يې

نرګسي سترګې دې خدای مکړه بې نيازه
د دنيا به وي دنيا خو زما ته يې

ما ويل د چا سايه به راته ګوري
اوس مې پام شو شمائلې چې دا ته يې

## غزل

مات شــوی په ســل ځایه په ســل واره په ســل رنگه
زمـا د نصــیـب ســتوری یـه مرشـــده یـه ملنگـه

پـه هـیـځ نـرخ و رواج د کـمـېـدو مـاتـېـدو نـه یـې
عـلاج دې رانـه هـېـر دی د جـانـان د زړگـي زنـگـه

گـرېـوان دې خـوراســـانـه د مـیراث بـادونـو یـوړ
ځانگونه دې راخلاص کړم له کوم زاغ له کوم خدنگه

احســـاس دې چې د زړه د پرېشـــانۍ ورسره نه وي
پر خوا د اژدهـا شــې نـه د داســې یـار لـه څنگـه

مجبور یو چې دا پـاتې عمر تېر پـه درغلۍ کړو
هـر څـو کـه بـې لـه تـا ده راتـه یـاره دنـیـا ړنـگـه

دا تـا چې لکـه وکړه خپـل هئیـت سره پـه جهر
څوک داســې بې ننگي چـا سره نـه کوي بې ننگـه

خـبر مـې شـــمائـلـې تـه څـوک وروړئ لـه بـرزخـه
دا زه چې پـکـې اوســـم دا پـنـجـره ده ډېـره تـنـگـه

غزل

شـــې همـدا رنګې حيران، لکـه زه چې څنګـه يم
په شـــته کور کې بې مکان، لکه زه چې څنګه يم

زړه نـا زړه پـه مـايـوســـې، راوربـړي پـه بـلـې
داســـې ښـــکـاري دا بـاران، لکـه زه چې څنګـه يم

د مجنون د عشـــق داســـتان د ميمون د کور کنډر
داســـې پروت دی بې پرســـان لکه زه چې څنګه يم

بـاوجود د کـل اســـبـاب، زه ســـوالي يمـه ســـوالي
بـل بـه نـه وي بې زبـان لکـه زه چې څنګـه يم

د خپـل وخـت د خپـل زمـان د ارزښـــت د پېژنـدو
څوک بـه نـه وي پـه ارمـان، لکـه زه چې څنګـه يم

چې پـه عشـــق کې د وفـا، کړي همـه سرحـده پـار
نـه د بـل شي نـه د ځـان، لکـه زه چې څنګـه يم

لا بـه نـه وي چېرتـه بـل، شـــمائلي پـه جهـان
ارمـاني ســـتـا د ميلان، لکـه زه چې څنګـه يم

## غزل

کړمه په دوک دې زمانې، د خپلې مینې په سبب
راکوي صبح و شام طعنې، د خپلې مینې په سبب

هم مو بې قدره شوې ځوانۍ، په هر مسیر په هر دیار
هم مو خرابې شوې خانې، د خپلې مینې په سبب

ذرې ذرې مو کړې واعظ، په خپل بې حسه دندوکار
د مستو زړونو پیمانې، د خپلې مینې په سبب

موږ لېوني د خدای ساده، اوس خطا باسو عاقلان
موږه هم زده کړې بهانې، د خپلې مینې په سبب

ورځ مو وي ورځ د کربلا، یو خسته حال بې انتها
شپه مو وي خوب د جیلخانې، د خپلې مینې په سبب

اوس نه ژوندي یو او نه مړهٔ، نه غمازان یو نه یاران
داسې راوشولې کانې، د خپلې ـــ مینې ـــ په سبب

زه شمائلې یم فعل الحال، له دې ژوندونه بې مجال
رانه خفه دي رندانې، د خپلې مینې په سبب

## غزل

چې زما او ستا نظر مصلحت نلري صنم
دا خبرې دې ښېخي حقيقت نلري صنم

هر څه شې خو په خپل كور كې پردی مه شې لكه زه
دا غوربت د تخت و تاج ضرورت نلري صنم

ما د عشق په محتاجۍ گرموې ولې آخير ته؟
وايه څوک دي چې و چاته حاجت نلري صنم

خيال زما دی ستا په عشق كې له مجنونه بالاتر
دی په تا باندې شيدا خو صورت نلري صنم

چې په وصل و په مېلان كې شې بې قدره د يو چا
غم د هجر هم داهسې شدت نلري صنم

ښه پوهېږمه په خپلې ناروغۍ د روانۍ
چې له ما سره ښېخي عقيدت نلري صنم

زه تائبه شمائلې شوم د عشق تر قيل و قال
كار دې ما سره د نور وكالت نلري صنم

غزل

مه شه سترگې دې نم یاره
غنچه فم غنچه فم یاره

زړه مې تا و ته ولاړ دی
لکه بوت د صنم یاره

گورکهـــــ دند نه یې چې ژاړې
د چا مه کوه غم یاره

زما لاش درپسې گرځي
ما نه پټ او پِنهم یاره

په حالت باندې مې وکړه
لږ نظر د کرم یاره

غلامي ده را په غاړه
د فراق ـــــــــ د درم یاره

په دې دومره لوی هجوم کې
زه په تا پسې مرم یاره

بې حســـابـه مې کړل مینې
گـــوره دم او قـــدم یـــاره

مـجـبـوري ده چې دا خـامـې
بهـانې دې منم ــــــــ یـاره

رانـه ورک یې په خپـل زړه کې
لکه اســمِ اعظم ـــــــــ یاره

ژونــد اسرې د شـــمائـلــې
کـړې درهــم او بــرهــم یـاره

## غزل

دا چې دنیـا تـه یې و رنـګ لـه ارغوانـه روان
له هغه قافه مې هم روح و بې جانانه ـــــ روان

چې پر نظر د انحراف دې ســـومَنـاتـه ګورم
لرګي دې مات دي دېوالو نه دې مکا نه روان

شه هنګامه دې ـــــ پر تنور د ـــــ مازیګر بدله
زما په شـان شـې د خپل زړه له داغِسـتانه روان

زه په الفت کې هم تقلید د دنیا نه خوښــوم
دومره ایثار شـــه چې اشـــنا مې شي بارانه روان

تورې سـیلۍ د عداوت یې ـــــــ لارې ونیولې
نـن دې جـرس د قـافـلـې و بـې زبـانـه روان

نـه دې زمـا عزت د خپلې خور عزت وګڼـهْ
نه مې چِلمن پســـې د کور شـــولې بادبانه روان

لا تلوسـه د بلې مینې ـــــــــ شـمائلې نکړم
لا مې د وینو دي لپهرونـه لـه ګرېوانـه روان

## غزل

یمه یاره ـــــــــــــــــ یګانه
یګانه ـــــــــــــــ هم دیوانه

مـــحـــبـــت راسره وکــــړه
د نــفــرت پــه بــهــانــه

نــن لــه تــا سره ګــایــېــږم
د خــپــل زړه پــه زخــمانــه

عــداوت دې د سر کــــړم
جـانـانـه ـــــــــــ او رنـدانـه

اودرولــې مــو خــیــمــې دي
د پـــردو پــه اشـــــیـــانــه

خـواب آلـودو ســــترګـو راوړو
د بودا ـــــــــــــــ په زمانه

چــې یــاري کــا د دېــوانــو
موږ د ـــــــــــ هغو دېوانـه

که تپوس ته مې راځي څوک
ســـیـاه چـال مې جېلخـانـه

یـارانـه چې پـه جواري شي
بیا یې بوله ـــــــــ خَصــمانه

هر نظر مې داســـې کور شـــو
لکه عشـق ـــــــــ د پروانه

چې خپل زړه ته راواپس شـــوو
اوس یې ـــــــــ بولو ا ستانه

هــر پــرواز تــه مــې ولاړه
په هاله کې ـــــــــ فرزانه

اوس دې نشـــتـه شـــمائلې
هغه سـترګې ـــــــــ مسـتانه

## غزل

لـه ډېره وختـه د خپـل زړه پـه ویرانـه کې اوســـم
خلکو ته نه وایم چې داســـې اشـــیا نه کې اوســـم

تقدیر مې نه پرېږدي تدبیر مې کهْ بدل کړ هر څو
ســـترګې مې سرې دي لکه لعل په خزانه کې اوســـم

تـه لکـه لام د خپلو زلفو رامـات کړی یې چـا
زه لکـه عیـب د خپلې مینې پـه شـــانـه کې اوســـم

که احتســـاب د شریعت او باطنیت کړې شـــیخه
چې پکې اوســـې پـه هغې قیلون خـانـه کې اوســـم

چې پـه شـــهرت حـاصـــلولو یې ولیـان شـــو خلـک
پـه یوې داســـې بې معیـاره زمـانـه کې اوســـم

هغه زما په بې حســـی ـــــــــــــ مرور مه ځوروئ
زه یې له عشـــقه د ضـــمیر په جېلخانه کې اوســـم

د لارې خس به مې ګېلو شـمائلې ـــــــــــ شـاید
دا بې ارامـه چې د چـا پـه خَصـــمانـه کې اوســـم

## غزل

خپل به دې په ډېره خواري نشي ــ نشي ــ نشي ــ
نن سبا د ښکليو ياري ـــــــ نشي نشي نشي

زه لـه بـازاري حســـنـه پـه دغې کوم ډار چې
ما نه مې لهجه بازاري نشي ــ نشي ــ نشي ــ

مينـه ده کـه کرکـه، نـاداني کـهْ دانـايي ده
هيڅ علاج د دې بيماري نشي ــ نشي ــ نشي ــ

څوک يې چې د وعظ له لاسه خوب کولی نشي
دومره دې ذاهـد آزاري نشي ــ نشي ــ نشي ــ

شـــيخه چې يې وايې نو پر ما به تر قيامته
دا کيفيتونه طاري ـــــــ نشي ـ نشي ـ نشي ـ

ســـتـا هم متلونـه دي پـه د يـاد د عـاقلانو
گوره خو ياري په جواري نشي ــ نشي ــ نشي ــ

څو به يم بې قدره شـــمائلې، په خلوص کې
نوره رانه دا خاکســـاري نشي ــ نشي ــ نشي ــ

## غزل

مخ دې رانه اړوي مطلوب دی کهْ طالب
دا مې لکه یو ارمان هم نه دی مناسب

حیف دا ځینې ځینې هم آدم ته دي منسوب
نه به مې شي دا یقین او دا ګمان غالب

زه په انتخاب کې ناکامېږمه اکثر
څوک چې زما خوښ دي دوی مې ندي مخاطب

ځای به یې چې نه و په کنډر په ویرانه
اوس یې استانې دي په خلا کې کواکِب

لاړل د عیسیٰ حواریینِ دې په سلګو
ناست یې که نغمو ته د داؤد دي عواقِب

تل لکه تقدیر کا په روحونو پسې څغاښت
عِشَق نه مسکن لري ـــــــ استاد او نه راهب

حسن شمائلې ـــــــ یو مظهر دی د جلال
ګوره چې جنون یې کړ، شناس لره خاطب

غزل

هســـې په خوله خو به هر څه وايي څوک
د زړه حـالـونـه چـاتـه نـه وايـي څـوک

د اسرافـيـل د لاس شـــپـيـلـۍ غـږېـږي
نـاســـت دی ټپې د بېلتـانـه وايي څوک

زه خــو د خــاورو ډېــرۍ شـــوې يمـه
مـاتـه د دوو ســـترګو رانجـه وايي څوک

پـه زړه کـې ځـای مـې د داغـلـو نشـــتـه
کـه دې نـه پس هم راتـه زړه وايي څوک

کـل اثـاثې مې ـــــــــ لا وارثـه شــولې
مـاتـه يتيمـه ـــــــــ د وانـهٔ وايي څوک

پــوره اتــهٔ کــالــه پــرې غــور کــوي
جـانـانـه چـاتـه چـې لـېـمـه وايـي څـوک

زه شـــــمائـــلـــې، بـــېـــمارۍ وژلی
مـاتـه مقتول ســـتـا د بـانـه وايي څوک

## غزل

دی مې زړه مات، له تا نه هم له ځانه
مات هم میرات، له تانه هم له ځانه

څه مې حاسد د ازل لرې ساتي
څه مې حالات، له تانه هم له ځانه

مات دی هم تور، یوه قطره زړګی مې
قِراط قِراط، له تانه هم له ځانه

په نورو نورو، نورو لارو یوړم
ستا ملاقات، له تا نه هم له ځانه

زه به تر کومه پورې پټ ساتمه
خپل احساسات له تانه هم له ځانه

خلک قصرونه د یثرب تاووي
زه کنډرات له تانه هم له ځانه

خدای خبر ولې هیرول غواړمه
څه روایات له تانه هم له ځانه

چېرتـه د نورو خلکو ژونـد تـه ورمـه
دا خواهشـــات له تا نه هم له ځانه

د شــوم لـه کوره شــمائلې شـــایـد
شــومه خیرات له تا نه هم له ځانه

غزل

چې لـه حـالـه دې خبرېږم، لا تر دې مـايوســـه کېږم
لا تر دې مـايوســـه کېږم، چې لـه حـالـه دې خبرېږم

زه د نورو پـه شـــان نـه يم، چې د نورو خولو تـه کېنم
دغـه دم مې غنيمـت دی، چې پـه ســترگو دې پوهېږم

د قاصـــد د آس شرنگی دی، له دې بر کنډوه هاخواه
څوک مې ونيســـئ له لاســـه، حيرت وړې يم غورځېږم

تور حِرصـــه ســتا له لاســـه، بد رواجه ســتا له رويه
هيڅ حقوق مې معلوم نه دي، د حيوان غوندې خرڅېږم

يـا بـه تـه وايې دروغ چې، زړه مې بحر و ســمنـدر دی
يـا بـه زه مـاهي موسی يم، دا چې نـه پکې ځـائيږم

څوک له رام او له بهودا هم، افسرـه به هســې نه وي
لکـه زه لـه خپـل مســيحـه، خپـل لقمان ځيني ځورېږم

دا رنگين جهـان چې وينم، نو لـه ځـانـه سره وا يم
شمائلي پاتې کېږم ــــــــ په مَيرو به ــــــــ پاتې کېږم

## غزل

داســـې به نه و دا جهان، خو که دا ما سره و
مړه به یې نه وو چرا غان، خو که دا ما سره و

وم به په حال د دې ذاهد له خپله خدایه راضي
و دا کنډر بـه مې مکـان، خو کـه دا مـا سره و

دا چې د درســـت کلي دی ســـتا په حواله جانانه
داســـې به نه و دا گمان، خو که دا ما سره و

شـــیخه ســـتا عقل به د خلکو ســـوکالي غوښـــتله
نه به و تنګ لکه زندان، خو که دا ما سره و

د عشـــق په کار کې به حجت د دلایلو نه وای
و به یو شـــهرِ ناپرســـــان، خو که دا ما سره و

دا مشـتري چې د خلا په بې حِســی کې زوړ شـو
اوس به مسـکن وای د افغان، خو کهْ دا ما سره و

ځمکې آدم د شـــمائلې دې هېر کړی ګوره
ماته به یې یاد و ټول داستان، خو که دا ما سره و

غزل

په تا کې خدای خبر چې ولې نشـــته، ضـــمیر جانانه
راپورې خـانـدې چې ټـپې کومـه، د ویر جـانـانـه

زه خـو سره د خـپـلـه قـامـه یمـه، پـه زولـنـو کـې
تاته به ځه له هندوســتانه ګټم، کشــمیر جانانه

د نشــیـانو ورونو خور یمـه زه، ګیلې دې ځـار شــم
یو مې له لاســـه بل مې تاو له غاړې، زنځیر جانانه

چې د چا مینه شي بې حســـه کله، بیا دې کړي هېره
عبس دې ېښــې لاســونه نه ښــکلوي، د پیر جانانه

لکه دا تا چې راته وښــود څنګه، په اشــنایۍ کې
زمـا د خوب خو مګر داســې نـه و، تعبیر جـانـانـه

خـدای خبر ولې تغیر شــوې یمـه، لـه هغـه وختـه
خدای خبر ولې دې اوس نه ســاتمه، تصــویر جانانه

تـاتـه بـه کور پـه کور خیرونـه غواړم، زه شــمائلـه
زما د زړه په ســلطنت کې ناســته، وزیر جانانه

## غزل

یمـه زه ســودایي، هر جـایي هم
لـتـومـه هـلـمـنـد، هـرنـایـي هـم
رقـابـت مـې کـوې، پـټ او پـنـا
بیـا کوې راسره، آشـــنـا یي هم
ای د عشـــق ماتمه، مشـــې خفه
تــه زمـا یـې رڼـا، بـیـنـایـي هـم
لایعني دې شـــو له، لب و لهجه
د جـمال دې لاړه، آرایــي هــم
را ته ګوري قاصـــد، څه وایي خو
د یـارۍ مې غواړي، سَـــوایي هم
رازدارۍ دې راکـړه، بـې یـقـیـنـي
پرې د پاســه ګوره، رســوایي هم
ما په دې تعبیر کې، بویه رقصي
ته زما یې اجرت، او ســـایي هم
شـوې زما په ناسـته، د ښـار قاضي
بیا په ما پـسې شوې، سودایي هم
شـــما ئلې چې مې، رنځوي زړه
یم د هغه ظالم ـــــ شیدایي هم

غزل

څه دی څه دی ته خو وا یه، دا مزاج زما د زړه
طبیبـان هم نـه پوهېږي، پـه علاج زمـا د زړه

چې تر اوســـه غړېدلي، بې فرېبه چیرته نه دي
تـه پـه هغو ســترګو اخلې مګر جـاج زمـا د زړه

پکې اوســـه چې تر کومې، د خلقت په معنا پایې
هیڅ نـه نرخ لري نـه کلی دا رواج زمـا د زړه

دا د غم اتش باري مې، نتیجه د پاســـدارۍ ده
د وفـا شـــونتۍ بلېږي پـه معراج زمـا د زړه

چې مې نم د ســـترګو وچ کړي، طوفانونه د فراق
ســـتا د یاد د شـــمعو اوښــکې شي امواج زما د زړه

پژمرده ســـترګې بـه راوړې، لـه عـالـه پنهـاني
الـوده زلـفـې بـه ګـرځـې پـه تـاراج زمـا د زړه

د ازل میلان مې وایي شـــمائلې چې بې تـا نـه
بـل لـه هـیـچـا سره نشيـ امـتـزاج زمـا د زړه

غزل

توري شــپې به خدای ســبا کړي
دا منم خو وخـت بـه تېر وي
عشـــق به ســـترګې را بینا کړي
د صـــنم، خو و خت به تېر وي

دا حاســـد به یو وخت پوه شي
پـه انـجـام د خـپـلـې لارې
دای به هم ځان مســـیحا کړي
د عـالم، خو وخـت بـه تېر وي

لاړې ---- لرې لرې لاړې -----
قافلې ــــــــــــ زموږ د مینې
خـپـل څـراغ بـه را رڼـا کـړي،
شـــومه دم خو وخت به تېر وي

موږ بـه مړه پـه ریګیســـتـان یو
ــــــــــــ ستا د ماتو کټوریو
مقـدر بـه مو صـــهبـا کړي،
جـامِ جم خو وخـت بـه تېر وي

دا وګړي به پښېمان شي ----

پر جـذبو ـــــــــ د خپلو وينو
دا اســـلام بـه دا مـلا کـړي،
ترې تم خو وخـت بـه تېر وي

اوس تــر مـا راتــللی نشيـــ،
بيـا بـه ځي تر کهکشـــانـه
په خپل ځان کې به پيدا کړي،
هومره دم خو وخـت به تېر وي

ما به کله د عشق وړې ـــــــــ
شـمائلې ـــــــــ وي له ملکه
خدای به ما نه ناويســـا کړي،
هر آلم خو وخـت بـه تېر وي

غزل

بېخي بـدل دې دی انـداز، هم رنـدانـه دې دی انـداز
ولې بـه نـه کړم تعجـب، تعجبـانـه دې دی انـداز

د لنـدو خټو وي دارو، لړې اوبـه هســـې خو هم
زړه دې نری دی چا پســـې، په بهانه دې دی انداز

قصـــه د شـــمسِ تبریزي درتـه ولاړه لاس پـه نـام
ته يې مرشـــد د جامِ جم، ســـاحرانه دې دی انداز

عمر دې کم د خدوخال، هم دې د عشـق او د وصـال
جـاه و جلال دې نـا معلوم، جـاویدانـه دې دی انـداز

زمـا د زړه پـه کلي کور، مـدام تېر ېږې بې مجـال
کـهٔ دردانـه دې دی انـداز، خو بېګـانـه دې دی انـداز

په مزودرۍ دې دی جهاد، په چاپړوســۍ دې مېړنتوب
کاش چې خبر وای چې د چا، په خصمانه دې دی انداز

پـه رقـابـت مشـــې خـفـه، د شـــمائـلـې يـاده تـهٔ
لکـه مشـــال زمـا د زړه، پـه ویرانـه دې دی انـداز

## غزل

کړلو زړه زما چور چور، ســـتا د ســـترګو تغیور
ســـتا د ســـترګو تغیور، پـه مثـال د کوه طور

ړنګ دی ړنګ حســـن آباد، کنډرات دی کنډرات
پکې ښــکاري زما زړه، څوک خوشــحال د رتنبور

پـه کوڅـه بـه د دلبر، پټې ســـترګې کړم ګـذر؟
شـــیخـه مـاتـه دا تجویز، نـا منظور دی نـا منظور

ویکټوري ملا شـــه پوی، ماته مه ښـــایه اســـلام
په محراب کې دې دی پروت د قرآن په ځای زبور

پیرا هن دې نبوي او پېشـــه دې جاســـوسي
خدای دې لا درکي بری، خدای دې لا درکي عبور

هم یې پرېښـــوه طـالبي، هم یې پرېښـــوه بزرګي
شـــو نادان زړګی زما، ســـتا په مینه کې مخمور

حال پرســـی ته مې ولاړ، شـــمائلې ســـتا په نوم
نګهتونه د صنم ـــــــــ ماښامونه ـــــــ د سرور

## غزل

بـل مې شي پـه زړه چراغ نرۍ نرۍ نرۍ
را دې وړي چې بـاد ايـاغ نرۍ نرۍ نرۍ

ســترګې چې په څنګ د يار خازې ته واړوم
ســوزي مې څنګزن دمـاغ نرۍ نرۍ نرۍ

هجره د نـاســور بلبـل يې څـانګې ســموي
ګـل مې شــو لېمو کې داغ نرۍ نرۍ نرۍ

فتحـه مې فکرت شــولو د قـام پـه حـادثو
ګـډ شــولو بهمن پـه بـاغ نرۍ نرۍ نرۍ

اړوي رنګ اړوي ـــــــــــــــــ زما له نظريو
ســتـا د خـدوخـال سراغ نـرۍ نـرۍ نـرۍ

تاو يې کړه له ځانه ســتا د شــهر بې روخي
سر مې شــولو غم پـه راغ نرۍ نرۍ نرۍ

وړي مې شــمائلې ســتا د عشــق له آســتانو
ا خلي مې تســکين فراغ نرۍ نرۍ نرۍ

## غزل

ترعقبا که ـــــــــ دلاســـې راکړي دنیا هم
غم مې ډېر دی لـه دې ټولې دنیـا بیـا هم

کـه هر څو مې فوقیـت پـه جهـان درکړو
تـه لا هغســـې خودبین یې بې پروا هم

یـاره ســتـا د جفـا ســوز بـه یې کم نشيـــ
که د زړه زخم مې ښــکل کړي مصــطفی هم

په نامه د آشـنایۍ دې ـــــــــ خورا آسـانه
ځورولې یم اشـنا هم ـــــــــ نا اشـنا هم

بـیـا دې پـریـکـړه د بېلـتـون تـائـیـدومـه
کـه ژونـدون راتـه اســـان و، بې لـه تـا هم

چــې مــنشـــا زمـا د هــرې مـدعـا ده
یـم مـدام لـه هغـه یـاره، نـا وېســـا هـم

د ســـولۍ پـه سر یې ټـال کړم شـــمائلې
عشـــق بـلا رابـانـدې وکـړه انـتـهـا هـم

غزل

وران لکه زما شــو کور، مه شـــه د کافر هم وران
وســـوو د نفـاق پـه اور، گرځي يې پـه سر زاغـان

مه شــه د کافر هم وران، گل وطن په داســـې رنگ
هر شـــاعر يې زهر خوري، هر ملا يې خپل قران

عشــق شــو طاعوني مرض، خدای خبر چې ولې خو
پروت دی لا علاج پکې، هر مســـيح او هر لقمان

پورته شـــه مجنونه نور، زده کړه ســـياســـت چېرته
نه دې خوري په درد باندې، دا د عاشــقۍ داســتان

زه له دې جهان سره ـــــــــ هيڅ اشنايي نه غواړم
راکه ماته بل جنم ـــــــــــــ راکه ماته بل جهان

تـا سره رقيـب چې وي، مســـت او بې رواج روان
دا لکـه يزيـد چې وي، شـــپې تـه د معراج روان

حســـن يې عرضي کړمه؛ خوب يې د ماضي کړمه
پوی يې شـــمائلې زه، نه شـــومه په عَين او عان

## غزل

هغوی دې وژني مګر تــه يې پــه مورچلې ولاړ
يــې پــه دفــاع لــه دې ازغــنــه تــاره ولــې ولاړ؟

موږ دې د دندې له معاشـــه په لمبو کې ســـوزو
تا ته به ځان ښکاري په سيوري د سينځلې ولاړ

زمــا د خــاورې د حســـين پــه مــاتم هم راوځې
او لــه يــزيــده سره هــم يــې ډلــې ولاړ

خدای خبر کوم يو خيانت دې راپه زړه شـــو اشـــنا
يې مې لېمو کې لکــه خــاورې او خځلې ولاړه

وو دې ازل کې د هر چا صـــنم بې نيازه صـــنم
زمــا صـــنم پکې پــه وينو سرې منګولې ولاړ

زمــا او ســـتــا د اشـــنــايۍ امتزاج نــه جوړېږي
زه پــه تصـــوير کې د شـــهۍ، تــه د بلبلې ولاړ

عشـــقــه پــه رنځ دې اختــه کړې شـــمائله يمــه
لکــه لالــه مې ســـوی زړه يې پــه بورجلې ولاړ

## غزل

لاړه مې د مخ روشـــنايي لاړه ســـتا پـه مينـه کې
ورک مې شـــوو زمان او مکان دواړه ســـتا په مينه کې

شـــته ســـکون او شـــته رونق نه هم لاړه کنګله شـــوه
پاتې مې جونګړه شـــوه وېجاړه ســـتا په مينه کې

صـــبح و شـــام مې څاڅي په دامن د افســـرده ګرېوان
سرې وينې د شـــونډو له هر پاړه ســـتا په مينه کې

ولې بـه زمـا پـه خلاف ســـپينې جـامې نـه ګرځې
طوق د روســـوايۍ مې کړو په غاړه ســـتا په مينه کې

تاو رانه د عشق بېهوده ګي وي ــــــــــ شمائلې تل
يمه په دا هسې ــــــــــــ غم لتاړه ستا په مينه کې

## غزل

مخ يې ضـــم شـــو زما زړه کې، اوس پرې نه پوهېږم زه
اوس يې وينم پـه هر څـه کې، اوس پرې نـه پوهېږم زه

يار حسـين او نمکين شـو؟ اسـتحصـال مې دی د خيال؟
او کـه شـــګـه پـه اوړه کې، اوس پرې نـه پوهېږم زه

دا مې ګل شـــول لېمه دواړه، په ارمان د يو وصـــال
که مې ګل شـــو په لېمه کې، اوس پرې نه پوهېږم زه

دا ګنبده ده ولاړه مست غورځنګ ـــــــ ته د طوفـــان؟
که وزيره په وانه کې ـــــــــــ اوس پرې نه پوهېږم زه

ما خپـل زړه په تور بنـدي کړو، له وفا مې ســـوګنـدي
شي کـه تېغ پـه ګواړه کې، اوس پرې نـه پوهېږم زه

د فرهـاد ازمـائش سِــــهـل، زمـا ژونـد غواړي لـه مـا
غـارِ ثَور پـه ويښـــتـه کې، اوس پرې نـه پوهېږم زه

خـد و خـال مې د زړه وران شـــول، شـــمائلې نـاګهـان
پـه تســـخير د يو بـانـه کې، اوس پرې نـه پوهېږم زه

## غزل

بیـا بـه خپلو نـاکردو تـه شـــې خجـل
چې مې وتړل شي زنـه پـه ملمـل
لاس تر زنې به مې ناست وي پکې گل
او چراغ بـه مې بلېږي پـه بورجـل
پـه خـاطر بـانـدې مې راغلې نـاگهـان
خیـالات دې رانـه هېر کړل د غزل
ســتا په حســن کې د کرکې دا مزاج
لکـه زهر پـه شربـت کې د صــندل
هســې بلوڅي مې په ســترگو کې گیلې
لکـه شـــمعې چې بلېږي د محفـل
لا خـو نـه پـریـدمـه لارې د امـېـد
لا مـې پـاتـې هـر مـراد نـا مـکمـل
لـه خپـل زړه سره خو کېږي هر رواج
مگر گرانـه شي د بـل د زړه ســـاتـل
زنـده‌گي مې کـه هر څو ده مســـتانـه
شرنـگ یې نـه راځي تر غوږو د پـایَـل
خنـدېـدل مې شـــمائلې دي عبـث
څـو لـرمـه د زړگـي پـه سر گـایَـل

## غزل

کله مې چې پېل کړل د ورک شـــوي زړه موندل
بــې لـه اذیـتـه مـې بـل هـېـڅ ونـه مـونـدل

لاړم د قـاصــــد د لاس چِراغـه اوس مې څـه
اوس خو دې په غم شـه دا سـكاره موندل

زړه مې دی بې دمـه، بېهوده ســتـا پـه هجران
هیڅ راځینې نه شي څه حاصــل او څه موندل

ژونده تر قیامته به مې یاد وي ســتا انصـــاف
دا پـه ســینـد د اوښــکو یوه مړی اوړه مونـدل

خلکو بـه پـه غرونو کې کـا نونـه کنســـتـل
مـا بـه پـه زخمونو کې خواره بـانـه مونـدل

راغلې تیزنـدی شـــوې راتـه څـانگې د هما
برخې مې سـلگۍ شـوې د عقاب په خوله موندل

راغـلـم شــــمائـلـې پـر کـوڅـه د بـنـجـاري
گران شـو هغو سـترگو کې د عشـق رانجه موندل

غزل

حوصلو د افزايۍ مې، حوصلې په ختمېدو کړې
ولولو د قامولۍ مې، ولولې په ختمېدو کړې

هم مې وخت هم مې زمان لاړ، عشق مې څه خبر له حاله
مرحلو د جدايۍ مې، مرحلې په ختمېدو کړې

څو څو وارې مې خيالونه، بېښوا له ژونده راغلل
سلسلو د بې حسۍ مې، سلسلې په ختمېدو کړې

د توحيد د اسمان ستوري، اوس په کرکه راته ګوري
فاصلو د ديندارۍ مې، فاصلې په ختمېدو کړې

هر ديوال باندې تصوير شوم، د لاسونو د نوکارو
غلبلو د بېوسۍ مې، غلبلې په ختمېدو کړې

په خپل طرز په خپل اسلوب کې، بې ژبانه يم ولاړه
پلوشو د بې نيازۍ مې، پلوشې په ختمېدو کړې

لاړې لاړې شمائلې، نه يې آس نه يې شرنګې شته
قافلو د خپل سرۍ مې، قافلې په ختمېدو کړې

## غزل

بیا مې په نارو د ښــکلو شــهر شــو رامات
ژو نده په لېمو مې د زړه بحر شــو را مات

وینـې مـې بـهـېـږي د کـوثـر پـه کـنـارو
ښـــايي دلته هم د وطن دَهر شــو رامات

مـا بـه ځيګر څيرې کړو پـه دود د فَوارې
ســتا د ســترګو ګل لره به نَهر شــو رامات

ســتـا د يـادګـارونو قـافلې بـه تېرېـدې
ور به مې د ســـوي زړه په جَهر شـــو رامات

موږ لره يې راکړو هر منظر رنـګِ ســقر
ســتا د موســېدو موســم په قهر شــو رامات

ســتـا يې هم څېره کړه شــمائلې آلوده
دا آئين مې هم د عشــق د طهر شــو رامات

غزل

پـه لـيـلام راځـيـنـې اخـلي، د ژونـدون هـار و بـهـار
هيڅ پـه نبض نـه پوهېږم، د دې خپـل زړګي بيمار

ما به کړی ترې انکار و، که ا ګاه يې په خصــلت وم
کـه خـدای مـاتـه راکولای، هســـې ســـتـا رنـګِ هزار

دې وطن کې د وګړيو د سرونو پرســـان نشـــتـه
شـــيخ يې ناســـت دی احتســـاب ته د نښـــتر او د چنار

چې په خوا ست به مې غو ښتلو، هغه يار دومره پيکه شو
اوس چې را مې شي پـه مخـه، بـدلومـه ترېنـه لار

کيميـاګر مې پـه چکر کې، لېوني د راغســـتـان وو
اوس مې نشـــته ســـتا له عشـــقه ، موميا ګر هم خريدار

دا په ما او تا خاموشـــه، جهان مشـــه را په جوش کې
ويې مـه خېژه تر مرګـه، د انصـــاف لـه ســـتنې تـار

زړه مې بـاسي شـــمائلې، د مرګي اســـتـازی اورې؟
ارادې راتـه ښـــې نـه دي، د وخـتـونـو د ريـبـار

## غزل

بې انصـــافي د اشـــنا يـاد کوي
تـل مې لـه زړه سره تضـــاد کوي

زمـا پـه وينو اباد شـــوی ښـــاره
ســـتا خو صـــفـت ام البِلاد کوي

زه د الفت تصـــوير په څه جوړ کړمه
يـار چـې خـبرې د عـنـاد کـوي

چـاهٍ زنـخ يـې زمـا قـبر بـولـه
پـه مـا يـې رد د زلـفـو بـاد کـوي

يهودو لوټ کړ بـدخشـــان د وطن
او افـغـانـان پـکـې جـهـاد کـوي

پـه حســـينيـانو يزيـد نـه دي کړي
مـګـر پـه مـا يـې پـريـزاد کـوي

زمـا پـه نزد دی خـدای اويـا رقمـه
دنـيـا فـکـرونـه د اِلـحـاد کـوي

مـا لـهْ دســـتوره شـــمائلې بـاسي
زړه مـې خـويـونـه د فـرهـاد کـوي

# غزل

زمـا د پـت هم د ټکې حيثيت پـا تې نـه شـــو
ســتـا د الفـت هم د ټکي حيثيـت پـاتې نـه شــو

اوس مې د روح لاروی ســـير الی الله تـه نـه ځي
د عبـادت هم د ټکې حيثيت پـا تې نـه شـــو

کـړه يـې زمـا خـوشـــګـواري پـه عـداوت بـدلـه
ســتـا د مـدّت هم د ټکي حيثيـت پـاتې نـه شــو

د پاني پت تاريخ هم نه ګوري څوک نه وايي څوک
د افغـانيـت هم د ټکې حيثيـت پـاتې نـه شـــو

کـه بـېـوسي ده پـه مـقـام د خـودکشـــی ولاړه
خو د ثَروت هم د ټکې حيثيت پـا تې نـه شـــو

مـزاحـمـت خـو لا بـلا پســـې د نـور تـکـلـف
چې د شـــهرت هم د ټکي حيثيـت پـاتې نـه شــو

چې شـــما ئلي لګوم بـه يې پـه ځـا او پـه ځـا
نور د قيمـت هم د ټکي حيثيـت پـاتې نـه شــو

## غزل

بـل پـه زړه مې اور د سرې پـه هجران کې یم واقع
پـه هر رنـګ پـه هره ســـانـده، پـه هر آن کې یم واقع

بېـروبـار د بـنـده ګـیـو، حـوالـه کـړم داســـې غـم تـه
اوس په هکله د خپل خدای هم عین و عان کې یم واقع

ســتـا تر عرشـــه رســېـدلیو، اســوېلیو تـه ســلام خو
زه د ډېـرو طـوفـانـونـو، پـه ګـردان کـې یـم واقـع

پـه نـارو پـه غلبلو مې، هیڅوک نـه کوي پوښـــتنـه
د خپـل ړنـګ مکـان لـه رویـه، لامکـان کې یم واقع

رســـایـي د مـعشـــیـت د، فـنـکـاریـو رانـه لـرې
لکـه څړیکـه دې رحمانـه، پـه دیوان کې یم واقع

ســتا د حســن زمانې مې، افســانې د زنده‌ګۍ شــوې
ګوره څو زمـانـه پس هم، خپـل زمـان کې یم واقع

دا د ورارو خـویـنـدو څـنـې، هـوا راوړې شـــمائـلـې؟
او کـه واګـې د دنـیـا دي، پـه ګـمان کـې یـم واقـع

# غزل

بې غم عالم يې تماشــې ته د موســم دی ولاړ
زمـا د ژونـد پـه هره څـانگـه کې شِــکم دی ولاړ
سـپوږمۍ سـوما ورته مشرـوب که ترهېدلی ښـکاري
زمـا د کور انگړ کې ســیوری د صــنم دی ولاړ
هارون رشــيده چې لذت دې په خانۍ کې نشــته
دا دی بهلول پـه صراحۍ د جـامِ جم دی ولاړ
د ځانځانۍ او بې حســۍ په زمانه کې اوســم
د هر غزل پـه موســيقۍ مې شــبِ غم دی ولاړ
رايادوي چې د آدم ــــــــــــــ او د حوا گفتگو
پـه دې مقـام لـه هر نرگس سره غنم دی ولاړ
منـافقـت دې شـــه د مينې لا تر دې هم سِــوا
خير که دې زړه کې چېرته بُت چېرته صـنم دی ولاړ
خپلې اوړدې اوږدې ســـاگـانې لنـډوم پـه خپلـه
د غنو شــپول ته مې حيران د زړه ريښــم دی ولاړ
څـه ســـپيـنـاوی بـه را کوي د کربلا د کوڅو
نن خو مې ســترگو تـه يزيـد پـه محرم دی ولاړ
ســـترگې بـه څنگـه غړومـه شـــمائلې ورتـه
د نوح طوفان مې په تصـــوير د غنچه فم دی ولاړ

غزل

ډېر زياتی صنم کوې
چې په ما ستم کوې

ته له خپلې عاشقۍ
هم قران قسم کوې

دې نه پس به څه پرواه
لا زما د نم کوې

ستا خو نه زده خوشحالي
خو په ما يې غم کوې

عشق د تول خو نه دی
 څيز چې يې زيات و کم کوې

ستا مې وړی ظلم ډېر
اوس به ډېر کرم کوې

لندوې اوره په مړو
که سينې مرهم کوې

په طلب مې د خطا
ځان غنم غنم کوې

خانده کله چې گذر
د خپل یار په چم کوې

زما یې شک پر بزرگۍ
ته اوبه پرې دم کوې

ژونده ما پورې خندا
ته په هر قدم کوې

اول ووژنې شهۍ
بیا یې زلفې خم کوې

شمائلې زه راځم
که مې روح شکم کوې

غزل

لاس چې هر ګلاب ته د الفت ورغځوم
بیا یې له جفا په نارو کلي خبروم

پریښي دي ادم بویه پخوا په سرندید
زه چې کومې نښې په نِګار کې لټوم

ژوند مې محبت نه په نفرت کې کړو راسر
اوس د لونګین په امېل خلک ځوروم

هیڅ د اذیت له لاسه پوی نه یم په دې
کله مې راوړې او که کله باروم

کله کله ته هم جوګه نه شې د کتو
کله کله زه هم شاید سترګې بدلوم

ما ته خو راپاتې په میراث ده عاشقي
زه خو به تر ډېره عمره سر تندی وهم

زه د شمائلي په بلی که په اعراف
ستا په مزار وینمه ډیوې په شو مه دم

غزل

زما د مرگ  په نعرو هم  نه شـــو راویښ
مطلب دادی چې صــنم نه شـــو راویښ

هـا زمـا پـه غم غمجن تـه بیـا ووایئ
چې یو څوک د چا په غم نه شـــو راویښ

تـا چې عشـــق کړ مقـدم زمـا لـه عمره
مقدم شو ـــــــــــ مقدم نه شو راویښ

پـه رګویـد کې لټوو، اوســـني مړي
ارســـطو مو پـه مـاتم نـه شـــو راویښ

د رحمان تلین د نوح تلین خو نـه و
چې یې هیڅ په زیر و بم نه شـــو راویښ

را ویښ نه شـــو د خپل ا هل له پېغوره
کـه چـا ووې چې ادم نـه شـــو راویښ

بې کران شـــو شــــما ئلې مقـدر مې
بې کرم شـــو، بې کرم نـه شـــو راویښ

## غزل

تــنــهـا یمــه، زړه مــې، بــیــمار دی پــري
بــازار دی پــرې، بــېــروبــار دی پــري

یو عشـــق په یو حســـن رامات کړو عـالم
یـو غـر د شِـــهـلا پـه قـد بـار دی پـري

پـه ویـنـو دی رنـګ پـه آهـونـو دی تـور
زمــا چـــې د زړه لالــه زار دی پـــري

مـاران دې پـرې ګـرځـي د زلـفـو د ښـــار
ګوګـل مې ســکـارهْ او خســمار دی پري

چې نشـــتــه د مینې چراغ نشـــتــه دی
چې شـته دی صـلیب او سـنګسـار دی پري

مقتول مې په وران قبرســتان کې دی پروت
قـاتـل مـې تـړلی داســـتـار دی پــري

خـــبر یـــې راوړی د رنـــځ او فـــراق
راغـلی د مـرګ مـې ریـبـار دی پـري

الله بـه کړي ســم شـــمائلې هر څـه
ژونـدون کـه زمـا پـه نـاتـار دی پـري

غزل

تاته خس به ښکارېدمه، چې ليدم به دې له ورايه
ما دا سوى ځګر يوړو، د مجنون او قيس تر سرايه

تا خو مست کړ جهان واړه، چې حساب ته مې راکوز شوې
مګر زه دې شرمنده کړم، تربورانو لره خدايه

ته يې خاک ګڼې که نسرے، بېهوده که بې اوقاته
ماته دا جامِ سيفال دى، لکه جم جهان نمايه

عقيده د خلکو ځنګه او حوليه د خلکو ځنګه
په دې کار د ملا نشته، خوله دې نه پيايي بې ځايه

په ولا که مې خوښېږي په واعظ په ناصح نقد
يو لعنت مې لا دپاسه په پوچګو فضول سَتايه

که د نوح پر کښتۍ هم ځي، په دریاب کې به ډوبېږي
چې يې يو وي جان زدايه، مګر بل جهان زدايه

ياراني د سباوالو، دښمنياني د ماضي دي
شمائلې که يې پالې، پر دا خيال ورسره پايه

غزل

نعرې ورته وهم
روان مې دی صنم

بهېږي مې پسې
له دواړو سترگو نم

وعده يې په وعده
قسم يې په قسم

جهان دی فراموش
د عشق په زېر و بم

رحمانه خدايه لږ
په ما وکړه کرم

که حال مې کړې بدل
نو څه به دې شي کم

ما ايښې د اميد
سکروټې په چلم

اوربل مې آواره
ټک ستنې پکې ږدم

طلب مې درپسې
حرام شه یو قدم

ناهیلې کړمه ژوند
په دیر او په حرم

یم شمائلې تل
له ځانه په رم رم

## غزل

یـاره ســوال منـت درتـه، وکړمـه نور ځومره زه
دې زړګي تـه راوړمـه، صـــبر او زور ځومره زه

زړه څنګه ســندان کړمه، زه تر آخیري ســلګۍ
سر تندی به ټیټ وړمه، ســتا په پېغور ځومره زه

ځومره نـاکـام غواړي نور، مـاتـه پـه یوه خنـدا
پښې لاسونه ښکل کړمه، ستا د انځور ځومره زه

ســتا په خدوخال پســې، وګورمه کوم جهان
ځو عمره ســفر وکړم، پرېږدمـه کور ځومره زه

خدایه په ســکیندو ســکیندو، ګرځمه په تا پســې
وتـلـم لـه تـا سره، مـیـنـه د مـور ځـومـره زه

دا د بې حســـۍ وطن، نـه اوري نعرې د چـا
غر پرې راروان بویـه، وکړمـه شـــور ځومره زه

خـدای خبر چې وســومـه، زه د شـــمائلې زړه
غم د غفلـت ځومره زه، اوښـــکو د اور ځومره زه

غزل

ځاځي وينې چې په هر قدم زما
ګوره زړه دې کړو قلم قلم زما

الوداع به دا يلدا ستا د فرېب وي
په زلفانو به چې اوړي خم زما

ستا د هجر مې پولی په زړه ولاړې
د شبنم غوندې پرې ځاځي نم زما

لاس نيولی چې دې بيا په چم راتېر کړم
زړه کې نشته هومره تاب او دم زما

رانه نشي د سرې سينې کارونه
سفال شوی دی په لاس کې جم زما

دا خو ستا د تورو سترګو بې غمي ده
زياتوي چې مدام رنځ و غم زما

د حاسد په خوله مې ژوند دی شمائلې
په هر آن چې لسوي شِکم زما

## غزل

وهم و، گمان کې مې هم نه و داسې
وخته زما خو صنم نه و داسې

هره د زړه مې شوه د نه زړه کیسه
په دوراهۍ مې قدم نه و داسې

یا خو امېد مې بې حسۍ لاندې کړو
یا خو دا غر د ایلم نه و داسې

خدایه دا کومه کفاره لندوې
کله دې کړی کرم نه و داسې

ما خو به خوب ورته له ښاره راوړو
زما خو کور جهنم نه و داسې

زه خو د عشق له مینا وینې تورم
خدایه د نورو خو جم نه و داسې

تانه د لاس د اخیستلو وخت دی
اینبې مې لاس په قسم نه و داسې

زموږ په وخت پرې لطیفې جوړېدې
څوک غنچه فم غنچه فم نه و داسې

د شمائلې سترگې داسې نه وې
رنگ پکې پروت د غنم نه و داسې

## غزل

چې ســـترګې غړومـه نو څـه نشـــتـه د کتلو
منظر مې هر منظر دی د احســـاس د ســوز بېدلو
همه وي پوچ ګويي د ځان درنه او د بل ســپکه
پر کوم مجلس چې نيســـم غوږ په نيت د اورېدلو
کيســـه که د هر څه ده، معامله که د هر څه ده
نور زور مې زړه کې نشـــته په دنيا د اوســـبېدلو
نه کوډې نه منتر را باندې شـــوي خو بس ياره
کيســـه مې سر انجام شـــوه په نه زړه د خندېدلو
دا ډک لـه تـورو ويـنـو زړه مـې ډېـر وګـرځـولـو
ســـيلونـه مې پرې وکړل د غـاټولو د ســـنبلو
د بـل او بـل پـه ســـترګو دې تر ننـه جج کولم
نور وخت راسره نشـــته ســـتا د څه او څه ګڼلو
حســـاب که محتســـب راسره وکړو له دې ژونده
شـايد چې يې پښـيمان کړم په حسـاب حسـابولو
د تـا پـه حوالـه مې څو څو کـالـه غور وکړو
نـور هـيـڅ راسره نـه و، بـې د ځـان راټـولـولـو
جنون مې شـــمائلې پـه څو نســـبـه ننداره کړې
حاجت دې باقي نشـــته ځان په ګوته د څنډلو

## غزل

نور را ټولېږه لـه اشــنـا نـه، مـا مـه ځوروه
زړه کې مې زور نشــته ارمانه، ما مه ځوروه

زبـان دراز دې رانـه وژني، پـه تور پـه پېغور
زمـا يـزدانـه بـې زبـانـه، مـا مـه ځـوروه

هورې يو څوک رانه هېر شــوی، يادېږي راته
پورې پـه غره کې ارغوانـه، مـا مـه ځوروه

کلی، محلت راپورې خـانـدي، د خـدای لپـاره
زمـا د کـور هـلاکـو خـانـه، مـا مـه ځـوروه

ژونده ناترســـه ســـنګ‌مزاجه، دا څه کوې ته؟
درنګ به دې وځم له داســتانه، ما مه ځوروه

ســتا عيبجويي مې په سر ســترګو قبوله ده، خو
زه هســـې هم يم روګردانـه، مـا مـه ځوروه

څـه پـه خـاطر د شــمائلې او څـه د مجنون
د وتـو لار راکـه اســمانـه، مـا مـه ځـوروه

## غزل

لار مې مه نیسه آسمانه، ځم د خدای بیمار پرسۍ ته
د خپل مست مکان له لوري، د پرېوتي عرش کرسۍ ته

ځم د خدای بیمار پرسۍ ته، چې پرسان یې د حال وکړم
چې پیسه یې کوټه شوې، که ځوربږي غریبۍ ته؟

ځم د خدای بیمار پرسۍ ته، چې خلیل او بل دې ځان ته؟
که جهان ته دې د ښکلیو، رالېږلي وو مستۍ ته

ځم د خدای بیمار پرسۍ ته، په هغو یې لعنت وایم
چې رابولي پېغلتوب مې، د بې ننګو چاپلوسۍ ته

ځم د خدای بیمار پرسۍ ته، ورته وایم دا دی راغلم
ګنډېري مې ټکولي، ستا د شوګر ناروغۍ ته

ځم د خدای بیمار پرسۍ ته، ورکوم د زړه په وینو
ګوټ د خضر له چینې نه، چې راجوړ شي زندګۍ ته

ځم د خدای بیمار پرسۍ ته، شمائلې خندوم یې
زیر کوم یې د دې خلکو، دانایۍ او نادانۍ ته

غزل

يـار چــې بـيـا درلـره وکـړه نـو بـيـا چـا لـيـدلی دی
د ســـبـا کيســــه دې پر بېرده، ســـبـا چـا ليـدلی دی

درنوي رابـانـدې ځـان چې، کنهوي رابـانـدې ځـان چې
دربغـه زړه کې مې کوم زخم، مســـيحـا ليـدلی دی

نه مې ځان غوندې ببوســه څوک ليدلي وو په عشـــق کې
نـه مې ســـتـا پشـــانې بـل يو، بې پروا ليـدلی دی

ســـتا د ســـترگو په منظر کې، راز د څه دی خدای خبر خو
تـل مې ځـان پـه دې آئين کې، نـاويســـا ليـدلی دی

ســـتـا لـکـير لـکـير لاســـونـه، قـيـمـتـي راتـه تـر زړو
مـا تصـــويـر پـکـې د خـپـلـې، مـدعـا لـيـدلی دی

چې مدام د زړه په ســترگو تماشـــې د کوم معراج کړم
نـه دې غوث، نـه دې بهلول، نـه دې ملا ليـدلی دی

پـه چـړو يـې چـې وهـمـه، شـــمـائـلـې د مـرگـونـو
دا خـپـل زړه مـې پـه يـو عشـــقِ نـاروا لـيـدلی دی

## غزل

زړه کــې زور دی زمــا کــوم
چې جهــان کړم پرې محکوم

هر قــاتــل مې شـــو حســـېن
هــر مــعــلــوم مــې نــامــعــلــوم

عشـــق دارو کـړل د لـقـمان
راته زهر ــــــــــــــــ او زقوم

هــر مــزاج مــې د بــهــلــول
تــا مــزاج کــړو د مــاشـــوم

نــه زه لــيــکــم قصـــيــدې
نــه خــوک پــېــژنــم د روم

ســـتــا د کــلي پــه چــنــار
چا ليکلی ــــــــــــــــ زما نوم

هــا، راځــي د اشـــنــا يــاد
لــکــه يــاد د چــا مــرحــوم

خوشحالېږي مې پرې زړه
څوک چې وينم ځيګرخون

ځيګرخون مې دی زړګی
هم له مينې نه محروم

شمائلې زړه مې سنګ
خو مدام وي لکه موم

غزل

چې سلوک د دې بې حسه عالم گورم
دریغه شان د نبوت په ماتم گورم

خدای خرقه د تصوف راپورې اور کړه
اوس یې هرې خوشحالۍ ته په غم گورم

ژونده گوټ که شي نو هم وابه دې نخلم
چې تر شا دې غرونه غرونه آلم گورم

د بنتون په ریشتې فخر رانه وشي
چې سکروټې د مرزا په چلم گورم

محالي یې د وفا هر یو قرن شي
زه چې لاس په کوم فالي د صنم گورم

ځان به نه ناگاروې لوحِ محفوظه
د انسان په وینو سور دې قلم گورم

څوک تعبیر دې رانه غواړي شمائلې
څه به وایم خو په زړه کې به دم گورم

غزل

چاتـه وکـړمـه فـریـاد، فـریـاد چـاتـه وکـړم زه
هر ارمان مې شـــو نابنـــاد، فریاد چاته وکړم زه

چا کړو خرڅ، چا کړو گانڼه، په څه وجه څه قصـــور
دا زمـا جـنـت هـیـواد، فـریـاد چـاتـه وکـړم زه

څو به ســـاتم هســـې زوړ، د زړو ســـترگو په نوم
د خـپـل زړه ام الـبـلاد، فـریـاد چـاتـه وکـړم زه

کړو نـاصـــح زمـا مســـیح، د مکې غوث العبـاد
په قلهو یې شـــو ارشـــاد، فر یاد چا ته وکړم زه

یـادوم دې یـادوم، دا څـو کـالـه مســـلســـل
بیـا مې هم نشـــې رایـاد، فریـاد چـاتـه وکړم زه

کړو د حســـن مې ماه بڼ، ســـتا د هجر پرېشـــانۍ
د کهســـــار غونـدې بربـاد، فریـاد چـاتـه وکړم زه

بې پنـاه مې شـــو فنـا، شـــمائلې عین و عـان
نـه مـدفن شـــو نـه میلاد، فریـاد چـاتـه وکړم زه

## غزل

زه چې د خپـل زړه رضـــا تـه گورمـه
وايـم چـې ټـول عـمـر تـاتـه گـورمـه

هـېـره شي رڼـا د ســـومـنـات رانـه
زه چـې ســـتـا د مخ رڼـا تـه گـورمـه

خدای نه مې وې غوښـــتی رايې نکړلې
اوس بـه ديـوانـه بـابـا تـه گـورمـه

وامـې خـلي د تـن لـبـاس د اور لمـبـې
ســـتـا چې لباسي خنـدا تـه گورمـه

لارو دې ژونـدونـه تـرهـولـې يـم
تـل چې پکې شـــاتـه شـــاتـه گورمـه

سترگې مې دې گل شي ستا په لاره کې
تـا نـه پس کـه چـا او چـاتـه گورمـه

ســتـا د جـدايي څپې مې وړي راوړي
ســـتـا د مـحـبـت دنـيـا تـه گـورمـه

بيـا دې مـازيگر کړو پـه راتلو راتلو
بـيـا دې د ســـبـا بـېـگـا تـه گـورمـه

خلـک اخونـدان کړل شـــمائلې عشـــق
زه پـکـې خـيـالي دنـيـا تـه گـورمـه

غزل

راخور شــو تور مـاښـــام کنـه راځـه کلـه راځې
ژونـدون مې شــو تمـام کنـه راځـه کلـه راځې

له مانه سـتا څنګل غواړي چې سر وروباندې کېږدم
ســپوږمۍ پـه سر د بـام کنـه راځـه کلـه راځې

د ټولو همســـفرو قـا فلې دې بېرتـه را غلې
ســتـا نـه راځي ســلام کنـه راځـه کلـه راځې

په نيمه شـپه راپاڅم سـتا د ناسـتې ځای ته ګورم
اې ورک مـې دی آرام کـنـه راځـه کـلـه راځـې

زمـا پـاک لـمـنـې بـانـدې مـئـيـنـه مســـافـره
راپـورې شــــو الـزام کـنـه راځـه کـلـه راځـې

يو عشــق و چې ســاتلو بـه يې دواړه لـه اجلـه
دا هم شــو سر انجـام کنـه راځـه کلـه راځې

وســواس د کمترۍ راځنې تـاو دي شـــمائلې
نـاکـام مې شــو نـاکـام کنـه راځـه کلـه راځې

## غزل

داســـتـان مې تمـامېږي نـاتمـام مې چې گـانـه
ها عِشَـــق سر انجام کړم سر انجام مې چې گا نه

نـاکـام مې د نگـار نـه و چې وا مې خلي احوال
ســـلام مې د ريـار نـه و، ســـلام مې چې گـانـه

لـمـبـې يـې کـړې راپـورې سرې د سرې بـې پـنـا
لېمې مې ورکولې چې، گلفـام مې چې گـانـه

يـو تـور لـحـد تـه راغـلـم پـه اوږو د چـا او چـا
ارام مې پکې روح شـــو بې ارام مې چې گـانـه

مـا ونکړو د نورو پشـــان ويـاړ پـه بـل او بـل
هر فرد مې عالم گير شـــولو گمنام مې چې گا نه

تر اوســـه مې يو زړه هم پکې نشـــو خاص و عام
ســتا عشــق هغه مېلمه و خاص و عام مې چې گانه

داســـتـان د زلـيخـا يې شـــمائلي کړو ليلام
د خـدای پـه لور يې بوتلمـه الزام مې چې گـانـه

## غزل

لکه خوب چې زما ورک دی، داســې ورک دې شــه ارام
چې د عشــق له غمه کښــينې مړو ايرو ته په ماښــام

چې يې ســتا لپاره کړمه، د نه زړه چارې په ښــه زړه
تـاتـه نـه ښــکـاري لالـيـه دا نـاکـام زمـا نـاکـام

زه د يار په زړه کې ولې حســو مه خپل ځان داســې
لکه وي چې چا ســاتلی په خپل کور کې څوک غلام

دلاســه به مې جنون کړي مايوسي به مې کړي ختمه
ســتا د مينې جام به راکړي دا ســپوږمۍ په سر د بام

د ليلا او مجنون ســتوري اوس پـه کرکـه راتـه ګوري
چې توبه مې کړه له عشــقه خدای مې ورک کړ در و بام

زما روح زما وســواس شــو د خلاصي لارې يې نشــته
نـاتمـام مې چې غوښــتلو، تـا کړو داســې نـاتمـام

زه الـفـت د شــمائـلـې، درنـه نـغـواړمـه پـه بـلـه
تـا بـهـلـول پـه سر تـړلی چـې د عـقـل دی احـرام

## غزل

خالق مې کړه اسانه د ژوند هره يوه سختـه، خو ډېره شـوه ناوختـه
ګيلـه کوم لـه ژونـده نـه تنـدی وهم لـه بختـه، خو ډېره شـوه نـاوختـه

ګرېوان مې په کمرونو کې نوکان مې په پنجرو کې، ټيکری مې په ازغو کې
راتـاو شـولې پـه مـا بـانـدې زمـا د مينې وختـه، خو ډېره شـوه نـاوختـه

راوړي يې ګلونـه دي زمـا دعـا سـلام تـه، سـوچ ورې يم ګلفـام تـه
مينځلي يې لاسونه دي د ژوند له تاج و تخته، خو ډېره شـوه ناوخته

پـه نيمو نيمو شـپو کې پـه خيـالونو پـه خوبو کې، د فکر پـه ټـالو کې
يو تللي پسـې سر راجګومـه لـه بـالښتـه، خو ډېره شـوه نـاوختـه

پـيـدا کـړمـه خـپـلـوانـو غـمخـوارانـو اشـنـايـانـو، د غـرونـو مـلـنګـانـو
د وران قبر پـه سر بـانـدې مې ولګېده شـنختـه، خو ډېره شـوه نـاوختـه

بنېـه مې شـمائلې زړه کې زور مې نشـو پاتې، سـلګۍ مې شـوې راماتې
پـه تـا پسـې بـه کړی مـا مزل و نور هم مختـه، خو ډېره شـوه نـاوختـه

غزل

سرِ ماښام دی د سیند په غاړه
لاسونه راکه جانانه دواړه

لا ندې د ېږې په ښاخ کې ټال دی
پاس مو سپوږمۍ ده په سر ولاړه

د زندګۍ مې پوښتنه مه کړه
هغه چې لاړه، نو پسې لاړه

په شومه دم چې څوک درنه ورک شي
په ماښامونو، ورپسې ژاړه

په سترګو ړوند شې د مینې غمه
رانه دې هېر کړل، غمونه واړه

چېرته کشتۍ چې د وفا درومي
په ډوبېدو يې له خدايه غواړه

په صورت ښه يم زه شما ئلي
خو اشنايي مې، شوله و يجاړه

# غزل

د زړه له درده مې په زړه ایښــــي لاســـونه نه وای
داســـې نیمګړي مې د مینې ارمـانونـه نـه وای

ســـتـا د لېمو یوه اسره دې وای مـدام راسره
زما په ژوند کې دې رنګونه مشـــالونه نه وای

پـه نرېـدو مې د عشـــق کلي او کورونـه نـه وای
په رغېدو مې ســـتا د ګوتو جوړ زخمونه نه وای

چې پـه ګولیو تعویـذونو بـانـدې هم نـه راځي
داسـې ورک شـوي مې په تا پسـې خوبونه نه وای

تقـدیره ډېر دې ا لوده کړل د نفرت پـه لوګو
ســـتا په حلقه کې مې د عشـــق ولایتونه نه وای

چې پښـــېمانېږم پرې بیـا بیـا لکـه د نـه زړه کلي
داســـې بې خونـده دې زمـا انتخـابونـه نـه وای

پـه لیونتوب بـه شـــمائلې د چـا نـه وم راضي
اواره ګـیر کـه د زلـفـانـو مـې تـارونـه نـه وای

## غزل

پـرېـږده کـور و مـکـان داســـې راتـه وايـي
ســـتـا د عشـــق بيـابـان داســـې راتـه وا يي

چـې تـر مـا رارســـېـدای نشـــې مـه پـايـه
دا د ســـتـورو اســـمان داســـې راتـه وايـي

يــار يــاري راسره تـېـره پـه جـواري کـړه
يـقـين داســـې، گـمان داســـې راتـه وايـي

مـا تـر سره نـکـړې سر بـه دې قـلـم شي
ســـتـا د مـيـنـې ارمـان داســـې راتـه وايـي

تـرهـوم بـه دې تـر هـغـې چـې ژونـدی يـې
روشـــنـايـي د جـهـان داســـې راتـه وايـي

نـه مې رنـگ درپـســـې زېړ دی نـه مې يـاد يې
ســـتـا د غـره ارغـوان داســـې راتـه وايـي

د دلـبرو مـيـنـه پـرېـږده خـود رغـېـږې
مســـيـحـا او لـقـمان داســـې راتـه وايـي

اوس ســـبـب د وصـــال نـه يـم شـــمائـلـې
ســـتـا د کـور روشـــنـدان داســـې راتـه وايـي

غزل

زور د زړه مې کموي، حاســـدان مې څوروي
ســـپوږمۍ هم پـه ببوســـی، زمـا کلي خبروي

پـه مســـیح لقمان زمـا، شـــوي کوډې څـه منتر
گورســـتان به مې وي در، څو چې ځان راویښـــوي

عـالمـانـو کـړل عـامیـان، د ســـبـا او د بېـگـا
پســـې کاندي هو او ها، پرې بار کړي یې وَري

ږکې نشـــتـه دلبري، راتـه ښـــکـاري ویرانـه
کـه هر څو مې دي د کور، دیوالونـه مرمري

پـه کـوزه کـې بـنـدوي، کـوزه گـر د بېـلـتـانـه
دا جنون بې سر و پـا، دا ســـینـه ســـمـندري

چې جوهر مې کړي د عشـــق، لـه ایرو نـه رابهر
غوارړم یاره ســـترگې ســـتا، هســـې رنگه جوهري

ژور زخـم مـې د زړه، رغـیـده کـا خـود بـه خـود
شـــمائـلـې چـې مـدام، پـرې تـېـرېـږم سرسري

## غزل

کوم ډېر د نـاکـا مو نو یون پـه زړه
را ختلی مې د صـــبر خون پـه زړه
د وصـــال امېد دې وکړمه له چا نه
غرونـه غرونـه مې ولاړ ببېلتون پـه زړه
څه خاطر به دې د ســترګو ورسره وي
چې چړې دې تېروي میمون پـه زړه
نشـــم نور کولی عشـــق د بې غمانو
نشـــم نور ســـاتلی دا افســـون په زړه
مـازیګر دی بې جـانـانـه مـازیګر دی
راورېـږي د لـیـلا مـجـنـون پـه زړه
ستا له رویه چې تأخیر شي تغافل شي
د خروار په حســـاب اخلم چون په زړه
بل او بل له بل او بله سره ښـــایي
نه ځاییږي زما دا مضـــمون په زړه
یا مې کار شـــو شـــمائلې لالهـا نده
یا مې بار شو ستا د مینې شتون په زړه

غزل

ټول لکیر لکیر مې دی تصــــویر
ســتا د عشــق اســیر مې دی تصویر

ژونــد دی یــو زنــځــیر د اذیــت
بنـد پـه دې زنځیر مې دی تصــــویر

دا مې دی اســـلام دا مې نشــــان
دا د خونـه میر مې دی تصــــویر

هجر به یې ســـتا کا ندي شــــاعر
پروت په بم او زیر مې دی تصــــویر

اړوي ــــــــ رنګونه ــــــــ د ځوانۍ
تـا پســـې زهیر مې دی تصــــویر

اوس نه پکې ســـاز شـــته نه آهنګ
اوس لکه تصــــویر مې دی تصــــویر

یم چې ــــــــ له ازله ــــــــ بېنوا
دا د خپـل تقـدیر مې دی تصــــویر

اچوي هر غم ـــــــــــ پسې چنګک
زړه د مـاهي ګير مې دی تصـــوير

نـاســـت دی لـه الفتـه بېګـانـه
ســتا د مخ تفســير مې دی تصــوير

غـوځ دی پـه بـڼـو کـه پـه نـيـزو
ټول تسـخير تسـخير مې دی تصـوير

زه يـم شـــمائـلـې شـــهـزادګـۍ
کور د خپـل فقير مې دی تصـــوير

## غزل

نه بخت کړه رښــتیا، نه زور د جلال
خوبو نه زمـــــــــــا او ســتا د جمال

نــه راوړي قــاصـــد، نــه راوړي هــوا
ډیــوې د وفــا، ډیــوې د وصـــــال

تصــویر مې څېري، دســتور مې ســېزي
رامـا تې کړې عشـــق، تمبې د زوال

لرې چرتــه څوک، هجومـه کـه نـه
زمــونــږ د تــپــوس، زمــوږ د احــوال

یو ژونـد تـه یو څوک، فرصـــت لټوي
یــو گــل د لالــه، ولاړ دی کــنـگـال

نارې د حسین، تیرې د مـــــــــــاتم
تا ســاتي بې نیاز، ما ســاتي ســمبال

چـــې لاړه خــنـدا، د شـــمائـلـــې
کوڅې شوې سپېرې، د عشق د مجال

## غزل

کلو نه پس مې که څوک د لدار شـــو، هغه به ته یې
زړه مې که هر چا، پســـې بیمار شـــو، هغه به ته یې

هغـه بـه بـل وي، چې پسرـــلي بـه، راپســـې ګوري
مګر که څوک مې ګل د رخســـار شـــو، هغه به ته یې

بـاور مـې نشيـــ پـه نـورو خـلـکـو، خـو لـېـونـیـه
کـه مې لایق څوک، د اعتبـار شـــو، هغـه بـه تـه یې

د زلـفـو څـوکـې بـه مـې پـرتـې وي، پـه نـغـریـو
داســـې حالت مې، که هم دیار شـــو، هغه به ته یې

زما دا ژوند خو، که زما ژوند وي، تل به خاموش وي
په مودو پس که، ســـاز شـــو خمار شـــو، هغه به ته یې

ژوند که سېلاب شو، که روګودر شو، هغه به عشق وي
که اختصـــار شـــو او انحصـــار شـــو، هغه به ته یې

وړي بـه ســـقر تـه، څو شـــمائلې، څو لامکـانې
که په نارو یې، څوک رابېدار شـــو، هغه به ته یې

## غزل

د تورې شــپې بېړۍ د صــباه خوب لیدلی دی
لالیـه مـا د گـل او صــهبا خوب لیـدلی دی

خورشــیـد د رڅېـدلې شــهلا نـه اخلي خبر
د مـخ د اړولـو دې مـا خـوب لـیـدلی دی

ذاهـد پـه کســبگرو پســې پېټي وړي د نور
مرشـــد د ســومنـات د رڼا خوب لیـدلی دی

پرا ته یې وي په ســترگو کې اورونه د ســقر
د مرگ په ارمان ناســتې حوا خوب لیدلی دی

نـاهـدې کـه یـاري وکړه نو شي بـه قیـامـت
په ښـــار کې مجتهد او ملا خوب لیدلی دی

را کاږې یې چړو ته په شـــدت په بې رحمۍ
لېمو تـه دي ولاړې لیلا خوب لیـدلی دی

لاهـوت یـې شـــمائـلـې گـډوي لـکـه لـولـۍ
لـه ځـانـه ترهېـدلې ســماع خوب لیـدلی دی

غزل

هیڅ رنگونـه مې ګلونـه د ګلشـــن نـه راوړي
چې هوا دې خوشـــبويي د پیراهن نـه راوړي

قـنـدهـار ورپسـ‍ـــې ګـورم هـلـمـنـدونـه لا هـم
حـوالـې يـې سِـــحـرګرې د ديـدن نـه راوړي

پـېـغـلـتـوب مـې لـه غـزلـه تـرهـولی فـراق
سره لاســونه په ســاغر او په دامن نه راوړي

يـار زمـا پـه ارادو بـانـدې خـبر و پـخـوا
دا چې اوس هم راتـه کـانې د مېچن نـه راوړي

پسرـــلي دي لـه مـحـلـتـه بـېـنـوا دي روان
ادراکـات دې موســـمونـه د مِلـن نـه راوړي

هیڅ دې نه راوړي خو رادې شي تپوس ته دلبر
بيمارانو ته څوک ســتوري په پوښـــتن نه راوړي

اوس چې هر ځلې رادرومي شـــمائلې بهـار
هغـه ګـل هغـه مســتي هغـه جېون نـه راوړي

غزل

د زلفو څوکو نـه دې اخلي مینـا رنـګ مـه راځـه
په اشـیانه مې داسـې مست په خندا رنګ مه راځه

د چا د یاد له لاســـه خپل رنګ ته کتلی نشـــم
مـا پســـې مـه ګرځوه بـاده زمـا رنـګ مـه راځـه

د محبـت د محـفـلـو نو پـه دســـتور مئینـه
درپســـې ګوري د بې مینې فضـــا رنګ مه راځه

د قحط ســـالۍ پـه خوبیولو مـاتم مـه جوړوه
بـیـداروه مـې مـه د زړه د درزا رنـګ مـه راځـه

ما ته تصـــویر د خپل وطن د شـــهید مه جوړوه
که دې پیرزو وي په سپرلي د صباه رنګ مه راځه

جرګې جرګې راشـــه د وصـــل امېدونـه راوړه
د ځان ځانۍ په رنځ اخته په ګناه رنګ مه راځه

د شـــمائـلـې د خـوبـونـو رَوخـطـا قـاصـــده
زمـا جونګړې تـه د پیر پـه دعـا رنـګ مـه راځـه

## غزل

خپـل چې راپـاڅي، هر څـه دې يوسي دا عجيبـه وي
زړه دې ســتي کړي، لېمـه دې يوسي دا عجيبـه وي

چې ګړندی ســيند، ســړی لاهو کړي دا يو معمول وي
خـو چـې ولاړې، اوبـه دې يـوسي دا عـجـيـبـه وي

يو چې رېښــم يې ــــ او بـل د قهر بـادونـه راشي
او لـه مـات شــوي شــپـالـه دې يوسي، دا عجيبه وي

د زړه له رنځه، دې الله ســا ته کل اســتحســان وي
نظر دې مـات کړي، بـانـه دې يوســې دا عجيبـه وي

د نــوابــانــو، پــه امــدادونــو، چــرې وامــه وړې
چـې راټـول کـړي، اوړه دې يـوسي دا عـجـيـبـه وي

چې وژل شــوی، په کوم تصــوير وې هغه تصــوير چې
درتـه مســکی شي، مـانـه دي يوسي، دا عجيبـه وې

نېلام خو عـام دی، خو شــمائلي چې د خپـل کلي
ړانـده دې لوټ کړي، کـانـه دې يوسي دا عجيبـه وي

غزل

ستا د مينې پس منظر د بهانو دی
چې زما هر يو نظر د بهانو دی

ستا که لارې د وعدو وې بې منزله
ما پرې هم کړی سفر د بهانو دی

تقدير څوک بې نيازه کړي په خواريو
شېرپېلی کله ساغر د بهانو دی

خوشبينی په هر دستور کړم بدگمانه
د زړه کلی مې دفتر د بهانو دی

گودر لارې د چا نه څاري ويجاړ دی
گل ولاړ پکې اوتر د بهانو دی

د رييار د تلقينونو صلې راغلې
سر مې ايښی په بستر د بهانو دی

مست خاطر مې مرور دی شمائلې
ځورولی سکندر د بهانو دی

## غزل

هـر کـه څـارم دا ازغـنـه لار د مـيـنـې
پـه نظر نـه راځي تللى يـار د مينې

هم مې لاس لـه يـاره وخـاتـه دســتوره
هم مې خاورې شــوې په سر انبار د مينې

راز او نيـاز مې پـه اعراف ورسره وشــــه
کـه مې ومنـد طـاعوني بيمار د مينې

نغمګي مې پـه پرهر کې مســـېدلـه
چلېـده مې پـه ځيګر تلوار د مينې

چې د ســـترګو دې پيرې راپســـې ګرځي
زه بـه څـنـګـه بـدلـوم دربـار د مـيـنـې

دا يقين د يـار پـه مـا بـانـدې پيدا شـــو
کـه جوهر شـــو پـه آئين غبـار د مينې

ترس پـه هغـه زړه کې ګورې شـــمائلې
څوک چې ظلم لره وايي کـار د مينې

## غزل

یار پسې خاته دي د سما په لور
سترګې مې نیولي د صهبا په لور

دا له نقشبنده ترهېدلی عشق
ځي د سمرقند او بخارا په لور

دا به هم هجوم صله رحمي ګڼي
کډې مې تړلې د صحرا په لور

اوس خو به خوشحال وي د فتنو وطن
مړی مې روان شو د ماوا په لور

ساندې چې زما د وینو ختمې شوې
لاړې خَلَقې د منتهیٰ په لور

هر خرقه فروش د ښار هادي بویه
لاري لندوه د ارتقا په لور

بادِ بهار زړه د شمائلې وړي
هر سهار د شاه و د ساوا په لور

غزل

څوک ناست په ګندهارا دی او څوک ناست په کړه مار
شروع دی د نبیانو په خوبونو کاروبار

د دین د وارثانو نظر دومره شو حبسي
د کفر علامت ګڼي موسم د نوبهار

هر څو دې که راښکلمه فطرته په لمبو
زما د زلفو تار نه شو لوګی زما د ښار

په داسې روشن فکرو دې خدای نه اړوي څوک
په غاړه مې د سرو وینو پرهر ګڼي زنار

له کوږ وري طالع غواړي د سرای او د مقصود
ڼیولی یو شپونکي راپسې پال په هندوبار

په نور جهان ذرې ذرې و غم د نور جهان
په ما باندې دلی دلی انبار انبار انبار

خوږ عمر مې کرښی کړو شمائلې د تیرو
خندا پسې کومه په اسره د کردګار

# غزل

کـه د زړه ســـودا کـومـه کـه د سر ســـودا کـوم
ســـلـیـقـه زمـا هـمـدا ده، زه خـو یـاره دا کـوم

یه د ســپنکي پشـــان ژوندو عشـــقه رنځه تغافله
څومره لويې لويې شـــپې دې پـه اسره صـــبا کوم

تعصب گر دی غصب گر دی نه احساس لري نه مینه
چې د چا پـه واســـطـه بـانـدې ســـلام دعـا کوم

قـافـلـې راپســـې گـرځـي د فـطـرت د لارویـو
کـجـاوې د پـرهـرونـو پـه لمـبـو رڼـا کـوم

چې مخلوق یې لـه خـالقـه اوربـدو تـه تیـار نـه دی
زه لـه هـغـو پـېـغـورونـو سره ځـان اشـــنـا کـوم

ابـابیـل مې پـه سر گرځي پـه ویرانـه ټهیکـانـه کې
ســـتـا لـه غـمـه تـرهـېـدلـې زمـانـې ادا کـوم

دا هـالـې دې شـــمائـلـې، رانـه تـاوې زولـنـې شي
کـه بـه دا ســـپوږمۍ د خپلې حـادثې منشـــا کوم

## غزل

هم پــه دیر هم پــه حرم وايي اِلاّ لا لبيـک
هيڅ قيمت مې پاتې نکړو د منشـــاُ لا لبيک

تـوکـل رانـه روان شـــو د جـنـون او ســـودا
تغـافـل مې شـــو پـه ذات کې مهيـا لا لبيـک

دا مرض د تېرسري چې سرطـان شي د زړه
لکـه شي چې تصـــور د مســـيحـا لا لبيـک

ګلاب رنـګ زمـا د وينو ځکـه کړو فرا هم
پښې سرې پـه وينو يوړې مصـــطفی لا لبيـک

ما چې څنګ ستا د تحقير له سنګه وکړو سماع
ردوي بـه مـې اوس هـره مـدعـا لا لـبـيـک

لالـه زار مې چې د مينې کړو فقير د تمغو
تېزنـديـانې مې خورې کړې پـه مـاوا لا لبيـک

دنـدوکـار مې زړه چـاودن وي شـــمائلې مـدام
هر حسرـــت لره مې وايي ارتقـا لا لبيـک

## غزل

شـــو عاشـــق په کوم جمال دا زما زړه دیوانه
مـاتـه هم نـه وايي حـال دا زمـا زړه دیوانـه

لار دې څـاري د راتلو، لکـه سـیرَ د انجـام
د خـلیـل د اور پـه ټـال دا زمـا زړه دیـوانـه

چې پرې شـــولو بېګانه له خپل کور کلي محلت
اوس يې نه ســـاتي ســـنبال دا زما زړه دیوانه

نه ســـا ئل دی د جلوت نه قا ئل دی د دنیا
نه شر يک لري نه ســـيال دا زما زړه دیوا نه

دم ختلی دی ګهيتا چې تر اوســـه يې په نوم
نـه مرزا شـــو نـه کنګـال، دا زمـا زړه دیوانـه

ســتا د ســترګو باوجود، دومره ســپک کړو زمانو
لکـه بې ځوابـه ســـوال، دا زمـا زړه د یوانـه

نـه يې آه شـــو برملا شـــمائلې نـه يې خیـال
غزل ګو شـــو د پـاتـال دا زمـا زړه د یوانـه

غزل

چار د هغه خپله خو علت د نظر ما کړو
خدای که نرزکار گرو نا نک کړو جوهر ما کړو

تا چې د فقیر په دود د عرش په لور رخصت کړو
هغه د بادرو لېونی زړه او ځیگر ما کړو

داغ په نسترن بویه زما بېنوا عقل
پس له هغه عهده چې نوکر د سَحر ما کړو

ژوند که د مېږي له کربه هم پورې واته وو
بیا به له حِرصه د بابړې سفر ما کړو

ډلې د صوفیانو ترینه واړه ترهېدلې
ذهد چې ناسور شو ستا له ښاره بهر ما کړو

څنگه چې پکار وه هرجایي زړه ته سېزنه
هغسې راټول په یوه بټ او مجمر ما کړو

هیڅ پښتو یې ماسره ونکړه شمائلې
څو که د پښتو په روایاتو خبر ما کړو

غزل

په تصــوير خو به يې وينې راټوکېږي
چې زمـا پـه افسرـده خـا طر ور ېږي

زړه مې داسې نا اشـنا شـو اشـنايۍ کې
لکه بت چې د شــهلا کره اوســېږي

چې د وينو فوارې بـه يې غوښــتلې
هغـه ســترګې په خوبونو کې بوږنېږي

څـه خبر هجر و فراق لـه هغـه مخـه
دا وختونـه بـه پرې څرنګـه تېرېږي

ملالۍ دې ړنـدې بويـه خراســانـه
چې پـه غرونو دې سرمـه رازرغونېږي

سکنۍ زلفې د سپوږمۍ په رڼا سکنې
د نـازونـو روايـات پـکـې قـتـلـېږي

بـدخشـــان زمـا وطن دی شــمائلې
خـو د ويـنـو سرابـونـه پـرې بـهـېږي

## غزل

څومره نور لنډول غواړي د دې ســـتړي ژوند پورونه
مـاتـه څومره نور دي پـاتې، منزلونـه پړاوونـه

امیدونه د بدلون خو په ســـل رنګه ورکاوه شي
تا خو داســې راته راکړل لکه سـیوري کې لاسـونه

دا چـې پـلـوري مـې پـه زرو د وفـا روایـتـونـه
خبر ندی هغه حســـن د جذبې له زړه چاودونه

د لفظونو په تمیز او په مقصـــود به خبر نه وي
نقـادان بـه ورلـه بولي پـه کوزه کې دریـابونـه

کشـــاله وي په کوم ځای کې چې زما معاشره وي
هلته نورې ګیلې هم وي د مســـتۍ له ســـباوونه

زه د ژونـد پـه حقـارت کې مرتبې لټوم نـه خو
پـه خنـدا بې قـدره کېږي بـدخشـــان لره لعلونـه

ده پـه مـا رانږېـدونکې شـــمائلې لـه ارمـانـه
د خلوص د نګهبـانې پـه نـامـه ولاړه خونـه

## غزل

چې قـقـنـس يـې لـه ســـکـره امـاني و
زمـا دل د هـغـه عِشـــق ارمـاني و
ســـل تمغې د بې دينۍ يې راتـه راکړې
چـې زمـا د بـېـهـوده صـــورت بـاني و
ســـتـا د هجر لالـه زار بـه يې وطن و
دا چـې زړه بـه مـې مـدام ارغـواني و
لـه ازلـه د خـلـوص پـه لـټـون سر وم
دا چـې ژونـد مـې لـه ازلـه تـالاني و
لافـاني زخـم بـه را هـغـه نـګـار کـړو
چـې زمـونـږه پـه نـظـر بـه لاثـاني و
چې د اوښکو په چشمه به مې مست نکړو
هـغـه ګـل بـه تـر هـغـې بـيـابـاني و
ســوي زړونـه مو پراتـه وو پـه ســينو کې
دا فـلـک لـه دې ســـبـبـه بـاراني و
نن هغـه هم پـه تـذليـل راپســې ګوري
چې ولاړ بـه مې لـېـمو تـه ګِريـاني و
چې حسرـت بـه شـو د زړونو شـمائلې
دا نهضـــت د ځينې ښـــکليو ســـبحاني و

## غزل

زندګي شــوه بې پرســانه، مه څه وايه نه څه وايم
پکې اوســو به ارمانه، مه څه وايه نه څه وايم

تېغ دې ســور په وينو راوړو، د نبيانو له کوڅې نه
د علي د کور پاســبانه، مه څه وايه نه څه وايم

دا جهان چې لېونی کړو، زمونږ چارو نو زندان شــو
پکې ګرځو به زولانه، مه څه وايه نه څه وايم

ته دې خپل سـياسـت پاله، زه به خپله شـاعري کړم
که دې خوښــه وي، نو ګرانه، مه څه وايه نه وايم

څومره چارې دې ونکړې، په عظمت د پېغلوکيو
د شــهلا د بڼ دربانه، مه څه وايه نه څه وايم

ته حســاب راپســې نيســې، ما کباب زړګی راوړی
مقدره بې زبانه، مه څه وايه نه څه وايم

څه د زړونو بيمارۍ دې، کړې اسرې د شــمائلې
دل فرېبه ارغوانه، مه څه وايه نه څه وايم

## غزل

ځان نه مې تاو کړي دي لاســونه تنهايی
آلوزي ســـاړه، ســـاړه بـادونـه تنهـايی

وړي مې په صـحرا کې سـمندر د وسـوسـو
خوري مې پـه کوټـه کې دېوالونـه تنهـايی

ښـــايي چې يو څوک راته ولاړ وي په کنډو
ټول دې کړه ټغر د اميـدونـه تنهـايی

څوک به دې شـــيدا کړي د جنون په غلبلو
مـه مې کړه تپوس پـه هره خونـه تنهـايی

ځـان بـه د ظلمونو انتهـا کې کړې پري
ما به خلاصــه نکړې له شــبخونه تنهايی

راشـــه مرثيې راتـه غربېري پـه ژونـدون
ناســت رانه چاپېره دي لاشــونه تنهايی

ســتړې شـــمائلې ســـوزوم لکـه ډيوې
لـانځم بې جـانـانـه مـاښـــامونـه تنهـايی

## غزل

سر دې وخوره عـداوت د نوح طوفـانـه
دا پـه چـا يې مســـلط د نوح طوفـانـه

تـه ســــالار شــوې د مغلو د لښـــكرو
زه اسره د پـاني پـت د نـوح طـوفـانـه

كه رېښـــم غوندې مې زباد كړې اندامونه
يو بـه نســـم ملامـت د نوح طوفـانـه

پـه مـا نـه كوي اثر د محشرــ چـارې
نه د ښـــكليو نصـــيحت د نوح طوفانه

دا په كومو عذابونو كې دې ښـــكېل كړم
بـاده جـامـه د لـذت د نـوح طـوفـانـه

دا جونګړه جوړه كړې وه بغـداد كې
مـا پـه څومره كرامـت د نوح طوفـانـه

دا ســـوســـن دې چې جدا كړو له چمنه
اوس يې بولـه پـه منـت د نوح طوفـانـه

تا ته چا وې چې د زور په بنياد ګرځه
او لوټـه د خلكو پـت د نوح طوفـانـه

قـافـلـې د شــــمائـلـې درنـه لاړې
اوس يې ګوره په بودمت د نوح طوفانه

غزل

گل لګي ســتا کا ته لکه باده او جام مســـت
ســـاتمه پرې له ســوزه خپل ځګر مدام مســـت

د هر يو محمد خوب دی ګـل کړی پـه اوربـل
زنګېږي دې په لارو کې هر خاص او عام مســـت

دوی نلره پـه دې خـاوره د ګوټ او بو ا ختيـار
دا ګرځي چې پـه وينـه اوس زمـا د قـام مســـت

ممکن چې د ســـهار په نوم هر څه شي رانه هېر
نســـيم که داســـې نه راوړي د يار ســـلام مســـت

دا ســـتوری د قطب شـــو د نرګس په خندا مات
دا بنـد دې چې رنګونـه کړل د زلفو دام مســـت

ليلام مې د عظمـت دی لګېـدلی پـه ډيلي
ولاړ دی مشـــتري ورلره لاس پـه نـام مســـت

بود مسـت دی شـمائلي کرشـن مسـت رام مسـت
تـړلی مـې پـه سر دی افـاقـي احـرام مســـت

غزل

سپوږمۍ تا ویر د ارمان چا پسې کړو
ما خو د یار د مخ رڼا پسې کړو
چې خدای راکړی عبادت لره و
ما هغه عمر تمام تا پسې کړو
وې یرغمل په امنیت مئینه
سر دې چې پورته په غوغا پسې کړو
زه ستا له غمه ترسېدلي ومه
خلکو ازار آب و هوا پسې کړو
اسمان د ځمکې غلامي شروع کړه
ځان یې مجنون خپلې لیلا پسې کړو
زما د مینې د خاپوړو وطن
تا په ملا ما په بلا پسې کړو
د گل غوټۍ جسد کې ناست بهمنه
بورا دې مړ یوې خندا پسې کړو
څه بې نیازي ورلره بوله کنه
چې لېونی دې په شهلا پسې کړو
د شمائلې د ځوانۍ سحر دې
مرثیه وار یوې سودا پسې کړو

## غزل

دا ســـهـارې چې پـه هر لور بلېږي
دا مې د زړه پـه کور کې اور بلېږي

چې مړې کولې مې د ژونـد لـه بـاغـه
هـغـه لـمـبـې زمـا پـه کـور بـلـېـږي

لـمـبـې د ظـلـم پـه ښـــار نـه بـلـېـږي
لـمـبـې زمـا د زړه پـه زور بـلـېـږي

څېرته چې ستا د سترګو سپین ختم شي
هـلـتـه زمـا د ســـترګـو تـور بـلـېـږي

دا چـې پـه خـونـه کـې ارام نـه راځـي
دا پـکـې شـــمـعې د پـېـغـور بـلـېـږي

کـه مې حـاصـــل و لـه نیمګړې دنیـا
څو ګر بتی به مې پـه ګور بلېږي

بخـت مې کوټـه دی شـــمائلي بویـه
لا چـې دعـا راتـه د مـور بـلـېـږي

## غزل

تن مې فرسوده ځګر پاره پاره
ګوره کابل وران خیبر پاره پاره

دا د بلقیس ګوتې بازاري ګوتې
دا سلیماني ګوهر پاره پاره

نه سیوری د زلفو اسماني الزام
نه رڼا د مست چندر پاره پاره

کوم ته چې ولاړ وې ګل ګېډۍ سره
وبه ووځې په هغه ور پاره پاره

زړه نه مې د فقر لوګي پورته شول
شو په شاهانه مجمر پاره پاره

هم مې د چمن نغمې په وير اخته
هم مې د سوسن وزر پاره پاره

دا صورت ګلبڼ د شمائلې خو
زړه پکې ولاړ مګر پاره پاره

## غزل

راشــه په زړه مې وينې پنډ شــوې که څراغ بلوې
د مســـافرو بېړۍ ځنډ شــوې کـه څراغ بلوې

عمره تســبو دې هم د اوښـــکو رڼـا وبـايللـه
لاســونـه ووهـه رالنډ شــوې کـه څراغ بلوې

وجـوده تـوره تـنـهـايـي دې راتـه اودرولـه
دا ته په ما باندې راغونډ شــوې که څراغ بلوې

زمـا لـه هـر نـظـر پـرېـوتـيـه بـلا دې واخـلـم
زمـا د هرې لارې خنـډ شــوې کـه څراغ بلوې

اوس خو زما د بربادۍ په اســاس امن کې يې
اوس خو دې شپې په ملکنډ شوې که څراغ بلوې

شــوې پـه وتو د شــمائلې د نظر لـه بـابـه
په خوی بنیا په نصيب شنډ شوې که څراغ بلوې

غزل

ټال شـــې که په دار د چا له مینې نه
نـه بـه کړې انکـار د چـا لـه مینې نـه

اوري پــه بــاردار ونــه کــاڼــي تــل
خوښ شـه په سـنګسـار د چا له مینې نه

ته د شـــېرعالم په تېغ حلا له شـــوې
زه پــه خپــل زنـار د چـا لــه مینې نــه

سـور د عشـق هلال مې په مسـکن ولاړ
وړم هــاروبــهـار د چـا لــه مـیـنـې نـه

بــاوجــود د ژونــد لــه مــرغــوزار سره
ګرځم پـه کهســـار د چـا لـه مینې نـه

نـه مـې کـړو بـیـدار پـه لـقـماني درو
زړه بـویـه بـېمار د چـا لـه مـیـنـې نـه

ژونـد دی شـــمائـلـې پـه ارمـان روان
هغســـې داغـدار د چـا لـه مینې نـه

غزل

تــه وې زمــا هغــه ځواني، چې لاړې لاړه رانــه هم
هم مې د څو ورځو خــاني، چې لاړې لاړه رانــه هم

هم مې غربت وې د کاله، چې لاړو لاړې رانه ته
هم مې د ســـترګو حيراني، چې لاړې لاړه رانه هم

په دې بې دينه دنياګۍ، په دې هجوم د خونبارۍ
تــه وې زمــا مســـلماني، چې لاړې لاړه رانــه هم

ته وې جګنو په سـبو ناسـت، ما درته ټوله شـپه کتل
ته وې زما د زړه مســـتي، چې لاړې لاړه رانه هم

هم مې چراغ وې د کوټې، هم مې منزل وې نميمې
هم مې د داغ دور افشـــاني، چې لاړې لاړه رانه هم

اوس نه ارمان کوم د چا، اوس نه هوس لرم ورېا
يوه لحظــه وې ارمــاني، چې لاړې لاړه رانــه هم

کــه شـــمائلــه وه د بڼ، چې لاړې لاړه پــه زوال
کــه دبـدبـه وه شـــاهـاني، چې لاړې لاړه رانــه هم

## غزل

هنگامې دي، هنگامې دي، هنگامې دي
چې بې خونده مو د مینې پالنامې دي
سترگې پورته کړه د شپېو ورونو خورې
استقبال ته دې ولاړې جنازې دي
د قابض چمني لورې حادثې دي
په لمن دې آئينې كه ستارې دي
خدای دې نکړي په نمرود او هامان پورې
چې په ما پسې تاله کومې تمبې
لکه نشي د رمل بې له دانياله
هسې ماته راترغاړې خېلخانې دي
مجال نشته چې ستا هجر به مې پرېږدي
پې پلورلې مې د اوښکو دردانې دي
د کندر چمنيان بيا غزا ته لاړل
پرې اوښتې د جنگونو سرسايې دي
پوشيده دې نرگسې سترگې پرتې دي
ورانې شوې د يونان قهوه خانې دي
خپل جنون راته ولاړ دی شمائلې
په تحفه کې يې راوړې زولنې دي

## غزل

لـکـه دود هســـــې بـه ګـرځـي پـه ویـرانـو
بـدنـام مشــــه څوک پـه تور د بـادشـــاهـانو

دا رنـا شــــوه د یـزیـد لـه قـبره پـورتـه
او کـه داغ پـه زړګـي راکـړو مـهـرویـانـو

د بـاور چـارې لـه مـوړه زده کـاوه شي
مـوړ رمـې د وریـو سـاتـو پـه لـېـوانـو

دا یـونـس بـه درنـه ومـري پـه دریـاب کـې
اې پـه ســپین لبـاس پوشـــلیو مـلاحـانو

دا بـېـړۍ د مـحـبـت بـویـه حـاســـده
چـې نـیـولـې پـرې پـیرې دي نـهـنـګـانـو

ښه شوه ښه شوه چې بې څوکه بې پوښتن شوې
اوس خو نـاســتې لره جوړ شـــوې د هـاتیـانو

کــــــه ازار د شــمائـــلي درپسـې شـــو
بـیـا بـه ګـرځـې پـه دمـګـرو پـه جـوګـیـانـو

غزل

څرېکې څرېکې ساندې ساندې، زه د زړه په رنځ اخته یم
ژوند مې وژني د زړه تا ندې، زه د زړه په رنځ اخته یم

دا بې ســتنو چې ولاړ دی، د توحید قصــیدې وایي
له دې شــنه اســمان نه لاندې، زه د زړه په رنځ اخته یم

د ختیځ پېغلې مې ژاړي، مات تابت د تورو وینو
د گودر چینې بهاندې، زه د زړه په رنځ اخته یم

د تقدیر له کرښــو وروســته، مســیحا تپوس ته راغی
د ازل له نومه وراندې، زه د زړه په رنځ اخته یم

د دې تورو ماتمونو په سر بل اســتحســان هم شــته
ته په مات آئین کې خاندې، زه د زړه په رنځ اخته یم

د راناو د ســنبلو په حجرو د تللو نه یم
ژونده څه را باندې کاندې، زه د زړه په رنځ اخته یم

شــمائلې له دنیا نه مې لاســونه په واته دي
په صــلیب مې شــولې مراندې، زه د زړه په رنځ اخته یم

## غزل

په ما کې نښې د ژوندون نشته
ستا له غمونو نه خلاصون نشته

دلته چې شته دی د نفاق طلب دی
دلته چې نشته پیوستون نشته

زه د منزل خاپونه نه لټوم
ما سره شمعې د جنون نشته

دا زړونه نن لره پیدا وګنه
دې کتابونو کې پرون نشته

راتوکیدلو ته اسرې نه لرم
سر لګیدو ته مې زنګون نشته

په کاغذي کښتیو لارې وهي
د ژوند په سترګو کې مضمون نشته

د شمائلې ایرې نه بادوم
ماسره ساندې د جیحون نشته

غزل

ما ته ستا د اننگو ساقي خاطب وې
چې مجنون ته خدای جونگړه کې صاحب وې

زه د عدم په رسیو زنگېدمه
شېخ په خپله تاخانه کې عجایب وې

له خاطره مې د غم سواره روان وو
لېونو راته د تود بازار جانب وې

ما څلور ژونده پخواه پکې ژړلي
کوم داستان چې ستا د ښار راته راهب وې

دی ولاړ دی ته یې ځان وژني په پښو کې
ته ولاړ وې ستا نبي ته یې کاذب وې

هغه عشق زما مرغانو ته دانه کړو
کوم صیاد لره چې ما د زړه نایب وې

بل آلم راسره نه و شمائلې
ټوله شپه مې کتابونه د طالب وې

غزل

له هرې خوا مکانه راغلم، خالي لاسونه
د ژوند له هره کانه راغلم، خالي لاسونه

پښتو مغل دې په هر باب کې تحقير کړی و
زه دې له هر دېوانه راغلم، خالي لاسونه

نه مې کمڅۍ په لاس کې راوړې، نه تار د ګرېوان
ستا مقبرې ته جانه راغلم، خالي لاسونه

چې بنې نوع ته يې د رزق وعده ورکړې
زه له هغه اسمانه راغلم، خالي لاسونه

نور د وطن په درغليو سر نه بازمه
له باشنده ارمانه راغلم، خالي لاسونه

د زليخا د مخ سودا ته سودا وړې يم
ښار ته د نوح طوفانه راغلم خالي لاسونه

د شمائلې له وصاله محرومه شومه
د مازيګر بارانه راغلم، خالي لاسونه

# غزل

غرونو نه ســـندرې ســـېلابونو نه فطرت لاړ
لاش مې آرام گـاه لره پـه داســـې اذیـت لاړ

زوړ شـــو لـه فرعون سره موسی پـه مزدوریو
ســـتا له قبیلې نه چې تضـــاد او عداوت لاړ

بلـه غـاړه نـه گوري نـه بلـه ځمکـه غواړي
ســـینده له شـــنډۍ دې تصـــور د ِنزدېکت لاړ

دات د روم تالا شـــو د مانتس په خونه غم دی
ژړو نه لښـــکرې لاړې پېغلو نه قســـمت لاړ

ټول د حـاجرې او ســـائرې پـه وینو رنـگ و
ښـــه ده چې تورات نـه مبلیغ د مرمـت لاړ

راشــه د ســامیانو ســقراط زهرو ته مجبور شــو
راشـــه لـه تبُـت نـه پـادري او پروهـت لاړ

زه دې شـــمائلې د شـــبلي په تلاش سر کړم
ســـتا د کور منگي نه د منصـــور د وینو بت لاړ

# غزل

چې نیول دې د کـارغـانو پـه پـالونو
زنـګـوه یـې د کـمـڅـیـو پـه ټـالـونـو

له باران سره یې څارم د پله نښـــې
لـه اســمان سره یې ژاړم پـه خـالونو

د کاذب مســتقبل ســوچ لېوني کړي
دا د ښـار خلک عادت دي په سـوالونو

د پښــتون لـه اتفـاقـه ویرېـدونکیـه
خبردار مـه شـــې د زړونو پـه حـالونو

دېوانـه لکـه د خپلو ســترګو تور یم
سـتا په سـترګو کې د سـپینو مشـالونو

د الحاد او د توحید په منځ کې ناســته
شــغالان دي مســلط کړه په لعلونو

ځپلـه مینـه هېرومـه شـــما ئلي
اور دې پورې شي د نجونو په شـــالونو

## غزل

دا ته چې يې همداســې دی تقدير زما ظالم
ژونـدون مقرر کړی خـانـه مير زمـا ظـالم

پـه دې طـور داغـلـې يمـه ويـنـزو د بـادار
دا داغي چې رنګونـه د تصــوير زمـا ظـالم

دا سر د قلم شـــوي چنـار نـه دی د نګـار
دا عِشَـــق اړولی پـه تـدبـير زمـا ظـالم

د ګـل پـه پـاڼو وينې د ســـپرليو وې پرتې
دلـی دلـی راټـول کـړه زمـا پـير زمـا ظـالم

په هند کې د ګنګا پېغلو ته نشـــم خندېدای
ځيرلی ځِګر ناســـت دی په کشـــمير زما ظالم

له درست ګوشه نشين بازاره ځم په ملا بانګ
کوڅې راپســـې شـــوري د تحقير زمـا ظـالم

پـه ورانو کهســـارونو شـــمائلې شـومـه سر
چې کړمـه منتبـاره د تشـــهير زمـا ظـالم

# غزل

لبه لبه شــو ســتا د چته لا ندې، اســما نه  يه اســما نه
د تغافل له اذيته لاندې، اســمانه يه اســمانـــــــــــــه

تېرې چړې مو پــه مرۍ ايښـــي دي، د ګلشـــنونو خـالق
د  ګل د شـــو ندېو  له فطرته لا ندې، اســما نه  يه اسـما نه

په پالنګ ناسـت محسـوسـوي ځانونه، د خپل نګار په غېږ کې
د ســقرونو لـه شــــدتـه لانـدې، اســمانـه يـه اســمانـه

خــپـل وجـودونـه خـرڅـوو پـه لارو، پـه زمـانـو زمـانـو
ســتا د وجود  له ســلطنته لا ندې، اســما نه  يه اســما نه

پـه  غنمرنګو پســـې لارې وهو، پـه ســېلابونو بـانـدې
د مفلســـۍ لـه عـداوتـه لانـدې، اســمانـه يـه اســمانـه

چېرتـه ورمـه لـه خپـل پرونې بهر، حلالـه شـــوې بويـه
چرته ګلچين  له خپل خلقته لا ندې، اســما نه  يه اسـما نه

د شــمائلې پـه شـــان ســترې راغلو، پـه خپلو څلو بـانـدې
د خـانمـانو لـه خصــلتـه لانـدې، اســمانـه يـه اســمانـه

غزل

څه چې تخلیقات دي د رب
واړه احسـانات دي د رب

مـه وژنـئ د چـم لـېـوني
دا خـو روایـات دي د رب

نـه پـه تمـاشـو دي د طور
نـه پـه ملاقـات دي د رب

ټکي مې پـه مخ د تهمـت
سـوي منـاجـات دي د رب

ویر مې پـه جونګړه د نوح
تله مې په برسـات دي د رب

دوه ګـړۍ د رحـم کـاتـه
مـاتـه پـه بـرات دي د رب

نـه اوړي لـه خپلـې جـفـا
ښـکلي خو حالات دي د رب

اوس خو ترېنه لر که شـــمر
اوس خو خیالات دي د رب

وو چې د بابل ســـایه بان
اوس لـوازمـات دي د رب

تور پـه خنجرو د ابلیس
قند دي که نبات دي د رب

دي پـه رنـګـیـنـیـو ودان
زړونـه کـائـنـات دي د رب

ځـلي شـــمائـلـې د نـور
واړه تشـــبیهـات دي د رب

## غزل

د ژوند ســندرې غرغرې کړه، دا زړه مې داســې راته وايي
بندې په ځان پســې تمبې کړه، دا زړه مې داسـې راته وايي

زړه د اشــنا کوڅه کې پرېږده، هجر ســېزلی خســته حاله
بيا يې له ورايه تماشــې کړه، دا زړه مې داســې راته وايي

چې يې ســاتلی تـابـاني دی، د جنون کور د جنون کلی
مړې د هغو ســترګو ډيوې کړه، دا زړه مې داسـې راته وايي

يـار د خيبر پـه غرو پنـا کړه، د تـهـمـتونو لـه نـاتـاره
بيا يې څارل په مارګلې کړه، دا زړه مې داســې راته وايي

د ماشــومانو مســتقبل ته، د بې غمۍ بابونه خلاص که
ډکې له زهرو نه پيالې کړه، دا زړه مې داســې را ته وايي

د عشــق له نوې روييې نه، ســهل ســازي د حســن واخله
زاړه زخمونه پرې جرګې کړه، دا زړه مې داســې را ته وايي

چېرتـه چې کرب و اذيـت دی، همـه راټول کـه شــمائلې
لـه نوبهـاره يې صِــلې کړه، دا زړه مې داســې راتـه وايي

## غزل

تـه وا يې زه دې کړم رســـوا او تبـا نـانـانـا
يـاره بـيـخـي د تـحـمـل نـه دي دا نـانـانـا

خيال کې دې څه وو چې په چا پســـې ژړا کومه
تـا چـې پـه مـا پســـې کـولـه ژړا نـانـانـا

اول دې رنـګ د خپلو وينو پـه سرخيو کړمـه
او بيـا دې کړمـه کرشـــمـه د وفـا نـانـانـا

زمـا پـه څـنـو لـګـېـدلـې هـوا نـه پـېـژني
زمـا پـه څـلي تـېـرېـدونـکـې حـوا نـانـانـا

ســتا مضــطرب حســن ته نه شــورمه نه ګورمه
دا خو صـــليب ته دي کا ته د عيسی_ نا نا نا

له خپل څادره به يې دا سې مدام پېښې وېستلې
کـه ټـنـګـېـدلـې مـيـخـانـې پـه مـلا نـانـانـا

لـه کومـه کربـه شـــمائلي پـه هـالـه کې ومـه
په حال مې ســتوري وو خبر د ســما نا نا نا

## غزل

د دنیا د نړېدلو فطرت رحم دی کرم دی
دا چې کور مې لوټي دا اذیت رحم دی کرم دی

چې لحظه ترې غنیمت ده، ستا په خوا کې خود به وایم
د مرګونو د سورو مذمت رحم دی کرم دی

له مولا سره یاري کول الحاد دی، ارتداد دی
د ملا د ایجاداتو شدت رحم دی کرم دی

مدعا دې له حالاتو نه مجبوره غوندې ښکاري
سراسر پکې بدعت دی، بدعت رحم دی کرم دی

د کعبې په منجورو باندې زول دی د ناخوالو
په پنډت په پروهي د تبت رحم دی کرم دی

زه له دې نه په دې خوښه چې جدا یم له نګاره
دا د ګل او د بهمن رقابت رحم دی کرم دی

نه خلقت یم شمائلې نه احساس لرم نه مینه
شکر شکر هزار بار نهایت رحم دی کرم دی

## غزل

زما سلام ته راځي صنم سپرلی او سبا
یوه مابښام ته راځي صنم سپرلی او سبا

گل قندې ورژوي د وينو سيند روان کړي
چې منظرعام ته راځي صنم سپرلی او سبا

زما بورجل ته راځي، واعظ يې جاجي قدم
دارالاوهام ته راځي صنم سپرلی او سبا

هلته نشا ته درومي د هست و بود لپاره
دلته ارام ته راځي صنم سپرلی او سبا

د زولنو بازار مې کنگل په زړه پسې کړو
ختم الکلام ته راځي صنم سپرلی او سبا

د بهانو رهگره نن گز و پل کړه وطن
نن مې انجام ته راځي صنم سپرلی او سبا

چې شمائلې ته يې بې سهارې که ژوندون
هغه باگرام ته راځي صنم سپرلی او سبا

## غزل

ســـترگـو د خـوبـانـو وخـوړم
تــورو بـــلاگـــانـــو وخـــوړم
یو خیبر نـه بـل تـه را غلمـه
دلــتــه هــم ټــگــانــو وخـــوړم
یـو د جـان زدای لـه ذاتـه یـم
بـــل دې غـــمازانـــو وخـــوړم
خم به چې په گنج د حســـن و
هــغــو ښـــامـــارانـــو وخـــوړم
کاندي مې ناســـازې زړه باندې
څـوکـو د زلـفـانـو وخـوړم
هـر طـرف تـه گـورم وایمـه
څـو هـمـنشـــینـانـو وخـوړم
ښــار کې آهو چشـــمو لوټ کړمه
غـره کــې تـرابـانـو وخـوړم
کړه مې شـــمائلې څه حاصـــل؟
عشـــق دې پـه لېوانو وخوړم

غزل

سر لکه ناسور ویستی له هر اندازه ژوند
هر ایجاز اخیستی دی له بل اعجازه ژوند

زړه کې مې ماتېږي لاله ځانګې بند په بند
ما راشوکولی دی د غم له سازه ژوند

دم او قد ډار د پرزېدو محسوسوم
نور په وړاندې نه وړم د فنا اغازه ژوند

تاسره اخته په مزدورۍ ښايي فطرت
کم دې چرې مه شه له مستۍ او نازه ژوند

نه په اضطراب شو مسترد نه په چله
ګران شو راته ډېر له تا بغیر شنازه ژوند

شور د ناممکنو مجالونو شو طاري
چاته حواله کړم د امکان جوازه ژوند

خلاص مې چېرې نه کړو شمائلې په هیڅ دم
ستا د برندو سترګو د نظر له بازه ژوند

غزل

لاليه ســتا په رنګ او ښــار کې فرق شــو راته ګران
پـه هغـه او پـه دې بـازار کې فرق شــو راتـه ګران

وفـا راځـيـنــې تـاو کـړل زنـځـيرونـه د جـنـون
د کـانې او د ګـل ګوزار کې فرق شــو راتـه ګران

پـه رنـځ چـې کـلـه واوښـــتـم د ذهـن او د زړه
د ذهن او د زړه بيمار کې فرق شــو راتـه ګران

راتـول شـــو بـرمـلا د قـدامـت پـه پـيروۍ
د عشـــق او د نفرت په کار کې فرق شــو راته ګران

پـه دواړه ســـېرابـيـو کـې زنـګـېـړي غـرغـرې
د جـام او د جنون خمار کې فرق شــو راتـه ګران

پـاڅـېـږمـه غـورځـېـږم پـه هـر ځـلي هـر انـبـار
د پير او د فقير مزار کې فرق شــو راتـه ګران

دا فـرق مـې شـــمائـلـې و رســـا د زړه نـاســـور
دا ښه شوه چې په ځان او يار کې فرق شو راته ګران

## غزل

درپســـې سر کړم پـه ځنګـل غمونو
شــکل و صــورت مې کړو بدل غمونو

د خــونــړیــو دریــابــونــو بــېــړۍ
لالی مې مړ کړو پـه ځنګـل غمونو

په داســې حال کې مې ســلام ته راغلې
چــې آلــوده مــې کــړو اوربــل غــمــونــو

بـې سراپـا مـنـظـرکشــــیـو کـې یـم
راځـیـنـې ســـاز کـړلـو غـزل غـمـونـو

ســتا د کرم وعدې په اور پســې شــه
ژونـدونـه زړه مې کړو جلبـل غمونو

دا د تلقین قاصــدان چېرته ناســت وو
چــې ورانــولــو مــې ګــوګــل غــمــونــو

لـکـه غـبـار پـه سر راخســــتـې یمـه
د خپـل دلبر د خپـل پـاګـل غمونو

اشــــنـا مـې څـه مســـافـرۍ وخـوړو
او څـه مـې وخـوړ د کـاکـل غـمـونـو

وه شــمائله مې په ځنګ کې ناســته
او پـرهـرونـه مـې ســــپـړل غـمـونـو

## غزل

جـام او جنون اور پســـې کـه، راکـه لاس
مۍ او میګون اور پســـې کـه، راکـه لاس

زړه احســـاس مې ونیســـه پـه غېږه کې
شـــور د بېرون اور پســـې کـه، راکـه لاس

جنـګ د ســـترګو جوړ کـه لـه آهونو نـه
رنـګ د بېلتون اور پســـې کـه، راکـه لاس

یـه لـحـده یـه مـرګـیـه وامـې خـلـه
غم مې د یون اور پســـې کـه، راکـه لاس

لاش د پـاتـې شـــوې کـېـږدۍ مـه ژاړه
کـډه د شـــپون اور پســـې کـه، راکـه لاس

ویـره دلـبر هـم دربـانـدې تـېـر شـــولـو
اوس خو هارمون اور پســـې که، راکه لاس

ســـترګـې دې ولـې د شـــمائـلـې کـړې
شـــعر د جون اور پســـې کـه، راکـه لاس

# د نظم برخه

**په تحقیر زما د ذات**

داسې عشق غواړي زما د جانان ورکه
لکه غواړي حزقي ایل د لبنان ورکه
شوه له مانه استانه د ریحان ورکه
پسې ګرځم په زمین او اسمان ورکه
په ځیګر دې اواره شومه جان ورکه
ما راونغاړه زما په ارمان ورکه

له مودو نه مې قرار او سکون نشته
مشتري مې د دیار او افسون نشته
دا جوټه د بت جوټه ده بدلون نشته
مګر عمر تېروو، خو ژوندون نشته
کمترۍ دې ځورولې یو په سل یم
د شونډې غونډې پرېوتې په بورجل یم

نه اشنا د زندګۍ سهارې راکړې
نه همسا له عشقه ډکې پیالې راکړې
نه ادم زما د غم حوالې راکړې
نه یونا د خپل تقدیر سیارې راکړې
په تحقیر زما د ذات د ګواهانو
سلیمان خبرې زده کړې د مارغانو

**لاروی**

زه د ژوند د لارې هغه لاروی یم
چې تمثیل مې نه وختونه، نه کولی اذیت شي
نه د وران وطن د کونډو، یتیمانو په تصویر کې
دومره درد دومره فغان شته
چې زما دا سل کلن تاریخ په څو پېړیو وروسته
بیا تازه کړي، بیا راواخلي

نه مې باب د حیرانۍ چا ته معلوم دی
نه دا سترګې سکندر ابِ حیات ته
رسېدای شي لکه خضر د نبیانو
نه دا ملک د قفقاز زما له سایه
جلا ګرځي، که جلي او جلیا ګرځي

نه یونا د ذلالت کښتۍ کې ناست دی
نه زما د تباهۍ امواج بې هېڅه
د تاراج د سمندر په سر ګډېږي
نه مې قام لره د زړه بابل په یاد دی
نه مهی زما له ضعفه خبردار دی

نه دا بل عیسی چې زانګي په ټالونو

نه داوود چې ناشکري کا له خوبونو
نه يحيا چې غلامي د اسرائيل کا
نه موسی چې کله شرک کله خطا کا
د تېغون غوندې حملې مې په ګائيل کا

زه د ژوند د لارې هغه لاروی يم
چې کعبې راپسې ګرځي د رنګونو
کمتری مې نهادونه لړزولي
بسطامي مې په ليلام د کالو ګرځي
شکرګنج لکه زړوکی په زيارت کې
وچ شو، وسولو لمرونو هواګانو
بهلي شاه مې لکه خس په سقرونو
د يوې يوې خبرې په ارمان لاړ

## کاش

ستا له غمه لور په لوري ذېل بندي یم
د شهۍ په شانې داغ په خپل تندي یم
نه مې خوب، نه مې ارام، نه مې سکون شته
لکه عین چې له سروره سوگندي یم
گرېوان ځیرې په ناله کې گرځومه
په تاراق کې په ژړا د خندني یم
زړه مې خم د تورو وینو دی نیولی
له ژوندونه زاره چاودې کفراني یم
څه به وایم چې څه وایم، څه به وایم
چې سېرابه په خپل خون لکه مهیندي یم
دوړېدلې په صحرا لکه شجر وای
کاش چې لنډ مې دا منزل او دا سفر وای
د تالان غوندې برهم لره پیدا یم
ستا په وېره دنیا غم لره پیدا یم
چې مې آب لیلاموي د تورو سترگو
هغه عشق هغه صنم لره پیدا یم
هر اگر مې په درو وهي نازونه
د جرړیو زېر و بم لره پیدا یم
تقسیم ټول زما له رنگه مشتري دی
هرې ساندې هر آلم لره پیدا یم

کمسنۍ مې په جنون ویرونه وکړل
د حساب کتاب سرگم لره پیدا یم
چې نه سترې وای نه څوک رانه خبر وای
کاش چې لنډ مې دا منزل او دا سفر وای

**ټرائلې**

ما پسې نارې وهي
ستا په تصويرونو کې
ما نه ضايع شوی زړه
ستورو ته ښېرې کوي
لارو کې ذرې – ذرې
ما نه ضايع شوی زړه
ژوند غواړي مستي غواړي
تا پسې سلګۍ وهي
ستا د شونډو رنګ پسې
بندې دروازې وهي
ستا په تصويرونو کې
ما نه ضايع شوی زړه

## له دې کمه ژوندانه

لا تر اوسه په افسون یم، له دې کمه ژوندانه
سوی زړه لکه نیلون یم، ژاړم سر په زنګانه

لکه وران چې مې تعمیر وي، پاتې تور لکه بابل
او پرتې مې په تصویر وي، تورې شګې د ساحل
راچاپېر مې په مسیر وي، شړل شوي ابابیل
لالهانده باډیوه کړم، ستا د سترګو بېلتانه
زنځیرونه مې پراته دي په جوټه په لړمانه

زه له هغه غمه ژاړم، چې یې نشته تصور
هغه رنګ او رخسار غواړم، چې پراته دي په سقر
ښاخ د هغه شجر داړم، چې ترې جوړ مې دی منبر
هغه مزی لنډومه، د یادونو په یا نه
چې تاو شوی لکه لام دی، خور د مستې په بانه

غم د هغې بقا نه کړم، چې پرته مې ده په تن
نه د هغه هوس رنګ یم، چې تاراج یې کړو وطن
او نه هغه برنډۍ یم، چې به رد کړم انجمن
ستا خندا سره رایاد شي، هغه ویر هغه مانه
هغه سترګې آتشینې، هغه غشي څنګزانه

## آئینه

لکه پړق د آئینې مې
شو د مل او سنبل رنګ
په خرابې اشیانې مې
شو زرغون د غزل رنګ
لکه تور د باچاهانو، نازنین او ناز پرور شوم
لکه ویر د دل فروشو، د جومات او د ممبر شوم
حاسدانو دور ګوهر کړم، د غرض په دریاهونو
فرېبانو لاله‌زار کړم، د ساده محبتونو
آئینو کې مې بدل کړو، سریندو مکمل رنګ
د جل رنګ، د سراب رنګ
د صحرا رنګ، د محفل رنګ

هغو سترګو کې خدای وینم، چې یې نه پېژنم خواب
هغه زبرګې ښکلومه، چې اسرې دي د عذاب
هغو لارو کې وږمه شو، د قاصد او د لالي
چې تر ننه پکې سوځي، درختې سپاندې سپېلني
په صلیب باندې ټالۍ وهي زما د اوربل رنګ
د عشق رنګ د مستۍ رنګ
د مکان رنګ د محل رنګ

د آدم قصيدو کړمه، د شهرونو لېونی

دمادم کوم ويرونه، هر تصوير کې لکه نی

تور دودونه مې تاوېږي، له جسد نه پنهاني

په ګوګل کې مې شرنګېږي، زنځيرونه عقلاني

د شبنم څاڅکي کې ډوب شو، د زوړ شوي خلل رنګ

د تير رنګ، د آئين رنګ

د تصوير رنګ، د سنبل رنګ

## تسکين

ستا چشمان جوهري

او زلفان عنبري

ناز ادا مرمري

او باڼه خنجري

لبان هم شکري

رنګ دې هم بادامي

همګي يې صنم

همګي شاعري

نه قابل دي د مرګ، نه لايق د زوال

دا جمال او جلال او حسين خدوخال

د فلک موسيقي

د سمک پرستي

جانه ستا ناداني

لکه کرب، لکه ټال

ما به خوري، تا به خوري

دا مدهوش او فرقال

دا سوسن او اذيت او ګلان عنطري

دا عروج د بهمن او چيتې سرسري

ما ته وايي صنم

راته ستايي ردم

د دم ختي عالم

او د سوي مرهم

دا نارې د فانوس، د هنر او کمال

لکه زړه د طاوس، لکه خم لکه خيال

ما نه وړي شاعري

او تسکين دفتري

**غندل**

بې له عشقه ژوندون څه وي؟
بې مطلبه حیراني
د قضا د سپي لکۍ ته
وړل کمڅۍ دي د لالي

د فنا په تصور کې
خپل تصویر خاورې کول دي
په لاله په صنوبر کې
له تقدیره تښتېدل دي

همګي پرستارونه
په ماتم ادا کول دي
سهېلۍ او سهارونه
له خپل حاله خبرول دي

بت مزاجو استانو نه
د حساب کتاب ناسور ته
فرزانو او پروانو نه
د ریا د ښار مزدور ته
انایي سجدې ستایل دي

د خوبونو په سرور کې
په عیسی پسې ختل دي

د شهلا د سترګو نور کې
غرونه – غرونه غم شیندل دي
د موسی په کوهِ طور کې
د ذلت غنم شیندل دي

بې له عشقه ژوندون څه وي؟
د ریشي او مرتشیانو
په خبرو تېروتل دي
د هوس له درمسال نه
د کعبې د مخ غندل دي

**تغافل**

څه خبرې مې په زړه کې
له مودو راسې تاوېږي
څوروي مې په لمانځه کې
او ساګانې مې ډوبېږي

څه خبرې مې په زړه کې
لکه نجونې له مستۍ نه بنګړي مات کړي
په راغونو، په لاله کې
د نازونو تندي مات کړي
همګي پسرلي تېر کړي له سقره
د مريم اوښکې مې توی شي له ځيګره

څه خبرې مې په زړه کې
لکه سترګې چې رنځېږي له غباره
د غمونو په کاله کې
اضطراب د نصيب واخلي له سيتاره
په ميره او په هاله کې
ځيګرخونې وي له ياره

څه خبرې مې په زړه کې

د ناسور په دود پرتې دي
يوه ورځ به مې ګرداب د زړګي مات کړي
د اشنا د تغافل په استانه کې

## احساس

نن مې د زړه احساس عجیبه شانته
خوروي زړه په ګلابونو باندې
په ورانو شوو لحدونو باندې
په هېرو شوو تاریخونو باندې
ما په خپل ځان پسې راکاږي په اورونو باندې
په دوزخونو باندې

نن مې د زړه احساس عجیبه شانته
کوي فرار د زندګۍ له رنګه
له هره شوره او له هره شرنګه
که د حرم ژړا ده او که د دیر واوېلا
زما تندي باندې داغونه د کفران جوړوي
زما جذبې سړوي
د بېهودۍ او د جنون په هغو ورانو خونو
هغو پرېشانو خونو
چې لا تر ننه ترې اواز د بنیادم نه راځي

نن مې د زړه احساس عجیبه شانته
په هغو پاڼو باندې اور لګوي
له کومو پاڼو نه چې ستا د عشق الهام اخلمه

مستي او جام اخلمه

سوي لوحونه مې ولاړ د ګرېوانه دي پکې

دل مې مازغه دي پکې

را لړزوي مې په سيليو نرګسي خوبونه

او ورېښماني غمونه

نن مې د زړه احساس عجبيه شانته

ستا د خاطر په مظهرونو باندې

په ښارييو په دريابونو باندې

زما ليکلي نوم ته اور ورکوي

زړه ته مې زور ورکوي

چې زه په څه د خپل حيثيت له دايرې وتې يم

له پيمانې وتې يم

ازل مې وشيندلو غم له سروکاره سره

له هر دياره سره

ما خپل ځيګر هم په رنګونو کې ليدلی نشي

هېڅ مې زغملی نشي

دې ليلام ګر کې به مضطورې تماشې کومه

څه به ګيلې کومه

له هغو خلکو نه چې رنګ د خلقت نه پېژني

محبت نه پېژني

نن مې د زړه احساس عجيبه شانته

د جاسمین سترګې بلوي په لحدونو باندې

په تقدیرونو باندې

## انکار

هو ما انکار کړی و
له هغه ژونده چې په سرو وینو مې رنګ لیدلی
په سرابونو کې و
په ګلابونو کې و
هر هغه څه کې و، چې ما یې تماشه نه غوښته
که په جامونو کې و
که په نازونو کې
که غوربتونو، جحیمونو او ښهرونو کې و

هو ما انکار کړی و

له هغه یاره، چې یاري یې له غرض ډکه وه
اورورکي یې بل و
په اداګانو، په خندا او خوش امدو باندې
او بدلېدې یې سترګې
د ژوند په هر سنګر او هر ډګر کې
هم یې جوڼې لکه سهره د سوقیاناو خلکو
زرپرستۍ پسې تندي ماتول
هم یې ځړوکي ښيرول
هم یې بنګړي ماتول

هو ما انکار کړی و

له هغه ځانه چې په ما به ګواهي ورکوي
او د ذرې – ذرې حساب به غواړي
لکه حباب چې لېونی شي د آئين په زړه کې
هغه محشر راپورې وخندوي
هغه چې زه يې ژړول غواړمه
خاورې کول غواړمه
په هغو سترګو او په هغو رخشانونو باندې
ما د الزام پشانې
د قتل عام پشانې
داسې تسخير کړي چې له غمه به مې تور شي ځيګر
لکه عاصي مازيګر
هو ما انکار کړی و
له هغه بخته چې په ما يې هغه کار کړی و
کوم چې زما د زغم او توان له دايرې بهر و
له جزيرې بهر و
لمحې يې واړه پرېشانې کړې زما په ساندو
د انتها په ساندو
لکه سيلۍ يې په دښتونو ګرځولې ومه

**انتخاب**

ما چې اظهار د محبت ورته
غزل کې وکړو
هغه په تراړو شونډو وويل
چې ښه انتخاب
لږ مې راکم شولو د سترګو نم
د زړه اضطراب
په ويرانو باندې مې زېرى
په محل کې وکړو

يو لادوا طبيب مې راغى
د مستۍ هجوم ته
زما نصيب يې و ورکړى
لېوني ماشوم ته
چې سر تر پايه يې لړلى و
په غم او عذاب
فرياد مې ځکه د نامرادو
په محفل کې وکړو

سرتورې ځمې وم ولاړه

د بازار په منځ کې
د خپل دیار په منځ کې
خپله غوغا مې خرڅوله
په نرگس او گلاب
د اذیت په سراب
د تیر گوزار مې په ځیگر په
محرم کې وکړو
ځان ته مې ځای د توپانونو
په منزل کې وکړو

## مازیگر

هغو سترګو ته کتل مې عادت شوي
رغیده مې د جنون ورځینې نشي
ثوابي روژې نیول مې عادت شوي
تېروم په نازک زړه د تېغون غشي

د ناصح د مسلو کتاب مې زوړ کړو
خو زما پر مخ هماغسې رنګونه
زما سترې حیرانۍ نه چاپېر ناست دي
لکه ناسته وي په خیال کې ځیګر خونه
زړه ته دوک ستا د فراق له اور کدو نه
ورکوم ستا د جاري ظلمت په تل کې
تېپرس مې په کمڅیو کې ټومبلی
د لاله ګل مې نیولی په منګل کې

مازیګر زما له رنګه سبق اخلي
په ژړا مې په ناله کړې بازیګرې
انحصار مې د خپل عمر داسې سر کړو
لکه عمر د بې څوکه نڅاګرې

## سرگم

لړ مې واخله د زړه غم
چې دردونه مې شي کم
ظلمتونه د عالم
په سر وړمه پېچ و خم
عشق زما د ذات په يم
چارې وکړې د آدم
راته مخ شو د صنم
په عدن ولاړ غنم
اندوخته يم په خپل نم
لکه پاڼه په شبنم
يه زما د زړه درزا
څه خو درېغه له فنا
خمارې سترګې زما
لاهو شوې په دريا
رانغاړلې يم سودا
سمندر لکه يونا
لکه پاڼه د حنا
هېڅ مې نشته خونبها
د بې لوظو په درګاه
سومنات کړمه سرګم

**زلفې**

ما د زړه په ارمانونو دفن پرېږده
په ژړا مې په وران شوي ختن پرېږده
د خپل مخ د امن شمعې پکې مړې که
زړه مې تور لکه بې امنه وطن پرېږده
رنګ مې وباسه د هر ګلاب له مخه
هره سرای کې راته تان د کفن پرېږده
سهارې مې دي ولاړې سرنګونې
څو به ژاړمه په غم لتاړې خونې
راوربېري مې د زړه په کچکول کاڼې
لکه اوري د مارانو په شپول کاڼې
ستا له ډېرو بېغوريو نه شبنمه
را زرغون شو په سوسن او غاټول کاڼې
تصوير چېرته برابر دی له احساسه
پوره نه خېژي د زړونو په تول کاڼې
هسې خلک هوسېږي يو له بله
د ياريو تمه نشته له محله
ما د غم هندوې پرېښوې په ګنګا کې
د تذليل کښتۍ مې ډوبې کړې دريا کې
چې زما په تحفظ به وې ولاړې
اوس ولاړې دي سرتورې په صحرا کې

قاصدان راپسې ګرځي په وادیو
زما زلفې ورانې کړې دي چینجیو

## گواهي

هغه سراب، هغه بورجل هغه صحرا هم ته يې
دا چې څوک ته نه يې په تا قسم دی دا هم ته يې

د سنګ دلانو د سماج خونريزي هم پېژنم
په لحدونو کې پرته خاموشي هم پېژنم
د کونډو رنډو د کاله په غوغا هم پوهېږم
د ګلرخسارو د زيارت په ژړا هم پوهېږم
دا انحصار د ادم صرف انحصار خو نه دی
پاتې کېدونکی ديار هم صرف ديار خو نه دی
زما په کور باندې راګډه کربلا هم ته يې
د شهيدانو سر ته ناسته واوېلا هم ته يې

د کمترۍ احساس کې هم ستا بېغوري وينمه
د زندګۍ وسواس کې هم ستا بې رحمي وينمه
په نړېدليو تعميرونو کې هم ستا رنګ دی
په ماتو شوو فانوسونو کې هم ستا رنګ دی
د سريندو په ګنګوسيو کې هم تا وينمه
په ماتمونو په جړيو کې هم تا وينمه
چې درنه ځم په زړه پرهر، هغه دنيا هم ته يې
چې رژوي مې تصور هغه فنا هم ته يې

## د «هاړ» کودی

زما بخت د هاړ کودی دی
په لېمو کې مې گل شوی
لکه واوره په گداز یم
دا خاورین گلاب په ما کې
د ژوند هغه ریښې ریبي
چې سیراب مې پرې فلک د درد او غم دی
په وعدو پسې وعدې دي چې یې اورم
دوړوي مې دا خاورین گلاب له سرایه
خو زما د کړاوونو سبب څه دی؟
دا کودی دومره سنگین دی؟
چې یې نه د زړه ناله کې پسرلی شي ماتولی
نه یې کاڼي په بابل کې، نه یې خدای شي ماتولی
بس جاري راباندې کسب د سما دی
چې تر څو مې تصور وي، دا تصویر به پکې پروت وي
گېښي ماته سرینده هم، دا تندی شي ماتولی
خمیده غوندې لینده هم، دا کودی شي ماتولی

**ازاد مقفی**

## **راشه**

راشه راشه تماشې ته

ای د تورو سترګو واله

تور حاسد د عشق دې راوړم

جهنم نومې یو ځای ته

ستا د مینې د سندرو

ستا د خط د یادولو

په بدل یې راته راکړو

ډک یو جام د وینو زوو

راشه راشه تماشې ته

ایوازانه یم له ژبې

د سکروټو سره پیزار مې

خوټوي مازغه په سر کې

تشبیه یې له مردارې سره راکړه

ستا د عشق د بینازۍ په مازیګر کې

مرور رانه روان دی

ځوک نبي نومې غمخوار مې

د کوثر په غاړه برند برند راته ګوري

سوزوي د عشق اوزار مې

ادم شنې جامې په غاړه

لاندې ناست د عرش تر سوري

مانه تاو ماران د اور دي

دای بې حسه راته ګوري

## سندره

### ماښام

یاره یارۍ نه دې ولاړه لاس په نام یمه

په سر د بام یمه، سکڼې ماښام دی

یاره یاري کوې ته، که جواري کوې ته

زما په پاکه مینه، سوداګري کوې ته

زه له داهسې عشقه دریغه سر انجام یمه

نه مې څوک اړوي باب، نه مې څوک راخلي کتاب

راباندې تېرې شولې ډېرې سدۍ په شتاب

لکه داستان د شیرینۍ په اختتام یمه

هرخواه دامونه خواره، هم فرېبونه خواره

وینم په هره لاره، دا تناوونه خواره

اوس له دې حاله چېرته ډار او چېرته پام یمه

نه یې څوک اوري فریاد، نه یې معلوم دی هیواد

دې شمائلې ته دې، داسې ورشوی فساد

له مودو بنده ــ په قلا کې د بهرام یمه

## تعویذ

ځم دېوانه بابا ته ځمه، تعویذ راوړمه
او لېونۍ دې کړمه صنمه، تعویذ راوړمه

تل په سوچونو کې یم، په شکمونو کې یم
ځان رانه هېر دی والله، ستا په خیالونو کې یم
زه دې له هر څه وویستمه، تعویذ راوړمه

پرېوتم پرېوتمه، زه د مستۍ له برمه
زه د مستۍ له برمه هم د سیالۍ له برمه
په لاره ځم ګوتې شمارمه، تعویذ راوړمه

په یوه هم نکېږي، ستا خپلېده جانانه
ما سره نلرې ته، مینه د زړه جانانه
نور درنه ځان راټولومه، تعویذ راوړمه

ستا د نکریزو په شپه، په سوچ کې ناسته یمه
لکه د هجر ډیوه، په سوچ کې ناسته یمه
زړه کې کرمه څه ریبمه، تعویذ راوړمه

په لنډو نشوه کنه، رنځوري ختمه زما
شوه شمائلې مې لا، مایوسي نوره سِوا
اوس په اوږدو لارو ورځمه، تعویذ راوړمه

## زړه

خدایه هغه زړه مې تنګ شو

چې یو بحر د مستۍ و

یو جهان د بې غمۍ و

یو داستان د عاشقۍ و

چې تشبیه به یې بغیر له سمندره بل څه نه و

یا یو وېړ اسمان د ستورو

یا یو مست مکان د ستورو

خدایه هغه زړه مې تنګ شو

اوس یې کوم لوري ته یوسم

د فرېب له شور و شره

د غرور له سپین مجمره

د غمونو شکمونو له محشره

په حساب یې نه پوهېږم

حرکتونه یې ناڅاپه نا اشنا شول

کله وایي خودکشي کومه ځمه

د یو دنګ غره سر ته خېژم

کله وایي طلاطم د سمندر ښه

چې مې واخلي د حباب په څېر له ژونده

کله وایي ځان په اور د خلیل سوزم

عجیبه ناشودني یې شوو خیالونه

کله چف کم پرې کرسي او ایاتونه

کله مخ لره یې نیسم پلوونه

خدایه هغه زړه مې تنګ شو

چې ټول ستا له نوره ډک و

اوس راخور پرې ګرد غبار د زمانې دی

په هر تاخ کې یې حاسد او رقیب ناست دی

تل له ځانه د فرار لټوي لارې

د نېزې په سر وهي د لاس ورغوی

د سلهاوو تنهاییو منځ کې ناست دی

وایي زه خو دې ته نه یم پیدا شوی

## بېنوا

بېنوا شومه زه

چې شيدا شومه زه

ستا د مخ په جلوو په رڼا

نه مې خوب نه ارام شته په مینه کې ستا

نه مې کور نه مکان شته، تالا شوم تالا

یک تنها شومه زه

چې شيدا شومه زه

سمندر مې راکاږي د خيال سفينې

ماتوي مې قاصد د جمال آئینې

بې بها شومه زه

چې شيدا شومه زه

رانه ورک کلی کور دی د ژوند او سکون

وي زما به ترڅو پرون نن، نن پرون

مبتلا شومه زه

چې شيدا شومه زه

نه مې رزق د کور، نه تېرېږي اوبه

په کفران باندې سر کړمه، ستا بېلتانه
کبریا شومه زه
چې شیدا شومه زه

په بازار د ژوندون، بې مجال خو به یې
شمائله دې بایله، فرقال خو به یې
بې پنا شومه زه
چې فنا شومه زه
ستا د مخ په جلوو په رڼا

## وخت

د ګلرنګ له پرېشانۍ نه

د صحرا له حیرانۍ نه

د غاټولو له محفله

د بې کسو له اوربله

د صنم له ودانۍ نه

چې څه اورم اذیت دی

چې څه وینم مذمت دی

د دنیا له خیر خواهۍ نه

د آئین له مکارۍ نه

د هر رنګ هرې څانګې نه

د رنګونو د نازک منافقت ژبه جاري شوه

په نزول مې معماري شوه

د نیمګړو او نیمګورو حسرتونو

برمه چې مې په خالونو

تماشه د خرقه پوشو اودرولې

جماد زړه مې هسې عشق لره تالان شو

لکه ستونې چې څوک وباسي له نۍ نه

د هجوم له ساډوبۍ نه

د دربار له قوالۍ نه

د سنګر له ملالۍ نه

هر رانجه او سیاهی نه
د فقیر له کم سیالی نه
د امیر ژوند او خانی نه
کوم سرور چې ددې دهر په رګونو کې چلېږي
د سقر د کنارو هغه نسیم دی
چې ناسور یې مزدوري کا له وختونو
ژوند شدت دی، هغه غم هغه حسرت دی
چې مدام د بني نوع په وینو سره لاسونه ګرځي
اذیت دی، هغه کرب او اذیت دی
چې دا پورته په اعراف ولاړ وګړي
ټول دوزخ د فرعون غواړي نه دا عمر
چې سل ژبې سل لهجې یې دي په خوله کې
مهارت دی، د ښار هغه مهارت دی
چې پښتون مې ګرځوي په پوټپاټونو

**سانده**

د سحرگه نسیمه، وطن مې وران شو
باغوان مې ووژل شو، چمن مې وران شو

دا د تکفیر خادمان، د انسانیت قاتلان
هیڅ ښېپه نیولي نه دي، د چا په سود او په زیان
څه دي احساس دی د زړه، څه دې خطبه او بیان

د تباهۍ اتله، مسکن مې وران شو
باغوان مې ووژل شو، چمن مې وران شو

د هر غاټول په زنه، داغ د تکفین ولاړ دی
لت پت په خپلو وینو، هر یو حسین ولاړ دی
په زولنو کې مې بند، لاج او یقین ولاړ دی

بازار مې ونړېده، دامن مې وران شو
باغوان مې ووژل شو، چمن مې وران شو

د دې لوټ شوي وطن، په تقدیر ویر پکار دی
دې په تاراج ولاړ ته، ژوند او تعمیر پکار دی
د دې روان فرعونیت، باب او تشهیر پکار دی

قصور يې نه دی معلوم، ګلشن مې وران شو
باغوان مې ووژل شو، چمن مې وران شو

د شمائلې آرزو، شوه په قرنونو زړه
د جهنم دا حصه، له اوره نه شوه سړه
دا د ګوندونو جګړه، دا د حزبونو جګړه

له مانه څه غواړي نور، هر فن مې وران شو
باغوان مې ووژل شو، چمن مې وران شو

**مذاهب**

یو له یو ګنبده لاندې
بل د بل ساحل په غاړه
د اوږدو اوږدو تسبو په زنځیرونو
زنځیري د هغو خلکو ایمانونه
چې خندان دي هم په ښهر هم په شاړه
پنجپیری د خپل تهذیب قصیدې وایي
بربلی د خپل پټکي په قیصو سترړی
لوټوي د ساده رویو ایمانونه
مرمت د یو منسوخ داستان شروع دی
له خسیو سازنده بویه قامونه
ژوند د دې فرقه بندۍ له برکته
هر ګلشن کمین کمین سنګر سنګر کړو
د دې خلاصو او کاذبو کتابونو
مشتریان اورورکي د جهانهٔ دي
مجنونان د تابتونو د کانهٔ دي
میراثیان د استحسان د ارګانهٔ دي
مذاهب لېوني شوي ښتانه دي

**اشوب**

کربلا راغله په وطن زما
سیلاب راوخوت په مسکن زما
له تېغه تېر شو هر ريبار او یار
په وينو سور شو هر مِلن زما
زما د قام په هديرو بدل شول
ننگ او سنگر ښار و دامن زما
د قاتلانو په لښکرو کې پټ
پسرلي تېر شول په چمن زما
ستا د ستم اشوب ثاني ده پکې
ځکر عقيق دی د يمن زما
د کرايې کنډر ته پاتې شومه
څه په دادن په گرفتن زما
زما تقدير نشو زما تصوير
زما وطن نشو عدن زما

له خپل وطنه په سلگو راغلم
د تورو غرونو په سرو راغلم
لکه ارواح د قتل شوي ژوندون
د خپلو وينو په ولو راغلم
زما ولس درنه په اور ولاړ و

چې دې خیبره په درو راغلم
د جانان ننښې رانه پاتې شولې
په بوړنېدونکو تروړمو راغلم
ته په شرنګار د پانزېبو راغلې
زه په شرنګار د زولنو راغلم

د اشیانې دروازې مه بندوه
تیرونه ښخ دي په ګردن زما
د کومې شمعې په نصیب مې شپه ده
پروانې خاندي په سوزن زما
سرارسر ویر دی سراسر غمونه
څومره طویل شو زنکدن زما

**بگتی**

نه مې پوښتنې ته راځې نه مې سلام کوې
سېل مې د انجام کوې ناترسه ياره

بنګړي مې ټول په وينو سره دي
پاړکي مې مات د سوي زړه دي
ولاړ مې سر ته پښتانه دي
ما په چړو حلالوي او ته ارام کوې
سېل مې د انجام کوې ناترسه ياره

ګل او ګلزار دې کړلې لارې
لا دې شروع کړې بدې چارې
زما يارۍ زما نګارې
زما د سر د قاتلانو اهتمام کوې
سېل مې د انجام کوې ناترسه ياره

د مازيګر سوزنده سازه
زما د سوي زړه اغازه
د طاعوني دور غمازه
ناشونې چارې مې په زړه باندې مدام کوې
سېل مې د انجام کوې ناترسه ياره

چې شمائله پکې ستا وه
چې زندګي پکې رڼا وه
چې عاشقي پکې دعا وه
ته په هغو سترګو پرچار د قتلِ عام کوې
سېل مې د انجام کوې ناترسه یاره

## مازیګری دی

او وارخطا ولاړه یمه
یار مې بند په زولنو بیایي
مازیګری دی

زړه مې نري درزونه وکړل
غم مې په سر تاختونه وکړل
شونډو مې سره پاړونه وکړل
روح مې لمبې وکړې له غمه
یار مې بند په زولنو بیایي
مازیګری دی

څوک مې له حاله خبر نشو
هیڅ مې راټول په ځیګر نشو
وران مې په اوښکو خیبر نشو
وجود مې سوزي لکه شمعه
یار مې بند په زولنو بیایي
مازیګری دی

مسلماني په چا کې نشته

هیڅوک مې هم په خواه کې نشته
ځای مې په دې دنیا کې نشته
زړه به په چا پورې تړمه
یار مې بند په زولنو بیایي
مازدیگری دی

د شمائلې ژوند دې خوار کړو
ټول دې تمام په انتظار کړو
ورته ناسور دې هر دیار کړو
د زمانې جورو ستمه
یار مې بند په زولنو بیایي
مازیگری دی

## کَړه بند

هيڅ مې نه راځي په خيال او په نظر يار
تصور مې شو تصوير د بتخانې
آئينې مې کړلې ماتې د پرهر يار
بې بها مې شوې د سترګو نذرانې

لېونۍ شوم د وختونو له ستمه
چار چاپېره رانه تاوې سرې لمبې دي
سرې هالې مې دواړه سترګې شوې له نمه
پورې کړې مې په ځان پسې تمبې دي
زړه مې سور په وينو راوړو له همدمه
او راماتې مې په چم باندې نارې دي
ببوسۍ مې کړو ملګرى د شمر يار
ټولوم د خپلو وينو پيمانې

لکه ما چې له تقدير ځينې حاصل کړو
قدر دومره و په عشق کې د ژوندو
غم مې حسن قلندر د تور ساحل کړو
څوک يې نه کوي باور په سوګندو
رقابت مې يار د خپل نظر قائل کړو

چې تېرې شوې زما په مړوندو
سور لحد کړلو زما د خوب بستر یار
همنشینو مې لیلام کړلې ګاڼې

## زنځيرۍ

تلوسې مې ژاړي ستا د مينې رنګ رنګ رنګ
سوی زړه مې غواړي ستا د سترګو جنګ جنګ جنګ
بې لتانه يو ساعت وي په ما کال کال کال
ژوند پشان د لېونو وي زما کال کال کال
درته ښارمه رونق د صباه کال کال کال
ته زما له مخه ولې کوې ښنګ ښنګ ښنګ

دا په څه راځينې مخ اړوې بار بار بار
چې زما په منت زړه سړوې بار بار بار
وداني مې د حسرت نړوې بار بار بار
داپه څه شوې ربښم ذاته په زړه سنګ سنګ سنګ

نن مې وسېزلو ګل د روخسار يار يار يار
هم دې راغلمه سوالي په ديار يار يار يار
نور مې ولې عبث اخلې ازار يار يار يار
محلونه مې تالا شوو د زړه دنګ دنګ دنګ

*

د ژوند هر دهر مې په غم دی
په زړه ایره ایره یم
په سرو لمبو مې هر قدم دی

څه بې سروره بې جانانه ماښامونه دي
سترګو کې اوښکې دي په زړه کې حسرتونه دي
خفه ولاړ رانه د مینې امېدونه دي
خاورې کېدو ته مې نږدې همه خوبونه دي
راشه په ما باندې ماتم دی
په زړه ایره ایره یم
په سرو لمبو مې هر قدم دی

ما نه د زړه د رغېدو خبرې پاتې دي
تورې ولې مې په ځګر باندې راماتې دي
چې اشیانې مې وې هغه کوڅې میراتې دي
عشقه د هر یو کتاب پاڼې دې راکاتې دي
ډنډ مې ولاړ سترګو کې نم دی
په زړه ایره ایره یم
په سرو لمبو مې هم قدم دی
خونې د ژوند مې چې په چا باندې ودانې دي
هغه لېمې بې اعتماده دي نادانې دي

د رنګ پرستو نېلامونو ته رواني دي
بې قدره کړې يې اوس خپلې اداګانې دي
بخت مې ځړوکی د رېښم دی
په زړه ايره ايره يم
په سرو لمبو مې هر قدم دی

غمونو بند په بند تړلې په زنځير يمه
سودايي کړې خپل احساس او خپل تشهير يمه
عادتي شوې شمائلې په تحقير يمه
په تماشه د خپل تقدير د خپل تصوير يمه
مازيګری د محرم دی
په زړه ايره ايره يم
په سرو لمبو مې هر قدم دی

## امتياز

زه د هاغه نهنګ خوله کې، چې په خيال خاطر کې هم د يونس نه و
زه د هغه کوهي تل کې، چې يوسف چرته په خوب ليدلی نه دی
زما زخم د نرګس د وينې هاغه حشرات دي زېږولي
چې يعقوب يې لا تر اوسه له يو بابه خبر ندی
زه په هغه هندومت کې، چې ويشتلی دی بوديزم تل په کاڼو
زه په هغو صليبونو، چې مسکی پرې د عيسی د وينو رنګ دی
زه په هغه ويترو ويد، په جوجر ويد او په رګويد کې
چې ګويا دی په هر باب کې، چې خالق د همګي کائنات (يو دی)
رټل کېږم قتل کېږم حذف کېږم
خو له تانه د انکار تصور نه راولم زړه کې
ته په هاغه سمندر کې
چې موسی دې پکې تېر لکه سحر کړو
هاغه مست دريا يې نيل کې، چې مدهوش دی لا تر اوسه د عمر
له يوه خطه
د عقبا هغه اعراف کې، چې ژړا د يو حريص اورېدای نشې
د دوزخ په هغه اور کې، چې زما لپاره ندی
مګر زه پکې له ډېرې مودې سوزم خو زما د تماشې سلسله هغسې جاري ده
حاصل دا زما او ستا له امتيازه
چې زه هر څه کې تاوينم، خو بندي په استبداد دې ليدای نشم
مګر ته په هر مضراب کې ما لوټی شې، ته په هر يوه عذاب کې ماليدای شې

## مفروضې

رښتیا خو دا دي چې زما د عظمتونو بازار
زما د روح په اضطراب اباد دی
د تصور د رنځوریو بنفشي رنګونه
د لاله‌زار په توره ځمکه چاودېدلي زړونه
د ادمیت بې آبه شوې سترګې
او په قتلونو ساغر شوی حاصل شوی خمار
ماته احساس د برترۍ راکوي
زما په رګ رګ کې خواره د تکبر وهمونه
په دې زمین لکه اوتاد ولاړ دي
دا خو دروغ دي چې ما رکن د جمال ګڼې ثوک
ځکه چې ما له دې ظالم فلکه
او د انا په رنګ کې رنګ له دې وحشي انسانه
شام و دام زهر د احساس د کمترۍ څښلي دي
همګي عمر مې په خپل وجود ماتم کړی دی
د ستمونو هر خدنګ مې په ځګر خوړلی
د فریبونو هر خشنګ مې کڼاوې وړې دي
هرې سبلۍ مې تسمې کړي پستې زلفې د دار
رښیا خو دا دي چې زه دې دنیا ته نه راتلمه
که پوهه کړې چا په خپل حساسیت ومه زه
زه د دې دور له انسانه دومره ډار لرمه

هغه بازار چې ما جوړ کړی و د زړه له ساندو
هغه مې هم پرېښودو
اوس زه هغه بازار ته هم نه ځمه
اوس ما زما په نوم جوړ کړي بتان
په انسانانو مفروضې خرڅوي

**ربه**

ای د ټول کائنات ربه د بودا او منات ربه
د زاړه حرم پاسبانه د رانه سومنات ربه
دا وطن که درته ښکاري دا چې تور دی په لوګیو
دا چې وینې یې پرتې دي په نتکیو په پاڼولیو
دا به هم د چا وطن و دا به هم د چا چمن و
دا چې نجونې یې کړې کونډې د مرګونو بحالیو
دا وړې وړې نازکې چې بې قدره کړې جنګونو
دا چې غواړي خیراتونه د خیبر په بازارونو
دا به هم د چا اسرې وې دا به هم د چا لېمې وې
دا چې پت عزت یې داو شول د اسلام په دربارونو
ای د رنګ او مینې خانه ای د ژوند او حیات ربه
اورېدلې مې قصې وې ستا د عدل انصاف ډېرې
مګر دې د جبر دور رانه ټولې کړلې هېرې
هر خواه ویره او وحشت دی د نفاق فتنې خورې دي
د زخمونو فوارې دي د مرګونو نظارې دي
ته د عرش په کرسۍ ناست یې ګورې ځان ته آئینه کې
موږ د فرش په سور دوزخ کې موږ د بخت په سجینه کې
یا خو خوند درکوي تاته دا زموږ سوي زخمونه
یا چغار زمونږه ناورې یا دې زړه نشته سینه کې
ای په هر مرام ولاړه د ګهیتا او د لات ربه
د زاړه حرم پاسبانه د رانه سومنات ربه

**ارمان**

چې څوک یې په خازو ویرنه نکوي ارمان
هغه مې هم د حال پوښتنه نکوي ارمان
د دور انا زور شوه اوس نګار د زمانو
له چا سره په خواست ښیګڼه نکوي ارمان
سپوږمۍ غوندې داغلې یم خو ګرځم په بازار
یاري مې د اسمان لمنه نکوي ارمان

د ژوند د لټون لارو کې ستومانه شوم پري
په عشق کې فرسوده شومه زولانه شوم پري

هر ګل کړو رنګ بدل هر تصور شو بازاري
هم عشق شو د نامې هم مقدر شو بازاري
د مینې او وفا هر یو منظر شو بازاري
هم جام شولو بې خونده هم ساغر شو بازاري
زخمونه شول فرضي هم درمانګر شو بازاري
هم مینه شوه بې پته هم هنر شو بازاري

د ژوند د لټون لارو کې ستومانه شوم پري
په عشق کې فرسوده شومه زولانه شوم پري

اوس هغسې خفه نه وي زما په غم صنم
په ما پسې کوڅې نه ګوري دم په دم صنم
پرهر باندې مې مالګې دوړوي په خندېدن
وختونو ابرهه کړلو د دې حرم صنم
اوبه د منګي هم راځينې بولي په قصاص
د ګل پشان مې نه غواړي د سترګو نم صنم

د ژوند د لټون لارو کې ستومانه شوم پري
په عشق کې فرسوده شومه زولانه شوم پري

**اثاثې**

چا لره تصویر د خپل ارمان د صباه ووایم
څنگه قصیدې د محبت د رڼا ووایم
مانه خو د نور د پېژندلو چارې هیرې دي
کوم د ایرو څلي ته محفل د سماع ووایم
څنگه چاته ووایم چې رنگ دې رانه هېر شولو
دا د ورکې حال د غم په کومه صحرا ووایم

هغه زمرۍ سترگې رانه سر په هېرېدلو شوې
ستنې مې د زړه د منارو په نړېدلو شوې

راشه درمانگره خونړي مې ټول خوبونه شول
سوي زنځیرونه مې د غاړې امېلونه شول
گډ مې خیالات د رنځ او غم په دریابونو کې
ورک مې له نظره د سندرو مشالونه شول
داسې څه مې بایلل چې له زړه نه د وتو نه و
لاړل حسرتونه مې له نمه ناست قبرونه شول

هغه زمرۍ سترگې رانه سر په هېرېدلو شوې
ستنې مې د زړه د منارو په نړېدلو شوې

توری سیلۍ باد کړمه د کرب او جنون لارو کې
ستړې تنهايي شومه د زړه د چاودون لارو کې
خپلو ښایستونو پسې ګرځم نه یې مومه
غلو او غدوو لوټ کړمه د هر سباوون لارو کې
وخت زما د مینې اثاثې زما سندرې کړې
ورکه شاعري شوم د خپل مخ د مجنون لارو کې

هغه زمرۍ سترګې رانه سر په هېرېدلو شوې
ستنې مې د زړه د منارو په نړېدلو شوې

**لټون**

چې يې لافې د ياري او د وفا کړې
اوس مې نکوي په کال او سر پوښتنه
خد و خال يې رانه سر په هېرېدو شو
لکه روح ورپسې ووتم له تنه
د هابيل د ورور پشان شرين سخن و
تېر مې نکړو هغه يار له خپله سنه
ترخه زهر پسې څښمه د يادونو
گوندې رايې شي خوشبو له پيراهنه
د تقدير شمر په لاس په بره خېژم
څيروم د دې ظالم فلک لمنه
نه يې تور د تورو سترگو راپسې دی
نه يې تار راسره پاتې شو نه ستنه

عنکبوت يې چې مسيح و د بيمارو
پل مې کېښودو د عشق په هغو لارو

نن هغه سپوږمۍ نيولې تندرونو
چې رېبل به يې رڼا ته ما گلونه
هغه ستوری د اخوند په کاله پرېوت
چې راوړل به يې د مينې پيغامونه

نوح په ما پسې قدم د وفا ناخلي
کښاوو باندې يې ووهل مېخونه
سليمان هم ټول مارغان دي لمسولي
راته نه وايي د ورک لالي حالونه
مجنون هم ځان د تاريخ له پاڼو غايب کړو
له صحرا نه يې تورلي دي خاپونه
قطب هم د ځانځانۍ په رنځ اخته دی
په زهرا يې اچولي دي لاسونه

اوس پيران درپسې ګورم د مېرړيانو
او د نورو حشرو د اخوندانو

**گوریستان**

کاش چې زه او اشنا دواړه شو ورک
د جندي د سیند په غاړه شو ورک

چې مو نه پرېدي یو بل ته دستور
په سینو خو به مو لګي ناسور
چې مو لار بندوي د دین
خدایه مه کړې اباد دا وطن
د نفرت د تیارو دا ځنګل
د ګمان د سپېدو دا محل
خدای دې کړي په اورونو جلبل
په یو وران ګوریستان شه بدل
چې ترې خلاص شي چمن د وفا
پرې اباد شي وطن د وفا

کاش چې زه او اشنا دواړه شو ورک
د جندي د سیند په غاړه شو ورک

شو په مونږ دا وسیع جهان تنګ
وصالونو مو وبایلله رنګ
راپسې دي پیرې د حاسد

د واعظ د ملا او ذاهد
اورو توريې ناريې د وحشت
رانه تاو دي پنجرې د وحشت
نسيمونه مو هم د سحر
يو تر بله اوس نه وړي خبر
حيران کړي يو وېش د ازل
راتر غاړې دی سترې مزل

کاش چې زه او اشنا دواړه شو ورک
د جندي د سيند په غاړه شو ورک

دلته نشته زمونږ مسيحا
يو په لوی اذيت مبتلا
راته ناستې دي ساندې د عشق
ژوند مو غوڅې کړې مراندې د عشق
طلاطم کې د تور سمندر
رانه ورک دی د مينې ساغر
خونړی دی د عشق هر منظر
لا دوا مو دی هر يو پرهر
کړې مو شپې په ارمان کې صباه
چرته نشته درک د رڼا

کاش چې زه او اشنا دواړه شو ورک
د جندي د سیند په غاړه شو ورک

## فراهم

**(معشر)**

راشه راشه مسيحا

گرځم گرځم لادوا

يمه سر په واويلا

خوب مې نشته بې لتا

په عذاب يم مبتلا

هر که گرځم په بېديا

زړه گوښه لکه بهودا

لازياتېږي مې سودا

خورم قسم درته په دا

په ياسين او په طه

مين زړه مې دی دردمن

کړي فرياد لکه کوهکن

ستا د مخ دی آرزومن

سوی زړه سوی بدن

پر واټونو د يمـن

شو ليلام لکـــه کندن*

يم د هجر په آنگن

آواره لکه دکـن

افسرده دی ټول وطن
نشته سیوری د صباه

ستا د تور فراق په غم
کل جهان ګڼه مدغم
سرېندې د ځوانۍ هم
دي لاهو د وير په يم
موسيقار د مستۍ هم
برده ګوئ دی ستا د نم
بند د هغه په آلم
چې نه بت دی نه صنم
دا زما زړه فراهم
پسې ګرځي مهيا

**تضادات**

دلته ټول له یوه بله په عذاب دي
که ابلیس و له ادمه په ګریان و
که هابل و له قابله پرېشان و
عیسی هم له اسرائیله روګردان و
یوسف هم له سکه ورونو سرګردان و
صحرا هم وه د مجنون د وینو تږې
غرونو هم لوبې په سر د فرهاد وکړې
مومن خان هم محبت کې د شیرنې
د ظفر د تېغ ګوزار لره سر کېښود
حوا هم چې تر پوښتۍ د کوم ادم وه
په هغه ادم یې پورې کړل تورونه
یونس هم بېړۍ تر خولې د نهنګ یووړ
الهی هم مرور دی له موسی نه
میندې هم په دعاګانو پښېمانې
خویندې هم له خپلو ورونو نه بېزارې
اذر هم منکر له هغه ابراهیمه
چې غوښته یې له نجوم او له نسیمه
دلته ټول له یوه بله په عذاب دي
ګلشنونه د جنون د مرتبو هم
د غنچو په سَتایۍ کباب کباب دي

**سندره**

ناځوانه یاره ډېر مکار وختې
ته په سادوو کې تیلي دار وختې

تا خو کړې وې له ماسره وعدې
چې له سره به دې زار کړم زمانې
نن دې زه په درست وطن کړمه رسوا
او په حال مې لا زیاتي کوې خندا
د بازاري لستوڼي مار وختې
ته په سادوو کې تیلي دار وختې

تمامي جهان مې بد له نومه وړي
ښکلی مخ مې شو له غمه تېرسري
لاړې کېناستې رڼا ته د مَینا
زه دې پرېښودم نیمګړې نیمه خواه
یار مې ګڼلې خو غدار وختې
ته په سادوو کې تیلي دار وختې

ما وې ته به یې زما د زړه منصور
مګر ته له خپل عادته وې مجبور
ستا پشان به ګټه ناخلي له باور

شه بلا د غمازانو در په سر
ما وې گلشن به يې کهسار وختې
ته په سادوو کې تيلي دار وختې

**پنبې**

ما کړې جوړې ډېرې لارې

بېکرانه ځینې چارې

حوېلۍ مې د چرچونو

بتکدو درمسالونو

په بڼو باندې جارو کړې

د خپل غوږ ریحان مې کېښود

د محشر او تموز لمر ته

منزلونه مې بدل کړل

د جفا له هر مزله

د خپل بخت آئین مې مات کړو

د یعقوب د ځګر زخم مې ترې یووړ

هم مې داو د صحابه‌وو زمانه کړه

ستا له غمه په بازار د نجومیانو

هم مې خرڅه عقیده د وحدانیت کړه

په بې خونده سوداګر د ملحدانو

مګر ته په ځای د دې چې راته یاد شې

رانه ورک شوې رانه هېر شوې

ای زما په سر کې ناست مسته ایاغه

ستا د سترګو خیال ساتل تلوار ساتل دي

په آستین کې د موسی ښامار ساتل دي

ستا له مخه د منشا او وفا تمه

بنفشې په عداوت ګویا کول دي

عايشې په درغلۍ رسوا کول دي

او پنبې په سېلابونو ټوکول دي

## څه وکړم

څه وکړم څه وکړمه، له دې ژوندونه سره
له دې عذابه سره، له دې افسونه سره
څه وکړم څه وکړمه، مانه خو لار ورکه ده
هم آئینه راځینې، ستا د رخسار ورکه
په ما دا ځمکه اسمان، دومره راتنګ ولې شو
دا د رنګونو جهان، دومره بدرنګ ولې شو
ما خو هر څه وبایلل، ستا د جفا په ساحل
اوس خو مې پاتې ندي، د زندګۍ وسایل
هر څه نه لاړه مزه، هر یو منظر شو بدل
هم مې صورت بدل شو، هم مې نظر شو بدل
څه وکړم څه وکړمه، زړه جګر خونه سره
دې خود ازاره سره، دې سرنګونه سره

څه وکړم څه وکړمه، ماته خو چل نه راځي
رڼا مې کور ته د زړه، ستا د محل نه راځي
رانه خفه غوندې دي، ټول موسمونه د ژوند
هم ماښامونه د ژوند، هم چراغونه د ژوند
په هر کنډو ده راته، خپله ارواح ولاړه
خپله سایه ولاړه، خپله وفا ولاړه
زه یوې داسې بلا، د بې حسۍ وخوړم

چې نه چا وپوښتلم او نه چا ولیدلم
په هر فرات دې راته د زړه زخمونه ولاړ
په هر معراج دې راته سپین تابتونه ولاړ
څه وکړم څه وکړمه، له دې جنونه سره
له دې کړاوه سره، له دې لټونه سره

**دستور**

وطن د پښتنو درپورې اور شو کنه
زما له محبته دې زړه تور شو کنه

مانه درته ویل چې دا دنیا د تنگ‌نظرو
پوهېږي نه په تول د تورو خاورو او د زرو
لالیه خپل اخلاص درته پېغور شو کنه

کول به دې په څه د پښېمانۍ ساړه آهونه
په وخت دې که له ما ځینې اخیستي وو لاسونه
شوې مات په ختمېدو دې د زړه زور شو کنه

رنگونه د الفت دې د دستور موجونو یوړل
خوبونو د عظمت دې بهمني بادونو یوړل
ویران درنه زمـا د مخ انځـور شو کنه

یاري د ښایستونو ډېر ناکام او ضرور غواړي
هم سر د فرهاد غواړي هم مرۍ د منصور غواړي
د عشق داروالاوهام دې د زړه کور شو کنه

**عمل‌نامه**

ته که په دې پوهېدې
چې ژوندون څه ته وايي
د ژوند رنګونه څه دي؟
علامتونه څه دي؟
دا ژوند رايج ولې دی؟
په دې خاورينو ښکلو
دې خاکنشينو ښکلو
نو دا به ډېره ښه وه

ته که په دې پوهېدې
چې قتل عام د خلکو
تاخت او ليلام د خلکو
سر تورول د پېغلو
حلالول د پېغلو
د وطن شاړې دښتې
په ګاونډو خرڅول
د پلار نيکه هډونه
په ميکدو بدلول
د باتورانو کار دی
که د وحشيانو کار دی

نو دا به ډېره ښه وه

خو صد افسوس په تقدير
په انتظام او ازل
چې دا د کور مېړني
راسمولی نشي
سنبالولی نشي
دا بې رهبره قام به
کله انسان ومني؟
کله قران ومني
دا د مذهب په سنگر
لېونی شوی پښتون
نه نارواه پېژني
نه د ظلمونو حدود
رانگولی یې دی
د کایناتو جمود
عمل نامه به غواړي
لکه د عاد او ثمود

**رڼا**

دلته ډېر څه لیکل غواړي له دې ډېره اذیته
دا سکڼۍ سکڼۍ کافرې چې د اور د پاسه اوسي
د حواه په څېر بې قدرې د ادم له راسه اوسي
دلته ډېر څه ویل غواړي له دې توره سلطنته

دلته ډېر څه کتل غواړي په تیرو کې مصلحته
چې روان دي په موجونو لکه مست سمندرونه
د پېغلوکو په لاشونو خرمستي کا لښکرونه
په خپل حق پسې ړانده شو د غټانو سیاسته

دلته ډېر نزاکتونه د هاتېانو په غوایمنډ کې
خپل ښایست نه منکر شوي د فلک د زلفو څنډ کې
ځینې وینزې د بادار دي په سقر په کاله بندې
ځینې نورو فرعونیانو کړې د خپلې مستۍ رندې

دا د حق غوښتلو ژبې چا کړې غوڅې له دهانه
دا ملالې مهذبې ولې ویر کوي اسمانه
دا سماج د زرپرستو ولې ژاړې له داستانه
دا خازې د مېوندیو ولې سوزي خوراسانه

خلک هغه محل غواړي چې زما په وينو سور دی
چې زما د ذات زندان دی، چې زما د زړه ناسور دی
پټه خوله چې پکې اوسم د ظلمت له بابه لاندې
او کارونه د دنيا کړم له دې تور دريابه لاندې

زه په هره حواله يم د مينا او صراحۍ رنګ
خو تصوير د بې حسۍ مې ورانوي د زندګۍ رنګ
باډيوه د مابنامې يم اذيت لره پيدا يم
لېونو کې لېوني مباشرت لره پيدا يم

چا د سترګو په ککو کې رانه جوړ د ميو جام کړو
چا مې هيلې تېزندۍ کړې چا مې پت عزت ليلام کړو
هر که لور وم د مريمې هم کلامه د حوا وم
زه د دې دنيا مستي وم زه د دې دنيا رڼا وم

**وهمونه**

زه به درځم خو ته به سترګې رانه نه اړوې
ځکه چې دا ځل له رنګونو سره نه درځمه
دا ځل د ژوند له مشالونو سره نه درځمه
دا ځل له نورو امیدونو سره نه درځمه

زه به درځم خو ته به سترګې رانه نه اړوې
ځکه چې دا ځل مې غوښ کړي دي رګونه د زړه
دا ځل مې هجر نړولي دي برجونه د زړه
دا ځل مې پاتې نه دي هغه مجالونه د زړه

زه به درځم خو ته به سترګې رانه نه اړوې
ځکه چې دا ځل دې له سترګو نه حساب غواړمه
دا ځل تأخیر د خپل زړګي خانه خراب غواړمه
دا ځل یو داسې هلاکت داسې عناب غواړمه

زه به درځم خو ته به سترګې رانه نه اړوې
ځکه چې دا ځل به زما په نوم وهمونه درځي
دا ځل به کاڼي او په وینو سره لاسونه درځي
دا ځل به تاته شړل شوي ماښامونه درځي

**بگتۍ**

پرون دې وېلې چې سهار صبا به راشم
لمر په چنارو ولگېد، خو ته رانغلې

پرون دې وېلې چې بې تا مې څوک همدم نشته
د زړه لقمان مې بې لتا خورمه قسم نشته
چې اړولی خوۍ دې گورم په خندا شم

داسې مې یاد وې لکه ځان له ځیگر یاره
داسې مې هېر شوې لکه لمر د مازیگر یاره
لکه څه ورک په زړه راتلې په خوله رانغلې

ته رانه هم غواړې سندرې د لیلا او مجنون
ژوند رانه هم غواړي پورونه د خپل نن او پرون
زه په دې سوي زړه د چا چا مسیحا شم؟

درنه مې ونغاړله کډه د ستومانه ژوندون
نور تېرسري مې وو له زغمه دا عذاب او افسون
ته مې تپوس ته په جاله په پله رانغلې

خلک مې ټول پر حال خبر دي مگر نه وایي څه

چې شمائله د خپل زړه او ځګر نه وايي څه
زه له همدې شکمه ځان ته په خندا شم

**گلغوټۍ**

چې په سرور او په مستۍ راشي
زړه کې مې سود د نهالۍ راشي

دا د گلپاڼو په در رغښتې غوټۍ
په خاکنشینو سترگو ما غواړي
دا تصور د ماتې شوې رندۍ
خپلې همزولې په گنگاه غواړئ
د سلیمان په غره ولاړه کېږدئ
زما سپرلي زما خندا غواړي

شرابي سترگې په نیلۍ راشي
د پریزادو په سیالۍ

د خوبولي تقدیر لارو کې مې
د مهتابونو زنځیر وشرنگوي
د ارمانونو په دریا باندې مې
وائنو خوړلی تقدیر ونړوي
د پسرلي د زړه په تاب باندې مې
له نمه ډکې سترگې وځوروي

خندنی مخ لکه سپوږمۍ راشي
زما د بخت په سیاهۍ

پای